# د سوسیالیزم سیاسي اقتصاد

Ketabton.com

لیکوال: نیکولای کلیسوف
ژباړن: جانباز شرافت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سوسياليزم سياسي اقتصاد

**ليکوال: نيکولای کليسوف**

**ژباړن: جانباز شرافت**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب نوم: د سوسیالیزم سیاسي اقتصاد**

**لیکوال: نیکولای کلیسوف**

**ژباړن:   جانباز شرافت**

**ډیزاین چاري: هوبر سپنتا**

**د بریښنایي خپرولو نېټه: مارچ، ۲۰۲۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن سریزه

سیاسي اقتصاد، د بشري ټولني د تکامل په بیلابیلو پړاوونو کي، د تولید د قوانینو او مادي نعمتونو د ویش د څرنګوالي علم دی. سیاسي اقتصاد موږ ته راښیي، چي څنګه د تولید وسایل، تولیدي مناسبات رامنځته کوي او د هغو تولیدي مناسباتو له مخي، اقتصادي نظامونه او تاریخي پړاوونه منځته راځي او هر تاریخي پړاو او اقتصادي نظام بیا ځانته خپله مخبناء، سیاسي سیستم، باورونه، عقاید، فرهنګ، هنرونه او اخلاق پنځوي. د هر اقتصادي نظام، سیاسي اقتصاد موږ ته دا راښیي، چي په هغه نظام کي، په کومو اوزارو تولید کیږي، د تولید کوم مناسبات حاکم دي، د تولیداتو ویش څه ډول دی او څو ډوله ارزښتونه په اقتصادي دوران کي عمل کوي. د سیاسي اقتصاد علم موږ ته راښیي، چي د یو مشخص اقتصادي نظام اصلي ترکیب، جوړښت او ودانۍ څه ډول ده، په هغه کي متقابلي اړیکي څرنګه دي او کوم تړاوونه او تضادونه پکښې دي.

د سیاسي اقتصاد د علم بنسټونه، په اتلسمه او نوولسمه پیړۍ کي په برتانیې او فرانسې کي د ډیویډ ریکارډو، آډم سمیټ او نورو بورژوا اقتصاد پوهانو لخوا ایښودل سوي، وروسته د کارل مارکس لخوا په ډیر نوښتګر ډول، دا علم ته پراختیا ورکول سول. مارکس، د پانګوالي نظام د سیاسي اقتصاد له مطالعې او څیړني وروسته، په هغه کي سته تضادونه وموندل او د هغو تضادونو د ښتو او تکامل پایله، چي د یوې سوسیالیستي ټولني جوړیدل دي؛ یې وښودل.

زموږ په چاپیریال کي، د پانګوالۍ د سیاسي اقتصاد په اړه، ډیر کتابونه سته، خو داسي کتاب، چي د سوسیالیزم سیاسي اقتصاد تشریح کړي؛ ډیر لږ موندل کیږي او له سوسیالیزم څخه د خلګو ټوله پیژندنه تر دې پوري لنډه ده، چي سوسیالیستي اقتصاد یوازي د لوړپوړو دولتي چارواکو لخوا په جبر او استبداد د مرکزي اقتصادي پلانونو عملي کول دي. په بله خوا کي بیا ډیر کتابونه او رسنیز چینلونه سته، چي د خلګو د لږ او ناسم پوهاوي څخه په ګټي اخیستني، د سوسیالیزم په اړه کرکه، درواغ او افواهات خپروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کتاب ما (ژباړن) د یوې وراني سوي ودانۍ، د کتابونو په منځ کي موندلی او د هغه له مطالعې وروسته مي اړینه وګڼل، چي پښتو ژبي ته وژباړل سي، تر څو د پښتنو ځوانانو په منځ کي علمي، سیاسي او فلسفي روښانتیا لا زیاته خپره سي.

د کتاب یوه ځانګړنه که دا وي، چي په ډېر ساده ډول یې دا ښودلې، چي د سوسیالیستي ټولني اقتصادي بنسټونه کوم دي، حاکم مناسبات پکښې څه ډول دي، د تولید لړۍ او ویش څه ډول ترسره کیږي او د سوسیالیستي اقتصادي تګلورۍ ټولنیز ژوند پر کوم لوری بیایي؛ د هغه ترڅنګ یې د شلمي پېړۍ د سوسیالیستي هیوادونو اقتصادي ارقام او شمېرني هم را اخیستي، تر څو په عمل کي د تیورۍ واقعیتونه او عینیتونه هم وښودل سي.

ترڅنګ یې دا کتاب د سوسیالیزم په اړه د دوښمنانه او کرکجنو تبلیغاتو، لکه دا چي سوسیالیستي نظام یوازي د لوړپوړو حکومتي چارواکو لخوا د مرکزي پلان جوړوني اقتصاد دی، په سوسیالیزم کي ټول ملکیتونه یو کیږي، هر څه ټولنیز ګرځي او د انسان د فردي تکامل مخه نیسي؛ په اړه هم ښه سپیناوی لري او د هغو تبلیغاتو او درواغو د شنډولو وسیله هم ګرځي.

که د کتاب ځیني برخي لوستونکو ته پېچلي وي، اړینه داده، چي هغوی د دې کتاب ترڅنګ د مارکسیستي فلسفې نور پښتو ته ژباړل سوي کتابونه، په ځانګړي ډول، د کمونسټ ګوند مانوفیسټ، د مبارزې الفبا، د اکټوبر انقلاب، سټالین او د سوسیالیستي اقتصاد تجربه او نور ولولي، تر څو دوی ته د یو ټوله ائیز او کُلي لرلید په ورکولو کي مرسته ورسره وکړي.

په پای کي، ټولو زیار ایستونکو ته د هغوی په لیري او نژدې موخو کي، د مادي او معنوي بریالیتوبونو د هیلي په څرګندولو سره تاسي د کتاب لوستلو ته پرېږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال لنډه پېژندنه

نیکولای کلیسوف په ۱۹۲۵ کال کې، په یوې کروندګري کورنۍ کې زیږېدلی دی. په ۱۷ کلنۍ کې، په خپله خوښه د فاشیستانو پر وړاندې جګړې ته ولاړئ او په جګړې کې د خپلو وړتیاوو د ښودلو له کبله ورته انعامونه ورکول سوي. په ۱۹۴۴ کال کې د دوهم ځل لپاره ډېر زیات ټپي سو او تر رغېدو وروسته یې په یوه کالخوز کې، د عسلو مچیو د روزونکي په ډول کار پیل کړی. د ۱۹۴۵ کال له مني څخه، تر نن ورځې پورې یې د لنینګراډ په پوهنتون کې له زده کړیالۍ څخه نیولې، د یاد پوهنتون د سیاسي اقتصاد ډیپارټمنټ تر ریاست پورې مزل کړی. په دې موده کې یې ډېر آثار په اروپایي ژبو هم خپاره سوي دي. د اقتصادي علومو ډاکتر پروفیسور کلیسوف، د سیاسي اقتصاد په اړه، تر ۱۷۰ زیات علمي آثار کښلي دي. همدغسې پروفیسور کلیسوف، د سیاسي اقتصاد په برخه کې زرګونه کسان روزلي او ډاکترۍ درجې شاوخوا سل تزسونه دده تر کتني او لارښووني لاندي تکمیل سوي دي. د اقتصاد په علم کې د نوښتګر کار او زرګونه زده کونکو په روزني کې د کلیسوف د چوپړونو په پار، ده ته د شوروي اتحاد دولتي نښان «د ویاړ نښان» هم ورکول سوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړ


د سوسیالیزم سیاسي اقتصاد........................................................................................................................ ۱

۱ – ولي به خامخا پانگوالي په سوسیالیزم اوړي؟ ..................................................................................... ٤

۲ - آیا ځانته جلا ولسونه کولای سي، د پانگوالۍ له مزل پرته سوسیالیزم ته ولاړ سي؟............................................................. ٦

۳ – په اوښتوني پړاو کي، د سوسیالیستي سمونونو میتودونه او شکلونه کوم دي؟................................................................... ۸

۴ – پانگوالي خصوصي مالکیت څه ډول، په سوسیالیستي مالکیت اوړي؟ ................................................................................ ۱۰

۵ - کروندگر ځنگه د سوسیالیزم په لار کي گامونه ایږدي؟ ...................................................................................... ۱۲

٦ – سوسیالیستي ټولنه کوم پړاوونه تېروي؟............................................................................................................. ۱٤

۷ – د پرمختللي سوسیالیستي ټولني ځانگړني کومي دي؟.......................................................................................... ۱۷

**دوهم څپرکی،**.................................................................................................................................... ۲۱

**د سوسیالیزم اقتصادي سیستم**.............................................................................................................. ۲۱

۱ – له څه څخه، د سوسیالیزم اقتصادي بنسټونه جوړیږي؟ .......................................................................................... ۲۳

۲ – د سوسالیزم د اقتصادي قانون بنسټیز ماهیت څه دی؟ ......................................................................................... ۲۵

۳ – د تولید پر وسایلو باندي د سوسیالیستي مالکیت د شکلونو دوه گونی والی، کوم گډ ټکي او کوم توپیرونه لري؟ ................... ۲٦

۴ – په سوسیالیستي نظام کي کوم شیان د وگړو شخصي شتمني جوړولای سي؟........................................................................ ۲۹

۵ – ولي د سوسیالیستي اقتصاد پلان سوې وده شونې ده؟................................................................................................ ۳۱

۷ – د علم او ټکنالوجۍ د پرمختگ له اغېزو سره، د کارکونکو په ځانگړتیاوو کي کوم بدلونونه راځي؟ .................................... ۳۳

۸ –ټوله ائیز عام محصول له څه شي څخه جوړ دی او څه ډول منځته راځي؟ ............................................................................. ۳۵

۹ – د پانگونو اغیزمنتوب  په څه کي دی؟................................................................................................................... ۳۸

۱۰ – ملي عاید څه ډول ویشل کیږي؟.......................................................................................................................... ۳۹

۱۱ – د کار له مخي ویش په څه مانا دی؟....................................................................................................................... ٤۳

۱۲ – د کاري ورځي اوږدوالی څومره دی؟..................................................................................................................... ٤۵

۱۳ – په سوسیالیستي ټولني کي د فراغت له وختونو څخه څه ډول گټه اخیستل کیږي؟ ...................................................... ٤۷

**دریم څپرکی،** ......................................................................................................................................... ٤۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د سوسیالیستي ټولني اقتصادي سیستم او د هغه د تکامل تګلاري**......................................................................۴۹
۱ – د اقتصاد مرکزي پلان جوړونه، څه ډول د اقتصادي بنسټونو د ځانواکۍ سره يو ځای ده؟..................................................۵۰
۲ - په سوسیالیستي تولیدي موسساتو کي د کار مزد په څه ډول ورکول کیږي؟..................................................................۵۲
۳ – په مادي هڅوني کي انعامونه څه ونډه درلودلای سي؟........................................................................................۵۵
۴ – عام استهلاک حساب څه دی او څه ډول ګټه ورڅخه اخیستل کیږي؟..........................................................................۵۵
۵ – په کرنه کي، د کاري مزد ورکول څه ډول وي؟...............................................................................................۵۸
٦ – اقتصادي حسابونه څه ته وايي؟.................................................................................................................۵۹
۷ - د يوې موسسې عاید څه ډول کارېږي؟...........................................................................................................٦۰
۸ – وروستۍ بیه څه ته وايي او د توکو بیه په سوسیالیستي ټولني کي څه ډول ټاکل کیږي؟........................................................٦۳
۹ – د پرچون پلورني بیه څه ډول ټاکل کیږي؟ ......................................................................................................٦٤
۱۰ ـ د خلګو اصلي عايدات له څه څخه وي؟ .......................................................................................................٦٦
۱۱ – پیسې څه ونډه لري او کومي دندي ترسره کولای سي؟.......................................................................................٦۹
۱۲ – د پیسو دوران څه ډول پلان او تنظیمیږي؟......................................................................................................۷۱
۱۳ – مالي چاري څه ونډه لري؟.......................................................................................................................۷۳
۱۴ – کریډیټ ولي اړین دی او ونډه يې څه ده؟ ......................................................................................................۷۵
**وروستۍ خبري**..............................................................................................................................۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

د سوسیالیزم د ودانۍ ځوانو رغونکو
ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سوسیالیزم سیاسي اقتصاد

د پانګوالۍ او سوسیالیزم د سیاسي اقتصاد ترمنځ اصولي توپیرونه شته. دا توپیرونه، د پانګوالي او سوسیالیستي تولیدي مناسباتو د بنسټیزو توپیرونو څخه را پیدا سوي دي. سیاسي اقتصاد د سوسیالیزم د مادي او تخنیکي بنسټونو د ودي له لاري، د شکلونو، شرایطو او سوسیالیستي تولیداتو له پراختیا سره د کمونیزم مادي او تخنیکي بېخبنا ښیي. سیاسي اقتصاد، تولیدي مناسبات د خوځښت او د تولیدي عواملو له تکامل سره په اړیکه کي ښيي او د هغوی د اغیزمنتوب لوړېدل سره مطالعه کوي. **د مادي او تخنیکي بنسټونو تکامل له اقتصادي اړخه څېړل کېږي، چي دا چاره د پدیدو او اقتصادي پروسو د کمي او کیفي شرحي لپاره د ریاضي او احصایوي میتودونو څخه ګټي اخیستني ته اړتیا پیدا کوي.**

د سوسیالیزم د ودانۍ جوړښت اوږد تاریخي مزل غواړي. د بېلګي په ډول، په شوروي اتحاد کي سوسیالیستي انقلاب د ۱۹۱۷ کال په اکتوبر کي بریالی سو، خو د پرمختللي سوسیالیستي ټولني جوړول، په شپېتمه لسیزه کي ترسره سول. زموږ په وخت کي، په ځینو هیوادونو کي، د پرمختللي سوسیالیزم ودانۍ د رغولو په حال کي ده.

**سیاسي اقتصاد، د علومو د یوې څانګي په ډول، ددا جوړښت تجربې پخې کوي او په ټولو هیوادونو کي د ودي د بیلابیلو پړاوونو پر مهال، د هر هیواد ځانته جلا شرایطو ته په پام سره، موږ ته د سوسیالیزم د جوړولو عمومي قانونمندۍ راښیي.**

کمونستي ټولنه د خپل تکامل په پړاوونو کي دوه پړاوونه وهي، چي یو د سوسیالیزم او بل د کمونیزم دی. دواړه پړاوونه، د ګډو مناسباتو درلودونکي دي، خو هر یو یې ځانته د خپلو ځانته جلا مناسباتو لرونکي هم دي. د سوسیالیزم تر واکمنۍ لاندي، داسي تولیدي مناسبات حاکم وي، چي د عالي کمونستي ټولني په پړاو کي به نه وي (لکه د توکو – پیسو مناسبات، د کار په اندازه ویش او نور) له بلي خوا څخه د کمونستي مناسباتو پر مهال، داسي تولیدي مناسبات منځ ته راځي او وده کوي، چي په سوسیالیستي ټولني کي به نه وي. پر دې اساس سوسیالیزم او کمونیزم، د هغو توپیرونو سره – سره چي لري یې؛ بیا هم یوه ټولنه ده، خو د تکامل په دوو پړاوونو کي. د سوسیالیزم د سیاسي اقتصاد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم کي، هم د سوسیالیزم او کمونیزم مشترکي ځانګړني او هم د سوسیالیزم مشخصات راځي. سیاسي اقتصاد سوسیالیستي تولیدي مناسبات د هغوی د خوځښت پر مهال ښيي او په کمونستي مناسباتو باندي د هغوی د اوښتون تګلاري روښانوي. دا کتاب که څه هم د اقتصاد د علم ټولو سوالونو ته ځواب نه وايي، خو بیا هم هڅه پکښي سوې ده، چي د سوسیالیزم د سیاسي اقتصاد پر اصلي مسایلو باندي روڼا واچوي او دا کار يې په شوروي اتحاد (د نړۍ لومړنی هیواد چي پرمختللی سوسیالیزم پکښې حاکم سوی دی) کي د شته تولیدي مناسباتو او د هغو د ودي په مثالونو راوړلو سره کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی،

# د سوسیالیزم د اقتصادي سیستم

# پیدایښت او وده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱ – ولي به خامخا پانگوالي په سوسياليزم اوړي؟

۱ – د پانگوالي اقتصاد علم هڅه کوي، دا وښيي چې د پانگوالۍ اقتصاد نه له منځه تلونکی او تلپاتی دی. د دې سوال د سم ځواب لپاره باید هغه پروسې او پدیدې، چې د پانگوالي اقتصاد په دننه کي دي او وده کوي؛ تر څېړني لاندي ونیسو.

**مارکسیزم – لنینیزم موږ ته راښیي، چې په بلي ټولني باندي، د یوې ټولني اوښتون باید د خلگو په فکرونو، خیالونو او هیلو کي نه، بلکې د مادي تولیداتو په ودي او هغو اقتصادي قوانینو کي، چې دا تولیدات سمبالوي؛ وپلټو.**

۲ – د مادي نعمتونو د تولید هر تاریخي شکل دوه لوري لرونکي اړیکي راښیي، چې د خلگو او طبیعت او د خلگو ترمنځ خپلمنځي اړیکي (ټولنیزي اړیکي) دي. لومړی اړخ یې تولیدي ځواکونه دي، چې په هغه کي د تولید وسایل (د کار اوزار) او د کار وړ کسان راځي. که چیري تاسي په پورته جملي کي ژور سوچ وکړئ؛ په دې به پوه سئ، چې د تولید وسایل تر هغه مهاله چې انسان پر هغو اغېزه ونه کړي [د کار په واسطه یې د تولید لپاره پر کار وانه چوي -ژ] په هیڅ درد نه خوړل کېږي. پر دې اساس، زیار ایستونکي اصلي تولیدي ځواکونه دي.

۳ – د تولید د ډول دوهم اړخ، د خلگو ترمنځ تولیدي مناسبات جوړوي. تولیدي مناسبات، د نورو طبیعي پدیدو په ډول، په خپل لومړني شکل کي نه دي پاتي سوي، بلکې تل د ودي په حال کي وي او د هغوی وده د ټولني د تولیدي ځوکونو له ودي سره تړلي دي. د تولید د دواړو ډولونو متقابله اغېزه، د تولیدي مناساباتو د مطابقت د قانون په واسطه، د تولیدي ځواکونو د ودي له کچې سره ټاکل کېږي، چې دا قانون د کارل مارکس په وسیله کشف سوی دی. د دې قانون عیني ماهیت دادی، چې د هر تاریخي پړاو پر مهال، د تولیدي ځواکونو د تکامل سره باید د تولیدي مناسباتو ټاکل سوی شکل هم د هغه سره مطابقت ولري. که چیري دا مطابقت نه وي؛ د تولیدي ځواکونو وده د زړو سویو تولیدي مناسباتو له لاسه کرارېږي او وروسته درېږي. د دې قانون حکم همدا دی، چې پانگوالي به خامخا په سوسیالیزم بدلېږي.

**د شلمي پېړۍ په لومړیو کي، د پانگوالي هیوادونو تولیدي ځواکونه داسي کچې ته رسیدلي ول، چې د بې وزلۍ او ناداری څخه د خلگو د خلاصون او د ټولني د ټولو غړو د ورځ تر بلي زیاتېدونکي هوسایني لپاره یې زمینه رامنځته کړې وه. تولیدي ځواکونو عام خصلت خپل کړی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وو، څکه د تولیداتو د بېلو - بېلو څانګو چې لسګونه ملیونه انسانانو کار پکښې کوئ؛ د پام وړ کچې ته زیات سوی وو، خو د تولید وسایل او د ټولنیز کار محصول د پانګوالو په خصوصي مالکیت کې وو.**

د پانګوالۍ دا اساسي تضاد د دې لامل سو، چې تولیدات له دایمي کړکېچونو سره مخ سي. د بیو او بیکارۍ زیاتیدونکې کچه، چې تر ډېره یې ناسپین پوستي، ځوانان او نوي نسلونه ځپل؛ د پانګوالي د اقتصاد سره یو ځای ول. صنعتي جاسوسۍ او د خامو موادو او تولیداتو د بازارونو د خپلولو لپاره ګواښونکي سیالۍ د پانګوالۍ ځانګړني سوې او د وسله والو جګړو او امپریالیستي هیوادونو له لوري د پردیو هیوادونو د نیول کېدلو لامل سول.

د پانګوالو ډیوالي کیدل، د ملیونونو انسانانو بې رحمه ځبېښاک او د بیلابیلو ډولونو فسادونو او جنایتونو وده، د پانګوالي اقتصادي سیستم بدوالی لا ورپسې زیاتوی. د دغو ټولو تضادونو له منځه وړل یوازې د سوسیالیستي اقتصادي مناسباتو د را منځته کولو سره شوني دي.

۴ - پانګوالو، چې کلونه - کلونه یې د هغو محصولاتو زیاته اندازه برخه، چې د کارګرانو د زیار په وسیله تولید سوې وه، ځانته اخیستل؛ ځانته یې ډېري شتمنۍ موندلي دي. هغوی هغه لومړنۍ پانګه، چې د هغه پر بنسټ عصري صنعتي فابریکې او نني کرنیز فارمونه جوړ سول، ډېره موده وړاندي خپل کړي دي. ټول هغه څه چې دوی خپل کړي دي؛ باید د هغو کسانو سي، چې دا ټول ماشینونه، اوزار او محصولات یې د خپل زیار په واسطه تولید کړي. پر دې اساس، په ۱۹۱۷ کال کې د اکتوبر انقلاب، نه یوازې د سوسیالیزم پر لور د بشر رهبري کونکی دی، بلکې د عالي عدالت د حاکمیت سبب هم ګرځي.

۵ - د اکتوبر د انقلاب او دوهمي نړیوالي جګړې وروسته، اروپایي، آسیایي او امریکایي هیوادونه د سوسیالیزم پر خوا ولاړل او دا مهال سوسیالیزم د نړۍ پر ۱/۳ برخه حاکم دی. خو سوسیالیزم ته د هر هیواد د تګ شرایط جلا دي. هماغسي چې و. ا. لنین ویلي: «ټول ملتونه سوسیالیزم ته رسېږي، خو ټول په یوه شکل تر سوسیالیزم پوري نه سي تللای. هر ملت د ډموکراسۍ یو یا بل شکل، د پرولتاریا د دکتاتورۍ دا یا هغه شکل او د اوښتون د چټکوالي له کچې سره، سوسیالیزم ته د رسېدلو په لار کې تنوع او بیلابیلوالی رامنځته کوي.» د لنینددا خبري ښه مصداق د سوسیالیستي هیوادونو سیاسي تاریخ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲ - آیا ځانته جلا ولسونه کولای سي، د پانګوالۍ له مزل پرته سوسیالیزم ته ولاړ سي؟

۱ – دې سوال ته لنډ ځواب داسي دی: هو، کولای سي! اوس به وګورو، چي زموږ د تائید بنسټونه څه دي؟

۲ – سوسیالیزم ته اوښتون په بیلابیلو تاریخي شرایطو کي ترسره کیږي. که څه هم د نړۍ په ځینو هیوادونو کي په لوړه کچه د پانګوالۍ مناسبات سته، خو د نړۍ په ډیرو هیوادونو کي بیا پانګوالۍ تراوسه هیڅ وده نه ده کړې، یا یې لږ وده کړې ده. آیا د یادو هیوادونو ولسونه کولای سي، سیده سوسیالیزم ته ولاړ سي؟ یا لومړی باید د پانګوالۍ پړاو تېر کړي او بیا سوسیالیزم ته ولاړ سي؟

۳ – پانګوالي، د یو ځانګړي اقتصادي او ټولنیز نظام په ډول، د انساني ټولني د تکامل په لړ کي یو اړین پړاو دی، خو دا په دې مانا نه ده، چي ټول هیوادونه لومړی باید د دې نظام خوند وګوري او بیا د سوسیالیزم خواته ولاړ سي. نن ورځ د ځمکي پر مخ داسي هیوادونه سته، چي د سوسیالیزم ودانۍ یې جوړه کړې ده، خو داسي هیوادونه بیا هم سته چي لاتراوسه هلته فیوډالي او قبیلوي مناسبات حاکم دي. د وروسته پاته هیوادونو لپاره د غیرپانګوالۍ لار، یا د سوسیالیستي لوري نیولو لار، سوسیالیزم ته لار باسي. سوسیالیستي لوری نیول، د یو هیواد د ودي داسي لار ده، چي هلته د پانګوالۍ مناسبات یا بیخي نه وي او یا د ډموکراتیکو اصلاحاتو پر مهال د ملي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره ایستل سوې وي. سوسیالیستي لوري نیولو ته، سوسیالیستي لار نه سو ویلای، خو دا لار سوسیالیستي اوښتونونو ته لار پرانیزي. پر دې بنسټ، سوسیالیستي لوری نیول، په راتلونکي کي یو هیواد د سوسیالیزم د جوړولو خواته بیایي.

۴ – د امپریالیزم د کمزورۍ په شرایطو کي، هر هیواد پرته له دې چي د ودي په کوم حالت کي دی؛ کولای سي د سوسیالیزم خواته ولاړ سي. دا چاره، د ټولنیزو او اقتصادي بدلونونو د منځ ته راوړلو لامل کیږي، **پر دې بنسټ اړینه ده، چي په هر هیواد کي د سوسیالیزم د ودي او حاکمیت عمومي قانونمندۍ او تاریخي ځانګړتیاوي په پام کي ونیول سي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ – تجربو ښودلې، چې د کمونستانو له واک ته رسيدو وروسته، يو هيواد کولای سي. د ټولنيز او اقتصادي تکامل د يوه يا څو پړاوونو تېرولو پرته، سيده د سوسياليزم خواته ولاړ سي. د علمي کمونيزم بنسټ ايښودونکو، د سوسياليزم پر لور د ځينو هيوادونو د لنډې لاري په اړه، علمي استدلال کړی دی او هم يې د سوسياليستي لوري نيولو پر خوا، د هيوادونو د ودې عمومي قانونمندۍ ښودلي دي.

٦ – د دې لنډې لاري لومړنی حتمي شرط په يوه يا څو صنعتي هيوادونو کې، د سوسياليستي انقلاب بريا ده. انگلز په دې اړه ليکلي: «کله چې وروسته پاته هيوادونه وگوري، چې څه ډول کولای سو د ننني صنايعو توليدي ځواکونه د عامي شتمنۍ په ډول، د ټولې ټولنې په چوپړ کې د يو کُل په توگه پر کار واچوو؛ يوازې هغه مهال وروسته پاته هيوادونه کولای سي د ودې دا لنډې لاري ته مخه کړي.» انگلز، دې ټکي ته هم اشاره کوي، چې د داسې لاري شونتيا د ټولو هغو هيوادونو لپاره ده، چې د پانگوالۍ څخه وړاندې پړاو کې دي.

٧ – د وروسته پاته هيوادونو په واسطه، د سوسياليزم د جوړولو تاريخي تجربو د يادو څرگندونو پخلی کړی دی. په شوروي اتحاد، منځنۍ آسيا او نوري نړۍ کې ډېر هيوادونه د پانگوالۍ د پړاو له تېرولو پرته سوسياليزم ته رسيدلي دي. دغه راز، د سايبريا او ليرې ختيځ ځيني ولسونو د لومړني کمون نظام څخه سيده سوسياليزم ته تللي. هغو ولسونو، د نورو وړونو سوسياليستي هيوادونو په همکارۍ، د سوسياليزم کلک مادي او تخنيکي بنسټونه ايښي او د هغو مطابق توليدي مناسبات يې رامنځته کړي دي.

د بېلگي په ډول، د مغولستان د خلگو جمهوريت د پانگوالۍ دورې تېرولو پرته، له فيوډاليزم څخه سوسياليزم ته ولاړی. د مغولستان خلگو د توليدي ځواکونو د لا زيات پرمختگ او ټولنيزو او اقتصادي سمونونو په راوستلو سره، فيوډالي مناسبات په سوسياليستي مناسباتو بدل کړي دي. په دې ډول، مغولستان په څلورو لسيزو کې د سلگونو کلونو لار وهلې ده.

٨ – د سوسياليستي هيوادونو د منځته راتلو سره، سوسياليزم ته د نورو هيوادونو د اوښتون چاره هم آسانه کيږي. د وروسته پاته اقتصادونو درلودونکي هيوادونه کولای سي، د سوسياليستي هيوادونو له ارزښتناکو تجربو څخه گټه واخلي، توليدي ځواکونو ته وده ورکړي او د استعمار د دوران وروسته پاته توب له منځه يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ – سوسیالیزم ته اوښتون په بیلابیلو شکلونو کي ترسره کیږي. هر هیواد خپلي ملي او تاریخي ځانګړني لري، چي د تولیدي ځواکونو د ودي او تولیدي مناسباتو د څرنګوالي په واسطه ټاکل کیږي.

**۱۰ – یوازي سوسیالیزم کولای سي د تولیداتو چټکه او سیده وده را منځته کړي، د زیار ایستونکو ورځ تر بلي زیاتیدونکي مادي او فرهنګي اړتیاوي ورپوره کړي او بشریت د هغو بې حسابه رنځونو څخه، چي پانګوالۍ ور په برخه کړي دي؛ وساتي.**

## ۳ – په اوښتوني پړاو کي، د سوسیالیستي سمونونو میتودونه او شکلونه کوم دي؟

**۱ – د سوسیالیزم د ودانۍ بریاوي، تر ډیره، په دې پوري اړه لري، چي په یادو هیوادونو کي د اوښتون کوم شکلونه، میتودونه او کچي کارېږي؟ د نورو سوسیالیستي هیوادونو د تجربو ته پام نه کول د دې لامل کېږي، چي د سوسیالیزم د ودانۍ عمومي قانونمندۍ تر پښو لاندي سي او د میتودونو په ټاکلو کي تېروتني وسي. پر دې بنسټ، هم د خپل هیواد د ځانګړتیاوو په پام کي نه نیول او هم د نورو هیوادونو ړوند تقلید؛ دواړه زیانمنونکي دي.**

۲ – د سوسیالیزم د ودانۍ د جوړولو یو ډېر اړین قانون، د اړوند هیواد د اقتصادي ودي کچه ده. له هغه ځایه، چي پانګوالي په ټولو هیوادونو کي په یوه کچه وده نه کوي او هر هیواد په خپله کچه پرمختګ کوي؛ نو د نورو هیوادونو سره یې د ودي په کچه کي توپیر هم وي. دا کچه پر سوسیالیستي سمونونو باندي ډیره اغېزه کوي. د یوه هیواد د اقتصادي ودي کچه، په وروستي تحلیل کي د هغه هیواد د تولیدي ځواکونو د کچي له مخي ټاکل کیږي. په هغو هیوادونو کي چي تولیدي ځواکونو وده نه وي کړې؛ له پانګوالۍ څخه مخکي مناسبات هلته حاکم دي، دا مناسبات د تولیدي ځواکونو وده کراروي او د زیار ایستونکو لاس ته د دولتي ځواک د لویدلو سره د سوسیالیستي سمونونو مخته وړل، له ستونزو سره مخ کوي. په داسي هیوادونو کي، سوسیالیزم ته اوښتون په اقتصاد، سیاست، ایډیالوژۍ، فرهنګ او ټولنیزو ژوندانه په نورو برخو کي، ډېر ژور او بنسټیز بدلونونه غواړي.[1] په داسي هیوادونو کي د تولیدي ځواکونو او تولیدي مناسباتو د مطلوب حالت او موجود حالت ترمنځ واټن خورا ډېر

[1]- زموږ ګران هیواد افغانستان هم د شدید تاریخي وروسته پاته توب، استعمارونو او نورو عواملو له کبله په ورته حالت کي دی او د سوسیالیزم ودانۍ جوړولو لپاره په پاکو لاسونو، ګرم زړه او سړو ماغزو ډیر ژور، دقیق، سنجېدلی او له هوډ او ځیرکتیا سره مل کار او زیار غواړي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، خو په پرمختللو پانګوالي هیوادونو کي د تولیدي ځواکونو زیاته وده د سوسیالیستي سمونونو چاره آسانه کوي.

**۳ – د نړۍ د لومړني سوسیالیستي دولت جوړونکي و. ا . لنین وړاندوینه کړې وه، چي که څه هم په پرمختللو ټولنو کي د سوسیالیستي انقلاب پیل به، نسبت وروسته پاته هیوادونو ته ستونزمن وي، خو د سوسیالیزم د ودانۍ جوړول بیا پکښې آسانه دي. د اقتصاد د ودي لوړه کچه له دې سببه د سوسیالیزم د ودانۍ جوړول آسانوي، چي پیاوړې مادي بېخبناء له وړاندي را منځته شوې او خلګ د ماشیني تولیداتو سره بلد وي. ورسره هممهاله پراختیا موندلې پانګوالي، په ټولنه کي د سوسیالیستي سمونونو رامنځته کول پیچلي کوي. د خصوصي مالکیت د تفکر ډول چي بورژوازي یې تبلیغوي؛ د خلګو په اذهانو او فکرونو کي ډیري ریښې کړي وي. نو پر دې بنسټ، که د سوسیالیستي سمونونو لپاره یوازي د تولیدي ځواکونو د ودي کچه په پام کي نیسو؛ بیا به مو هم تېروتنه کړې وي.**

**۴ – همدارنګه د سمونونو د چټکتیا د کچي په ټاکلو کي بیلابیل عوامل اغېزه کوي. هر ډول بېړه، بېځایه تلوار او د سمبالولو له هغو شکلونو څخه ګټه اخیستنه، چي د هغو شرایط لا تراوسه برابر سوي نه وي؛ نه یوازي دا چي په ټولنه کي سوسیالیستي اوښتونونه نه چټکوي؛ بلکې د هغوی کراریدلو لامل ګرځي. په ځانګړي ډول، عام اقتصاد ته د کوچنیو خصوصي ملکیتونو په ادغامولو کي بېړه، د سوسیالیزم ودانۍ ته خورا ډېر زیان رسوي.**

۵ – د سوسیالیستي بدلونونو د سم شکل او همغږۍ د ټاکلو لپاره باید د دغو دوو عواملو ترمنځ نه شلېدونکې اړیکه په پام کي ونیول سي. د شکلونو او کړنلارو سمه ټاکنه د سوسیالیزم د ودانۍ د جوړولو کچه چټکوي او ناسمه ټاکنه بیا په لار کي ستونزي جوړوي. د بېلګي په ډول، که هر مهال په کرنه کي، سوسیالیستي سمونونه د تولید د وسایلو د اشتراکي کولو د مخکیني شکلونو څخه له ګټي اخیستني (د ځمکي د یوځایي کرني لپاره رضاکاره خلګ، د کاري تعاون ډلي او نور) پرته پیل سي، دا چاره ډیر کروندګر له اشتراکي اقتصاد څخه لیري کوي، د سوسیالیستي بدلونونو کچه کراروي او د سوسیالیزم د ودانۍ جوړولو لپاره لا زیات وخت ته اړتیا پیدا کوي.

۶ – له پانګوالۍ څخه سوسیالیزم ته د اوښتون موده، یوازي د یو هیواد د اقتصادي ودي د کچي له مخي نه ټاکل کیږي، بلکې ډېرو نورو سیاسي، تاریخي او نړیوالو عواملو سره هم تړلي دي. د بېلګي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول، په شوروي اتحاد کي د خلګو د حاکميت له ټينګيدو څخه بيا د کرنيزو توليداتو تر کوپراتيفي کولو پوري ۱۷ کلونه تېر سول، په داسي حال کي چي په مغولستان کي يې بيا ۳۸ کاله وخت ونيوئ، خو په نورو سوسياليستي هيوادونو کي بيا دا موده لږ ول، لکه په بلغاريا کي يې ۱۴ کاله، د آلمان په ډموکراټيک جمهوريت کي ۱۱ کاله، په چکوسلواکيا کي ۱۲ کاله او د کوريا د خلګو په ډموکراټيک جمهوريت کي يې ۱۳ کاله ونيول. تاسي پام وکړئ، چي دا زماني توپيرونه څومره ډير دي.
۷ – بايد يادونه وکړو، چي په نورو هيوادونو کي د سوسياليزم بريا، له پانګوالۍ څخه سوسياليزم ته د وروسته پاته يا ګاونډيو هيوادونو د اوښتون موده هم را کموي. اټکل سته، چي په راتلونکي کي سوسياليزم ته تلونکي نور هيوادونه به لا نوري بيلابيلي او ډول – ډول تګلاري او ميتودونه وکاروي او د سوسياليزم د ودانی په جوړولو کي به بيلابيل والی راولي.

## ۴ – پانګوالي خصوصي مالکيت څه ډول، په سوسياليستي مالکيت اوړي؟

۱ – په سوسياليستي مالکيت باندي د پانګوالي مالکيت اړول، د زيارايستونکو د سياسي واکمنۍ له ټينګېدو سره منځته راتلای سي. دا چاره، د عام مالکيت د رامنځته کولو لپاره تر ټولو اړين شرط دی.
۲ – هماغسي چي د زيارايستونکو لپاره د سياسي واک اخيستلو لاري – چاري بيلابېلي دي، هماغسي په ټولنيز مالکيت باندي د خصوصي مالکيت اړولو شکلونه او تګلاري هم جلا دي. دلته به د توليد د وسايلو د ټولنيز کولو عمومي قانونمندۍ او اصول وڅيړو، چي د ټولو سوسياليزم جوړونکو هيوادونو لپاره اړين دي.
**۳ – د طبقاتي ځواکونو تناسب، اقتصادي وضعيت او د زيارايستونکو د واکمنۍ له لوري، د انقلابي ګامونو د اخيستلو پر وړاندي، د پانګوالۍ د غبرګون څرنګوالی په دې برخه کي تر ټولو اغيزناک دي. که پانګوال د انقلابي تدابيرو پر وړاندي ټينګ مقاومت کوي، هغه مهال زيار ايستونکي اړ دي، د توليد وسايل په تلوار سره ملي کړي او دا کار د مالکيت د ضبطولو شکل ځانته اخلي، خو که د پانګوالۍ مقاومت شديد نه وو، هغه مهال د ملي کولو لړۍ بايد په کراري سره مخته ولاړه سي. په ځانګړو تاريخي شرايطو کي، چي ملي پانګوالي، د امپرياليزم پر وړاندي مبارزې کي له ډموکراټيکي جبهې سره يو ځای کيږي، د دې شونتيا رامنځته کيږي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چي پانګوالي مالکيت بايد په پراويز ډول او د دولتي پانګوالۍ په مرسته، په سوسياليستي مالکيت باندي بدل سي. په دې شرايطو کي اړينه ده، چي توليدي موسسې، ټرانسپورټ او د توليد نور وسايل، سوسياليستي دولت له پانګوالو څخه رانيسي.**

۴ – دا ټکی بايد هېر نه کړو، چي د پانګوالۍ شتمنۍ يو ډول نه دي، بلکې په بيلابېلو شکلونو کي، لکه دولتي مالکيت، انحصاري – دولتي مالکيت، انحصاري مالکيت او د توليد پر وسايلو باندي لوی او منځنی خصوصي مالکيت په شکلونو کي سته. زيار ايستونکي د ملي کولو پر مهال هر شکل ته په جلا ډول سره پام کوي. د بېلګي په ډول، که د دولتي انحصاراتو او کوچنۍ پانګوالۍ، د مالکيت د خصوصي کولو پرمهال يو ډول ميتودونو څخه ګټه واخيستل سي؛ تېروتنه به وي.

۵ – د پانګوالۍ بيلابيلي موسسې، د توليداتو د تمرکز له اړخه يو له بله جلا دي. د سوسياليستي مالکيت د جوړولو پر مهال دا توپيرونو ته بايد پام وسي. د بېلګي په ډول، د پانګوالۍ په کوچنيو موسساتو کي چي د کارګرانو شمېر يې ډېر نه دی؛ په ځانګړي ډول بيا په هغو ځانګو کي چي د توليداتو زياته برخه په هغو کوچنيو موسسو کي توليد کيږي، د ملي کولو د لړۍ پر مهال تلوار او بېړه، د توليدي ځواکونو د ودي کچه کرارولای سي. حتی په ځيني مواردو کي، چي په هيواد کي دننه او په نړيواله کچه د طبقاتي ځواکونو تناسب سم نه وي؛ دا ډول بېړه کولای سي، د زيار ايستونکو سياسي برياوي هم له منځه يوسي.

**٦ – له خصوصي توليدي موسسو څخه، د سوسياليزم د ودانۍ لپاره ګټي اخيستني کي، لومړی پړاو کېدلای سي، کارګري کنټرول وي. کارګري کنټرول د پانګوالۍ فعاليت داسي تنظيموي، چي توليدات تر ډېره پوري د زيار ايستونکو د ګټو تابع سي. د پانګوالي موسسو زيار ايستونکي د کارګري کنټرول په واسطه، د کار د مولديت د زياتولي، توليداتو د تکامل، د محصولاتو د بيي د ټيټوالي او نورو کارونو لپاره هڅه کوي. کارګري کنټرول په ټولو هغو هيوادونو کي، چي د سوسياليزم لار يې په مخه کړې وي؛ په لږ و ډېره کچه حاکم کيږي.**

**۷ – له پانګوالۍ څخه سوسياليزم ته د اوښتون تر ټولو مهم شکل، چي په ټولو هغو هيوادونو کي، چي له پانګوالۍ څخه سوسياليزم ته تللي دي؛ دود هم دی، د «دولتي پانګوالۍ» اقتصادي سيستم دی. دا سيستم د توليد پر وسايلو د دوه ډوله مالکيت رامنځته کونکی دی، هم عام دولتي مالکيت او هم خصوصي پانګوالي مالکيت. سوسياليزم ته د اوښتون په انتقالي پړاو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کي، د دولتي پانگوالۍ سیستم، د پانگوالي اقتصاد عناصر (چي فعالیت ته یې په هیواد کي اجازه ورکول کېږي) د سوسیالیزم په گټه تنظیم او کنټرولوي او له هغه څخه گټه اخلي. د دولتي پانگوالۍ په سیستم کي د و . ا . لنین له قوله: «داسي اقتصادي سیاست عملي کیږي، چي پانگوالي ونه سي کړای، له هغه چوکاټ او شرایطو څخه چي پرولتاریا ورته ټاکلي دي؛ پښه واړوي.»**[۲]

۸ – د اروپا په سوسیالیستي هیوادونو کي د ملي کولو لړۍ، د لویو انحصاري ملکیتونو د سوسیالیستي کولو سره پیل سول، چي د نازیانو سره یې فعاله همکاري کړې وه. د لویو انحصاري ملکیتونو د ملي کولو په لړ کي هغوی ته هیڅ ډول جبران ورنه کول سو.

۹ – د منځنۍ پانگوالۍ د ملکیتونو د ملي کولو پر مهال، د دولتي قوانینو سره سم باید د هغه ټوله بیه یا یوه برخه یې مالکینو ته ورکول سي. په ډېرو اروپایي سوسیالیستي هیوادونو لکه بلغاریا، چکسلواکیا، پولنډ او آلمان په ډموکراټیک جمهوریت کي، پانگوالي موسسې په داسي ډول ملي سولې، چي پخوانیو خاوندانو ته یې د دولتي پورونو پاڼي ورکول سوې. د پورونو د پاڼو په ورکولو سره پخوانیو خاوندانو ته یې په کلني ډول د موسسې د ټولي بیې څخه ٪۳ - ٪۶ ورکول کیدلې. کېدلای سوای، د پور پاڼي په میراث پاتي سي، خو خاوندانو یې پر بل چا باندي خرڅولای نسوای. داسي څوک ول هم نه، چي دا پاڼي رانیسي.

**۱۰ – د سوسیالیستي مالکیت رامنځته کول یوازي د لویو ځمکوالو او پانگوالو څخه د مالکیت ضبطول نه دي. دا گامونه یوازي لومړني پړاوونه دي او د هغه په دوام د تولید هغه وسایل، چي د زیار ایستونکو لاس ته لویدلي دي، د لا ښې ودي او تکامل لپاره، د ملي اقتصاد د پلان سوي تنظیم سره پر کار اچول کیږي. دا ټولي دندي ډېر دقیق او نه ستړی کېدونکي زیار غواړي.**

## ۵ - کروندگر څنگه د سوسیالیزم په لار کي گامونه ایږدي؟

[۲]- په دې اړوند، زموږ په عصر کي تر ټولو ښې بیلگې د چین او ویتنام د خلقي جمهوریتونو دي. دغو دواړو هیوادونو، د کمونستو گوندونو تر حاکمیت لاندي، سوسیالیزم ته په اوښتوني پړاو کي، د پانگوالۍ عناصر په ډېر بریالیتوب سره، د فیوډالي وروسته پاته توب د له منځه وړلو او سوسیالیزم د ودانۍ جوړولو لپاره، د اړیني تخنیکي ودي او تولیدي ځواکونو د تکامل په موخه پر کار اچولي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا موضوع د سوسیالیزم د ودانۍ د جوړولو ډېر پېچلی کار دی.

۱ – په ډېرو هیوادونو کي د کروندګرو طبقه د پام وړ شمېر، یا تر ټولو ډېر کار ځواک جوړوي. د کارګري طبقې په پلویتوب باندي له کروندګري طبقې سره د یووالي پرته، د سوسیالیزم بریا ناشونې ده. پر دې اساس، په هر هیواد کي د سوسیالیزم بریا په دې پوري تړلې ده، چي کوم شمېر کروندګر د سوسیالیزم له پروسې سره یو ځای سوي دي.

۲ – د سوسیالیزم پر لور د کروندګرو لار، د کارګرانو د لاري په نسبت توپیر کوي. علت یې هم دادی، چي د پانګوالي مناسباتو په حاکمیت کي، د کروندګرو اقتصادي او سیاسي حالت د کارګرانو په نسبت توپیر کوي. کروندګر، د کوچنیو خصوصي ملکیتونو درلودونکي دي، خو مالکیت یې بیا پر خپل شخصي کار او زیار ولاړ دی. پر دې اساس، د کروندګرو کوچنی خصوصي مالکیت نه سو کولای، د پانګوالو د مالکیت په ډول ضبط کړو. سوسیالیستي مالکیت ته، د خصوصي کروندګرو د مالکیت اړول، یوه اوږده لړۍ ده، چي یو شمېر اوښتونکي ګامونه غواړي. و . ا . لنین ویلي وه: «د کوچنیو بزګري اقتصادونو څخه نه سو کولای، یوه پلا لویه کرنیزه موسسه جوړه کړو. ناشونې ده، هغه کرنیزي چاري، چي تراوسه په نامنظم ډول سرته رسیدلې، یوه پلا عام او اشتراکي وګرځي او ځانته د لویو تولیداتو شکل واخلي.»

۴ – د سوسیالیزم ودانۍ ته د کروندګرو د خپلولو اصلي ځانګړنه په دې کي ده، چي دوی د تولید شخصي وسایل په خپله خوښه، د یوځایي تولید موسساتو ته وروړي، خو د دغو موسساتو سره د دوی په خپله خوښه یو ځای کیدل په دې مانا نه دي، چي ګواکي کروندګرو د سوسیالیزم لار په مخه کړې ده. د بېلګي په ډول، په شوروي اتحاد کي سوسیالیستي دولت، د هغو نویو تاسیس سویو موسساتو څخه چي «کالخوز» نومیدل، هر اړخیز مالي، کریډیټي، تخنیکي او سازماني ملاتړ کوي، چي دا چاره د کالخوزي نظام د ټینګیدلو سبب کېږي.

۵ – د کروندګرو پخوانی فکري ډول، چي غواړي پر خپلو وسایلو باندي په خپلو ځمکو کي کار وکړي، د دې خنډ ګرځي، چي د کرني اشتراکي کولو ته مخه کړي. ملګری و . ا . لنین په دې اړه یادونه کوي: « په تلوار او د بهرني حکمونو او فرمانونو سره د کرنیز اقتصاد بدلول، ډېر بېځایه فکر دی... د کروندګرو ملیوني ملکیتونو تر اغیزې لاندي راوستل، یوازي په پراویز ډول، په ډېر احتیاط او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بریالیو موډلونو په وړاندي کولو سره شوني دي، ځکه کروندګر ډېر ربتیا لیدونکي او د پخوانیو ځمکنیو اقتصادونو سره تړلي دي او یوازي د توصیو او لاربنوونو سره، د اړینو بدلونونو راوستلو ته زړه نه ښه کوي.»

**پر دې بنسټ کروندګر یوازي په پړاویز ډول، د تولیداتو په کوپراتیفي کولو سره، د رضاکارۍ له اصل سره یو ځای، په دې شرط چي خپلي مادي ګټي هم پکښې ویني؛ د سوسیالیزم خواته د اوښتون پر لار ګام ایږدي.**

٦ – د کروندګرو اړوند دا حللاره په ټولو سوسیالیستي هیوادونو کي تر سترګو کیږي. په هغو ځایونو کي کرنیز اقتصادونه په خپله خوښه، له کوپراتیفونو سره یو ځای سوي دي. دولتي کرنیز موسسات یوازي په هغه ځای کي جوړیږي، چي هلته د کروندګرو کوچني مالکیتونه او ځمکي نه وي او د داسي موسساتو جوړول د کروندګرو د اقتصادي زیان لامل نه سي، **خو د کوپراتیفي کولو لړۍ هم په هر هیواد کي ځانته جلا شکلونه او میتودونه لري، چي د اړوند هیواد د تاریخي، ملي او فرهنګي ځانګړتیاوو څخه سرچینه اخلي.**[٣]

## ٦ – سوسیالیستي ټولنه کوم پړاوونه تېروي؟

١ – سوسیالیزم، چي د کمونستي ټولني لومړی پړاو دی؛ اوږد تاریخي مزل غواړي. په دا موده کي سوسیالیزم ځانګړي ټولنیزي، اقتصادي او تاریخي دندي ترسره کوي، چي د کمونستي ټولني د جوړولو لپاره ور سپارل سوي دي. په شوروي اتحاد کي، د اکتوبر د سوسیالیستي انقلاب له بریا سره د سوسیالیزم د ودانۍ جوړول پیل سول، چي د دېرشمي لسیزي په پیل کي یې عمومي سوسیالیستي ټولنه رامنځته کړای سوه.

[٣] - د کرني د کوپراتیفي کولو، تعاوني کولو او اشتراکي کولو څخه غایي موخه داده، چي لوی کرنیز واحدونه رامنځته سي او په هغو کرنیزو واحدونو کي د عالي تخنیک او ماشینرۍ څخه په ګټې اخیستني، کرنیز تولیدات په کمي او کیفي ډول تکامل وکړي او د کروندګرو د ژوندانه او هوسایني کچه لوړه سي. په کوچنیو ځمکنیو ملکیتونو کي، له کرنیز تخنیک څخه ګټه اخیستنه او د تولیداتو د زیاتوالي سره د کروندګرو د ژوندانه ښه کېدل هغومره اقتصادي او تولیدي ګټورتوب او اغیزمنتوب نه لري. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – د سوسیالیزم د ودانۍ د جوړولو په اړه، یو شمېر داسي پوښتني کېږي، چي څه وخت پوهېدلای سو، نور په یو هیواد کي، د سوسیالیستي ټولني ودانۍ جوړه سوې ده؟ یا د پانګوالۍ څخه سوسیالیزم ته اوښتون څومره موده غواړي؟ ولي موږ وایو، چي په دې هیواد کي سوسیالیزم جوړ سوی دی، په داسي حال کي چي هغه هیواد لا د سوسیالیزم د ودانۍ جوړولو په پړاو کي وي؟ یادو پوښتنو ته سم ځوابونه هغه مهال ورکولای سو، چي د یو ټاکلي پړاو د پوره کولو، چي یو هیواد یې پوره کوي، یا د سوسیالیزم د جوړولو په لار کي، د بېلابېلو هیوادونو توپیریز وضاحت ورکړو.

**۳ – د سوسیالیزم د ودانۍ جوړول، په اقتصاد، سیاست او ایډیالوژۍ کي د یو شمېر پېچلو دندو ترسره کول غواړي. دا دندي، په مادي، تخنیکي، ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي برخو کي د اوښتونونو او بدلونونو راوستل دي. د دغو بدلونونو په پایله کي ځبېښاکګر طبقات له منځه ځي، استثمار پای ته رسېږي او د کارګرانو، بزګرانو او روښانفکرانو په ژوندانه کي د پام وړ ښه والی راځي. د ټولني او وګړو ترمنځ مناسبات د همکارۍ او ملګرتیا شکل اخلي.**

۴ – د انتقالي پړاو له پای ته رسېدلو سره، د هغې ټولني په بنسټونو کي د سوسیالیزم جوړولو چاري پیل کېږي. د سوسیالیستي مناسباتو تخنیکي او مادي بنسټونه وده کوي او پرمختللې سوسیالیستي ټولنه جوړېږي. په شوروي اتحاد کي د پرمختللي سوسیالیزم جوړول، د شلمي پېړۍ د دېرشمي لسیزي له پای څخه پیل او د شپېتمو کلونو تر پیل پوري وخت ونیوئ.[٤]

**۵ – سوسیالیستي انقلابونه، په بېلابېلو هغو هیوادونو کي، چي د ودي بېلابېله کچه لري؛ سرته رسېږي. پر دې اساس په یادو هیوادونو کي د مولدیت، هوساینې او فرهنګ کچه هم یوه نه وي. د پانګوالۍ ځانګړنه داده، چي د بېلابېلو هیوادونو ترمنځ په اقتصادي کچه کي خورا زیات توپیرونه وي. د سوسیالیزم بریا په یوه هیواد کي، د پیاوړي مادي او تخنیکي بنسټونو د جوړولو په مانا دي!**

٦ – د هیواد د سوسیالیستي کولو پر مهال، د ملي اقتصاد ټولي برخي د یو واحدي اقتصادي - ماشیني ټولګي په ډول سره یو ځای کېږي. په اقتصاد کي د بریښنایي کولو چاري چټکي وي او هڅه کېږي، د

[٤] ـ دا پړاو په چین کي، له ۱۹۷۹ څخه پیل سوی او اټکل کېږي، چي تر ۲۰۴۹ کال پوري به وخت نیسي. په ویتنام کي هم له ۱۹۸۰ څخه پیل سوی او تر ۲۰۴۵ کال پوري به دوام وکړي، خو د نړیوالو سوسیالیستي قدرتونو د شتون او پانګوالۍ د ګواښونو د لړوالي پر مهال، دا کار په یوې لسیزي کي هم کېدلای سي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

توليداتو د تکامل او خلگو د هوسايني لپاره د ټکنالوژۍ تر ټولو وروستۍ لاسته راوړني پر کار ولوېږي او د خلگو د ورځ تر بلي زياتيدونکو مادي او فرهنگي اړتياوو د پوره کولو لپاره، په پلان سوي ډول سمبال سي. د سوسياليزم د ودانۍ جوړولو لپاره د وړونو سوسياليستي هيوادونو همکارۍ او ملاتړ ته هم اړتيا ده.

۷ – د سوسياليزم بريا، په سوسياليستي مناسباتو باندي د پانگوالي مناسباتو د اوښتون او د ملي اقتصاد په ټولو برخو کي د عام اقتصاد د حاکميت په مانا ده.

۸ – د سوسياليستي اقتصاد د رامنځته کولو سره، په ټولنه کي نوي جوړښتونه منځ ته راځي او د ځېښناککرو طبقاتو پر ځای، د کارگرانو او بزگرانو او روښانفکرانو ملگري طبقات را منځته کيږي.

۹ – د سوسياليزم بريا، د فعاله پلان سوي ملي اقتصاد، چي د کار په اندازه ويش پکښي ترسره کيږي؛ د را منځته کيدلو په معنا دی. دغه راز، د سوسياليزم بريا، ډيري نوري پيچلي دندي لکه د ښار او کلي ترمنځ د توپيرونو او د جسمي کار او ذهني کار ترمنځ د توپيرونو له منځه وړل هم غواړي.

**۱۰ – د سوسياليزم د بريا تر ټولو اړين شرط، د فرهنگي انقلاب برياليتوب دی. سوسياليستي ټولنه د ټولو زيار ايستونکو په گټه وده کوي، او نه يوازي د مادي اړتياوو د پوره کيدلو لوړه کچه رامنځته کوي، بلکې يو عالي ټولنيز سوسياليستي فرهنگ هم ورسره را منځته کيږي. فرهنگي انقلاب د زيار ايستونکو د گټو ځواب ويونکی دی او په ورته وخت کي د توليداتو د ښې ودي سره هم مرسته کوي، ځکه لوی ماشيني توليدات د عالي تحصيلاتو درلودونکي کارکونکي او کارپوهان غواړي. د فرهنگي انقلاب په لړ کي، د بيسوادۍ له منځه وړل، د زده کړو د کچي لوړول او ټولو ته د مسلکي او تخنيکي زده کړو ورکول اړين دي.**

۱۱ – د سوسياليزم د ودانۍ جوړولو ټولي برخي له يو بل سره ډير تړاوونه لري. د بېلگي په ډول، د سوسياليزم د مادي او تخنيکي بېخبناء را منځته کول، د فرهنگي انقلاب د مخته وړلو زمينه برابروي. فرهنگي انقلاب بيا خپله د سوسياليزم مادي او تخنيکي ودانۍ د جوړولو کار چټکوي، خو هره دا لړۍ په خپلواک ډول مخته ځي او کېدلای سي له بلي لړۍ څخه مخکي يا شاته وي، خو د سوسياليزم د بريا لپاره بيا هم د ټولو بدلونونو راتلل اړين دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ – د سوسیالیزم بریا، د هر ډول ملي، طبقاتي، نژادي او سیاسي ظلمونو څخه د زیار ایستونکو د خلاصون او عمومي – ټولنیزي شتمنۍ د را منځته کولو په معنا دی. د همدغو ځانګړنو له مخي، په یوه هیواد کي د سوسیالیزم د ودانۍ جوړولو کچه ټاکل کیږي.

۱۳ – پورته یاد سوي ټول پړاوونه د تاریخ د جبر برخي دي او د هر هغه هیواد لپاره چي د سوسیالیزم پر لور یې ګام ایښی وي؛ اړین ګڼل کیږي.

**ټول نوي سوسیالیستي سوي هیوادونه، د سوسیالیزم انتقالي او اوښتوني پړاو تېرولو ته اړتیا لري، چي د هغه په لړ کي پخوانۍ ټولنه په نوي ټولني بدلېږي.**

۱۴ – پرمختللي سوسیالیزم ته اوښتون بیا، د ټولنیزو مناسباتو د لا ښې او زیاتي ودي په معنا دی. د پرمختللي سوسیالیزم په شرایطو کي، تولیدي ځواکونه او تولیدي مناسبات ډیري لوړي کچي ته رسیږي، چي د مخکینیو پړاوونو په نسبت د نویو کمي او کیفي ځانګړنو درلودونکي وي.

## ۷ – د پرمختللي سوسیالیستي ټولني ځانګړني کومي دي؟

۱ – پرمختللې سوسیالیستي ټولنه یو لړ ښکاره ځانګړني لري، چي د سوسیالیستي ټولني د ودي له نورو پړاوونو سره توپیر کوي. **څه ډول چي پورته مو یادونه وکړل، د پرمختللي سوسیالیستي ټولني تر ټولو څرګنده نښه داده، چي عالي تخنیکي وسایل، مادي هوساینه او ټولنیز – انساني فرهنګ ولري.**

۲ – پرمختللې سوسیالیستي ټولنه، کمونیزم ته د اوښتون په لار کي یو قانونمند پړاو دی، تر څو په هغه پړاو کي بیا «هر چاته د خپل اړتیا په اندازه» اصل پر ځای سي او هغه پړاو ته د رسیدلو لپاره مادي او فرهنګي زمینه برابره کړي.

۳ –د تولیدي ځواکونو د ودي له کیفي کچي (په عالي تخنیک سره سمبالیدل) سره په ټولنه کي د دې شونتیا را منځته کیږي، تر څو هغه دندي، چي د ځانګړتیا او کچي له اړخه ډیري پیچلي وي؛ ترسره کړای سي. په دې لړ کي دخلګو د مادي هوسایني او فرهنګي کچي لوړوالی تر ټولو زیات لومړیتوب لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴ – د پرمختللي سوسالیستي ټولني مادي او تخنیکي بنسټونه په هر اړخیز ډول وده کوي. که د سوسیالیزم د ودانۍ جوړولو پر مهال ښه هڅه وسي؛ د نړیوال سوسیالیستي کار د ویش سره لا ښه پرمختګونه رامنځته کیدلای سي.

۵ – د شوروي اتحاد په ملي اقتصاد کي، د تخینکي پرمختګ ټاکونکي څانګي لکه بریښنا، کیمیاوي او پټروشیمي صنایع ماشین جوړوني او اوزار جوړوني تر پخوا زیاته وده کړې ده او ددا برخو سره یو ځای، کرنه هم میکانیزه سوې ده. په سوسیالیستي ټولني کي د تخنیک دوامداره تکامل او نوښت ته اړتیا ده او په ښه ډول سره زمینه ورته برابرېږي.

۶ – په شوروي اتحاد کي پرمختللي سوسیالیزم ته اوښتون، د زیار ایستونکو د زده کړي او فرهنګ په کچي پوري اړه لري، د بېلګي په ډول، په ۱۹۳۹ کال کي، د ښاري اوسیدونکو څخه یوازي ۲۴,۴٪ عالي او منځني تحصیلات درلودل او په کلیو کي بیا دا شمېر ۶,۳٪ وو. په داسي حال کي چي په ۱۹۸۲ کال کي ۸۸٪ ښاري زیارایستونکو عالي او منځني تحصیلات درلودل او دا کچه بیا په کلیو کي ۷۶٪ ته پورته سول. دا ارقام په دې مانا دي، چي د سوسیالیزم په لومړني پړاو کي، لږو خلګو عالي او منځنۍ زده کړي درلودې، خو د پرمختللي سوسیالیزم په پړاو کي اکثریت خلګو عالي او منځنۍ زده کړي کړي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱ - شکل




۷ – د پرمختللي سوسياليزم د ودانی جوړولو یو بله پایله د ټولني په طبقاتي جوړښت کي د بدلونونو رامنځته کول دي. په دې مانا چي د کروندګرو ډیره برخه د کوپراتیفي او کالخوزي کرني څخه د تولیداتو دولتي سکټور ته ور ګرځي. البته د دې کار لپاره خورا زیات تخنیکي امکانات او ذهني جوړجاړی اړین دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- شکل




۸ – د عام مالکیت له زیاتیدلو سره، د ملي اقتصاد د پلان اداره هم زیاته وده کوي. تمه کېږي، چې یاده اداره باید اوږدمهاله پلانونه جوړ کړي او د خپلو پلانونو لپاره دقیق علمي استدلال او محاسباتي سنجشونه وړاندي کړي.

۹ – د زیاترایستونکو لپاره د مادي نعمتونو په ویش کي د پام وړ بدلونونه راځي، په دې مانا چې د ترسره سوي کار کمیت او کیفیت ته په لا ښه دقت سره پام کېږي او د عامو لګښتونو ونډه، چې د خلګو اړتیاوي پوره کوي؛ لا زیاتیږي.

۱۰ – په دې ډول سره، د ټولنیز ژوندانه په ټولو برخو کي، ژور بدلونونه راځي او د دغو بدلونونو سره کېدلای سي د پرمختللي سوسیالیستي ټولني په اړه خبري وسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی،
# د سوسیالیزم اقتصادي سیستم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱ – له څه ځخه، د سوسیالیزم اقتصادي بنسټونه جوړیږي؟

۱ – د پانګوالي ټولني پر خلاف، په سوسیالیستي ټولني کي دا بنسټ د خصوصي مالکیت پر اساس نه، بلکې د تولید پر وسایلو له عام مالکیت څخه جوړ سوی دی. د پانګوالی تر حاکمیت لاندي نه یوازي ځمکي، د هستوګني ځو پوړیزه ودانی، ورکشاپونه، مغازې، رستورانتونه او هوټلونه، بلکې فابریکې، کارخانې، کانونه او بانکونه هم کېدلا سي، په جلا وګړو پوري تړلي وي او نور کارپوهان، کارګران او انجینران په هغو موسساتو کي ټاکل کیږي.
۲ – د خصوصي مالکیت خاوندان او ځیښناګګر، د کارکونکو د کار یوه زیاته برخه ځانته خپلوي، په داسي حال کي چي دا عواید خپله په کارګرانو پوري تړلي دي. د بېلګي په ډول، که یو پانګوال د یوې جوړې جامو لپاره (د ټوکر د بیې د خیاطی ماشین د رغولو، بریښنا د لګښت، د ځمکي اجارې، د کارګرانو د مزد تادیې په پام کي نیولو سره) ۲۰ ډالره ولګوي، دا جامې په ۳۰ ډالره پلورل کیږي، چي په پایله کي ۱۰ ډالر خالص عاید د پانګوال جیب ته لویږي. اوس تاسي حساب وکړئ، چي یوه فابریکه به په یوې اوونی، یوې میاشت او یوه کال کي، ځومره جامې تولید کړای سي؟ خو په سوسیالیستي ټولني کي بیا ټول عواید بیرته په خلګو او کارګرانو پوري اړه لري او پر همدوی ویشل کیږي.
د حیرانتیا خبره نه ده، چي د خصوصي مالکیت خاوندان د سوسیالیزم سرسخته دوښمنان دي، ځکه سوسیالیزم د دوی لوی استثماري خصوصي مالکیت له منځه وړي او د تولید پر وسایلو عام خصوصي مالکیت رامنځته کوي.
۳ – سوسیالیستي مالکیت پر دوه ډوله دی، یعنې دولتي مالکیت او کالخوزي یا کوپراتیفي مالکیت. همداسي د هغو مسلکي او عامو سازمانونو شتمني (لکه د سپورټي سازمانونو اړین وسایل او اوزار، چي د چارو د مخته وړلو لپاره یې پکارېږي) هم په سوسیالیستي مالکیت کي راځي. هیڅ ځوک حق نه لري، دا ملکیتونه، د خپلو شخصي ګټو لپاره وکاروي.
۴ – باید ووایو، چي په هره طبقاتي ټولنه کي د تولید پر وسایلو د مالکیت د شکل ځرنګوالی د هغې ټولني ټولنیز او اقتصادي جوړښتونه او د بیلابیلو ډلو ګټي او زیانونه راښیي. **د کمونستي او کارګري**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**گوندونو لپاره، د تولید پر وسایلو باندي د مالکیت د وضعي تحلیل او په هغه باندي پوهېدل، هم له سوسیالیستي انقلاب څخه وړاندي او هم وروسته، ډېر اړین دي. دا تحلیل زموږ سره مرسته کوي، چي اقتصادي تاکتیک او ستراتیژي په علمي ډول سره جوړه سي او د ډېرو لږو ضایعاتو سره، په عمل کي پلې سي.**

۵ – په صنایعو، کرني او خدماتو کي د تولید د وسایلو اړوند، د سوسیالیستي ټولني د ټولو غړو د حقوقو یوشان والی، له انسان څخه د انسان هر ډول استثمار له منځه وړي. بانکونه، موزیمونه، ښوونځی، سټډیومونه، روغتونونه، سوداګریزي موسسې او ډیر ښاري هستوګنیز اپارتمانونه، ټول په حکومت – یعنې په ټولو خلګو پوري اړه لري. په دې مانا، چي ټول خلګ د عامو تولیداتو د اغیزمنتوب او ګټورتوب پلویان دي، تر څو په پلان سوي ډول، د دوی ورځ تر بلي ډیریدونکي مادي او معنوي اړتیاوي پوره کړي.

٦ – د سوسیالیزم په شرایطو کي، د عامي شتمنۍ د ډیرولو یوازینۍ سرچینه د چا له استثمار پرته د ټولني په ګټه کار او زیار دی، چي د انسان لپاره مادي هوساینه او هر اړخیزه پیژندنه هم رامنځته کوي. د دغو عواملو په شتون کي، د تولیدي او سوداګریزو رازونو یا د تکړه استادانو له لوري د خپلو مهارتونو پټول له منځه ځي. د دې برعکس، په کار کي د اصولي او سالمي سیالۍ لپاره زمینه برابره سوې وي، چي سوسیالیستي سیالۍ ورته وایي. د دغو سیالیو ګډون کونکي هڅه کوي، په ښه ترینه تولیدي بڼې سره، د عامو شتمنیو په زیاتوالي کي سیالي وکړي.

۷ – د سوسیالیستي نظام له حاکمیت سره، هر کار د انسان او دده د ګټي لپاره ترسره کیږي. خلګ له ماشومتوب څخه نیولې تر بوډاتوب پوري په دې مسئله باندي پوهیږي. د بېلګي په ډول، هغه مهال، چي مور او پلار د خپلي دندي په ځای کي په کار لګیا وي؛ د هغوی اولادونه د ډیرو لږو پیسو په بدل کي، په وړوکتونونو او شیدو ځایونو کي روزل کیږي او هلته تکړه روزونکي او ډاکټران پر ماشومانو پام کوي.

دا چي د روغتیا یادونه مو کړې ده، باید ووایو، چي په ټولو سوسیالیستي هیوادونو کي، د ټولو لپاره روغتیایي خدمات وړیا دي. که څوک ناروغ سي؛ کولای سي د یوې ټلیفوني اړیکي په نیولو سره په وړیا ډول یو ډاکټر کور ته ور وغواړي، تر څو اړونده مرسته ورسره وکړي. که روغتون ته د ناروغ وړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړین وي؛ ډاکټران یې روغتون ته وړي او ترهغه مهاله چي په پوره ډول سره رغېږي؛ درملنه یې کوي. د ناروغۍ پر مهال، د خپل میاشتني معاش ٪۱۰۰ حقوق لري.

**ښکاره ده، چې زیار ایستونکي انسانان د پانګوالي مناسباتو پر مهال، داسي حقوق نه سي درلودلای.**

۸ – سوسیالیستي حکومت، چي د عمومي ښوونځیو، تخنیکي زده کړو ځایونو، او نورو موسساتو مالک دی؛ ماشومانو او ځوانانو ته په وړیا ډول زده کړې ورکوي او د هغوی لپاره، د هغوی په خپله خوښه ټاکل سوې ځانګه کي د زده کړو زمینه برابروي.

**د عالي ښوونځیو او منځنیو مسلکي ښوونځیو زده کونکي له حکومت څخه معاش هم اخلي، چې د هغه معاش اندازه د زده کونکو له نمراتو او ټولګیو له مخي توپیر کوي.**

۹ – خلګ، چي د تولید د وسایلو مالکین دي، د خپل کار د کمي او کیفي اندازې له مخي مزد اخلي.

**باید یادونه وکړو، چې نقدي مزد، که څه هم د خلګو د عاید تر ټولو اصلي برخه ده، د عاید یوازینۍ سرچینه نه ده. د خلګو د ژوندانه ډېري اړتیاوي د عامي استهلاکي برخي لخوا پوره کیږي. د دې ځانګړي سوي استهلاکي برخي څخه د زده کړې او روغتیا ترڅنګ د خلګو نوري اړتیاوي هم پوره کیږي، چي وروسته به یې یادونه وکړو.**

## ۲ – د سوسالیزم د اقتصادي قانون بنسټیز ماهیت څه دی؟

۱ – د عیني اقتصادي قوانینو له ډلي څخه، چي بشریت د هغه مطابق خپل د تکامل لار پیدا کوي، د هغې ټوني بنسټیز اقتصادي قوانین ځانګړې ونډه پکښې لري. دا قانون د ټولني اصلي خوځښت ورکونکی او د ټولني حاکم تولیدي ډول بیانوي.

د بېلګې په ډول، د پانګوالۍ د بنسټیز اقتصادي قانون سره سم، د تولید وسایلو د مالکینو له لوري د اضافي ارزښت خپلول دي. د پانګوالو اصلي موخه داده، چي د خپلو کارګرانو لخوا اعظمي عاید لاس ته راوړي او دا عاید بیا دوران ته ولوېږي، تر څو دوی ته لا زیاته ګټه راوړي. پر دې اساس په پانګوالي نظام کي د زیار ایستونکو د اړتیاوو پوره کول د تولید موخه نه ده، بلکې د پانګي د زیاتوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره کار پکښې کېږي. د رانیونکو له لوري، د توکو اخیستل او استهلاک، د یو پانګوال لپاره یوازي په دې خاطر د لیوالیتا وړ دي، چي د عایداتو د خپلولو او پانګي د زیاتولو لپاره یې په درد خوړل کېږي.
۲ – سوسیالیزم، د تولید موخه په بنسټیز ډول بدلوي او هغه د زیارایستونکو او ټولو خلګو د ورځ تر بلي زیاتیدونکو اړتیاوو پوره کول ګرځوي، چي د دولت له لوري ترلاسه سوي عایدات د هغوی په ګټه ویشل کېږي. فریدریش انګلز لیکلي ول، چي: «سوسیالیزم د دې زمینه برابروي، تر څو د عامو تولیداتو له لاري، د ټولني ټولو وګړو ته نه یوازي ورځ تر بلي ښه کیدونکي مادي شرایط برابر کړي، بلکې د هغوی جسمي او معنوي اړتیاوو د پوره کیدلو لپاره د آزاد تکامل لار پرانیزي.»
ملګری و. ا. لنین هم وایي، چي په سوسیالیستي ټولنه کي تولیدات «د ټولني لپاره د هوساینې او ټولني د هر وګړي د آزادانه تکامل لپاره ترسره کیږي.»
۳ – د شوروي اتحاد او نورو سوسیالیستي هیوادونو په اساسي قوانینو کي هم راغلي دي، چي په یادو هیوادونو کي د تولید موخه، په ښه ډول سره د انسانانو ورځ تر بلي زیاتیدونکو مادي او معنوي اړتیاوو پوره کول دي. دا موخه، په منطقي دول د تولید پر وسایلو د عام مالکیت څخه سرچینه اخلي.
۴ – پوښتنه کېږي، چي د تولیداتو لپاره یادي سوي موخي د کومو لارو – چارو په واسطه لاس ته راځي؟ په واقعیت کي همدا پوښتنه او د هغه د ځواب محتوا د سوسیالیزم بنسټیز اقتصادي قوانین تشکیلوي. دا قانون عبارت دی له: « د عامو تولیداتو د اغیزمنتوب او کار د کیفیت د ښه والي سره، د انسانانو ورځ تر بلي زیاتیدونکو مادي او معنوي اړتیاوو په ښه ډول پوره کول، چي د ملي اقتصاد د چټکي ودي او علمي او متناسبي پلان جوړوني سره لاس ته راځي.»

## ۳ – د تولید پر وسایلو باندي د سوسیالیستي مالکیت د شکلونو دوه ګونی والی، کوم ګډ ټکي او کوم توپیرونه لري؟

۱ – څه ډول چي مخکي مو یادونه وکړل، د سوسیالیستي مناسباتو پر مهال د تولید د وسایلو مالکیت دوه شکلونه لري، چي یو عمومي دولتي مالکیت دی او بل کالخوزي – کوپراتیفي مالکیت. د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکلونو عمومي ماهیت دادی، چې تولید سوي محصولات یا په ټولي ټولني او یا د یوه کوپراتیف په زیار ایستونکو پوري اړه لري او یوه انسان ته د بل انسان د زیار ورکول ناشونی کوي.

۲ – دولتي چارواکي پر دې باندي څارنه کوي، چې د دولتي او کوپراتیفي ملکیتونو ټول خدمات د ټولني په ګټه وکارول سي. مادي نعمتونه په داسي ډول ویشل کیږي، چې د هغه یوه برخه مستقیماً د نقدي عاید په ډول او بله برخه د عامو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ولګول سي، یعنې په هر حال کي باید ټول د خلګو په ګټه وکارول سي.

۳ – په دولتي او کوپراتیفي سکټورونو کي، ګډ سوسیالیستي اصول دي، چې هغه اصول حتمي او یوځایي کار، د تولیداتو پلان سوې وده او هر چاته د کار په اندازه ویش دی.

۴ – خو د دولتي مالکیت او کوپراتیفي مالکیت ترمنځ، د پام وړ توپیرونه هم سته، چې هغه توپیرونه، د تولیداتو د اشتراکي کولو کچې او تولیدي ځواکونو د ودې کچې دي.

۵ – د عام مالکیت اساسي شکل، دولتي مالکیت دی، چې د کارګرانو، بزګرانو او روښانفکرانو په ګډون د ټولو خلګو ګډ مالکیت جوړوي. که څه هم په دولت پوري تړلي د تولید وسایل د جلا موسساتو ترمنځ، چې خپلواکه اقتصادي واحدونه دي؛ ویشل کیږي. پر دې اساس د خلګو عمومي مالکیت د هیواد د ټولو زیار ایستونکو ګډ مالکیت دی او ټول خلګ د ټولو عامو تولیداتو خاوندان دي.

۶ – د خلګو د عمومي مالکیت مشري کونکې ونډه له دې څخه هم ښکاري، چې ټول تولید سوي مادي نعمتونه بیرته د خلګو د لګښت لپاره ځانګړي کیږي. تر ټولو لویې صنعتي، کرنیزي، رغنیزي او نوري موسسې، چې د علم او ټکنالوجۍ د تکامل لپاره کار کوي؛ په دولت پوري تړلي دي. دغه راز ځمکي، کانونه، سیندونه، ځنګلونه او بندونه هم د کوپراتیفونو مالکیت نه دي، بلکې د دولت انحصاري مالکیت جوړوي. په دې ترتیب سره، د ټولو عامو تولیداتو وده، د ملي عاید د کچې زیاتوالی او د خلګو د مادي او فرهنګي حالت سمون او ښه والی، د دولتي مالکیت په کار پوري تړلی دی.

۷ – کوپراتیفي مالکیت د دولتي مالکیت سره لږ توپیر لري. د تولید اړوند وسایل په اړوند کالخوز او کوپراتیف پوري اړه لري، نه په حکومت پوري. البته د کوپراتیفونو او کالخوزونو ځمکي د حکومت وي، خو په وړیا ډول کالخوزونو ته د کرني لپاره ورکول سوي وي او کالخوزونه پکښي د کرني او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالداری چاري د خپلو کارکونکو او تولید له خپلو وسایلو سره مخته وړي، چي هغه بیا په دولت اړه نه لري.

په دې مانا، چي په کوپراتیفي او کالخوزي موسساتو پوري اړوند ودانۍ، تاسیسات، ټراکټورونه، کمباینونه، د حاصلاتو ټولولو ماشینونه، تخنیکي وسایل، د مالداری حیوانات، کرنیز تخمونه، نیالګي، حیواني خوراکونه او نور د کرنیز تولید وسایل په حکومت یا ټولي ټولني پوري نه، یوازي په اړوند کالخوز پوري اړه لري.

۸ – کلوپونه، هوساځایونه، وړکتونونه، ماشومانو ته د شیدو ورکولو مرکزونه، مغازې او نور تاسیسات، چي د کالخوزونو په بودجې جوړ سوي دي؛ یوازي په اړوند کالخوز پوري اړه لري. هغه نقدي عایدات، چي پر دولت باندي د کالخوزي محصولاتو د خرڅولو سره لاس ته راځي؛ هم په کالخوز پوري اړه لري او خپلو غړو ته به يې ویشي.

۹ – د کالخوزونو عواید، د هغو غړو ته په نقدي او جنسي ډول ویشل کیږي او ویش يې د دولتي موسساتو په ډول، د کار د کمیت او کیفیت او د کالخوزچیانو د زیار له مخي ترسره کیږي.

۱۰ – د عمومي دولتي مالکیت او کالخوزي مالکیت ترمنځ توپیر په دې ډول دی. د یادوني وړ ده، چي د سوسیالیستي مالکیت د دوو ډولونو ترمنځ دا توپیرونه په کراري سره له منځه ځي، ځکه په کالخوزونو کي د مزد د ورکړي شرایط، دولتي موسساتو ته ورته کیږي. په همدې ډول سره، د ژوندانه د اوزارو او تفریح له حسابه، د کلیوالي زیار ایستونکو د ژوند کچه د ښار خلګو ته نژدې کیږي. ښاري کارګران چي خپل خوراکي توکي له کالخوزونو څخه لاسته راوړي؛ د کالخوزونو د اقتصاد او تخنیک ودي ته هیله من وي او د کالخوزونو کروندګر بیا چي د ښار د تخنیک او وسایلو څخه ګټه اخلي؛ د دولتي مالکیت ودي او پرمختګ ته لېواله وي.

۱۱ – په سوسیالیستي ټولني کي د مالکیت د دوه ګوني والي ترڅنګ، د بیلابیلو ټولنیزو سازمانونو مالکیت هم سته، لکه د مسلکي اتحادیو او سپورټي سازمانونو ملکیتونه، چي په هغوی پوري اړه لري.[۵]

[۵]- د مالکیت نور شکلونه، هم په بیلابیلو سوسیالیستي ټولنو کي سته، د بېلګي په ډول، په صنعتي تعاوني مالکیت کي، څو کسان یوه فابریکه یا شرکت جوړوي او حکومت له هغوی څخه مادي او تخنیکي ملاتړ کوي، خو د دې کار لپاره محدودیتونه دادي، چي له انسان څخه د انسان څېښناک، استثمار او اقتصادي بې بند و باري را منځته نه کړي، په دې شرایطو کي بیا دولت د مداخلې حق لري. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ – په سوسیالیستي نظام کي کوم شیان د وګړو شخصي شتمني جوړولای سي؟

تر دې ځایه پوري مو د عام مالکیت په اړه خبري وکړې، دلته به په دې اړه ورږغېږو، چي په سوسیالیستي ټولني کي په عامو وګړو پوري کوم شیان اړه درلودلای سي؟

**۱ – د سوسیالیزم دوښمنانو یو مهال دا رواغ تبلیغول، چي کمونستان د خصوصي مالکیت د حق له منځه وړلو سره، پر هر څه باندي عام مالکیت رامنځته کوي. د شلمي پېړۍ د پانګوالۍ ورځپاڼو به په دې اړه لیکني کولې، چي ګواکي په روسیه کي، ټول خلګ پر سل کسیزه بسترو باندي د ګډو ښځو او نارینه وو سره یو ځای پریوځي او د ټولو خلګو توکي او لوښي ګډ دي. ساده خلګو به دا درواغ منل هم.**

۲ – خو اوس ټولو ته دا درواغ مالوم دي او یو ماشوم هم پوهیږي، چي د سوسیالیزم تر مناسباتو لاندي د تولید عام وسایل، چي د نورو خلګو د ځبېښاک لامل سوي وي؛ ملي کیږي او سوسیالیستي حکومت د خلګو په ځاني شتمنیو او توکو کار نلري.

**د ځاني مالکیت په اړه باید ووایو، چي تر سوسیالیستي نظام لاندي ددا مالکیت حق ساتل سوی وي او د دولت له لوري یې ساتنه کیږي. د ځاني مالکیت په لړ کي، د شخصي استهلاک او ورځنیو اړتیاوو توکي، لکه (پوښاک، فرنیچر، موټر او د کور تخنیکي وسایل او نور) او د کورني اقتصاد مرسته کونکي وسایل (تر ډېره په کلیو کي) هغه پیسې چي د کار او زیار په واسطه لاس ته راغلي او ذیرمه سوي وي او نور ډېر هغه شیان، چي د انسان د شخصي مادي او کلتوري اړتیاوو د پوره کولو لپاره پکاریږي؛ راځي.**

۳ – هغه نوي کورونه، چي د دولت لخوا جوړیږي او بیا وروسته خلګو ته ویشل کیږي؛ په دولت پوري اړه لري او د هستوګنځایونو تخنیکي ترمیم او کتني هم د دولت مسئولیت دی. په شوروي اتحاد کي، د کورونو کرایې د ۱۹۲۸ کال راهیسي هیڅ توپیر نه دی کړی او د کارګرانو او مامورینو یوازي ۳٪ میاشتنۍ عاید د کورونو د اجارې لپاره جلا کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – دغه راز په کوپراتیفونو کي هم د کور جوړولو چاري رواني دي. حکومت د کوپراتیفونو ټولو غړو ته په آسانه شرایطو باندي اوږدمهاله پورونه ورکوي او د ځمکي د اجارې پیسې هم نه ورڅخه اخلي. په کلیو کي ډیر کورونه شخصي دي، خو نن ورځ په کوپراتیفونو کي هم ډیر عام کورونه جوړیږي او کالخوز درلودونکي اړ نه دي، چي د خپل شخصي کور لپاره لګښت وکړي.
۵ – حکومت د کوچنیو کورنیو اقتصادونو او تشبثاتو د ودي لپاره، د کلیو خلګو ته د مالدارۍ، بنوالۍ او سبزیجاتو د کرلو او نورو چارو لپاره وړیا ځمکي هم ورکوي. له دغو ځمکو څخه لاسته راغلي محصولات نه یوازي خپله د کورنۍ غړي کارولای سي، بلکې هغوی دا تولیدات په کلیو او ښارونو کي، د دولت لخوا په ټاکلي بیو سره پلورلای هم سي.

**۶ – په سوسیالیستي ټولني کي، د وګړو د شخصي مالکیت سرچینه د هغوی شخصي کار دی.**

د یوې شمېرني له مخي، د شوروي اتحاد د خلګو واقعي عواید د هرو پنځلسو کلونو وروسته دوه برابره سوي دي. خلګ د دغو عوایدو ډیره برخه، په اوږد مهال کي، کاریدونکو توکو لکه موبل، فرنیچر، تلویزیون، یخچال، موټر، کښتۍ، غالۍ او خپلو شخصي کورونو په رانیولو باندي لګوي.
۷ – د وګړو شخصي مالکیت او د هغه د میراث حق په سوسیالیستي ټولني کي، د دولت لخوا ساتل کیږي. سوسیالیستي ټولنه هڅه کوي، تر څو په وګړو پوري شخصي تړلي توکي، د ټولني د نورو غړو د زیان سبب ونه ګرځي او د لوی خصوصي مالکیت حرص رامنځته نه کړي.

**۸ – د عامو تولیداتو او عامو ملکیتونو له ودي سره، د وګړو شخصي مالکیت هم ډیریږي او د ټولني د هر وګړي د هوسایني کچه پورته کیږي. په عام مالکیت پوري، د شخصي مالکیت دا ډول تړلتیا، دا شونې کوي، چي عامي او شخصي ګټي یو له بل سره همغږي سي او هر څوک د عامي شتمنۍ له زیاتوالي سره لېواله وي.**[٦]

[٦]ـ د کلاسیکي پانګوالۍ اقتصاد پوهان، لکه آدام سمیټ، په دې عقیده ول، چي په ټولنه کي د یوه چا د ملکیتونو او شتمنۍ له زیاتېدلو سره، د ټولني نورو وګړو ته هم ګټه رسیږي، خو د معاصري پانګوالۍ له ودي سره ددا باور ناسم والی ثابت سو او د نننۍ ټولني عیني واقعیتونه ښیي، چي د یوه وګړي د پانګي او شتمنۍ د ډیریدلو لپاره د نورو وګړو د کاري محصول لوټلو او اخیستني ته اړتیا ده او د دغي اړتیا له مخي، پانګوالي ټولنه، د «فرد» او «ټولني» ترمنځ د جګړې ډګر ګرځي. هماغسي چي توماس هابز ویلي وه، په پانګوالي ټولني کي، د ټولو پر وړاندي د ټولو جګړه روانه وي. خو سوسیالیزم نه «فرد» د «ټولني» او نه «ټولنه» د «فرد» لپاره زیانمنه کوي، بلکې داسي عیني شرایط رامنځته کوي، چي د فرد او ټولني د ګټي ټکر له منځه پکښې ولاړ سي او د یوه تکامل د بل د زیان لامل نه سي. د فرد او ټولني د ګټي د جوړجاړي لپاره، د کلاسیکي پانګوالۍ د اقتصاد پوهانو، په ځانګړي ډول د آدام

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵ - ولي د سوسیالیستي اقتصاد پلان سوې وده شونې ده؟

۱ – هر څوک د راتلونکي لپاره خپل عواید او لګښتونه سنجوي. کورنۍ درلودونکی کس اړ دی، چي په خپل پلان کي، د کورنۍ د نورو غړو اړتیاوي هم په نظر کي ونیسي او خپل پلانونه ورسره همغږي کړي. حتی د یوې کورنۍ په چوکاټ کي هم د بودجې لپاره پلان جوړونه کله – کله ستونزمنه وي.
نو څه ډول کولای سو، د یوه لوی دولت په کچه د راتلونکي عواید او لګښتونه وسنجوو، په داسي حال کي چي په هغه هیواد کي له شخصي دوکانونو څخه نیولې، تر لویو شرکتونو پوري ملیونونه اقتصادي واحدونه وي؟ ښکاره خبره ده، چي د دوی ټولو دقیقه سنجونه ناشونې ده. د پانګوالي نظام تر حاکمیت لاندي، زرګونه اقتصادي واحدونه یو د بل پر وړاندي فعالیت کوي، د تولیداتو ترمنځ ګډوډۍ وي او پانګوال په یو ناپایه سیالۍ کي سره ښکېل وي.
۲ – د سوسیالیستي ټولني وضعیت، د پانګوالي ټولني په نسبت ډېر توپیر کوي. ځکه په دې ټولنه کي ټول صنعتي او کرنیز موسسات او د خلګو عام ملکیت سره یو ځای وي. په دې ځای کي د پلان سوي اقتصادي ودي اړتیا او شونتیا سته. د تولید وسایل یو مالک لري، چي هغه دولت دی، دولت د تولیداتو د ودي لوری ټاکي او د هغه د ګټو څخه کاراخیستل، د ټولو خلګو لپاره شونی کوي.
۳ – د یوه هیواد د اقتصاد لپاره د پنځه کلن پلان جوړول ډېره سخته دنده ده، خو د دې کار لپاره لسګونه علمي او اقتصادي موسسې او ادارې لګیا وي. دا شونتیا وي نه سو سنجولای، چي په صنعتي موسساتو کي به خامخا کوم نوښت راځي، یا به د کرنیزو محصولاتو لپاره اقلیمي شرایط څه ډول وي، یا به نړیوال وضعیت پر کوم لوري روان وي؟ ځیني داسي پېښي، چي تېښتي ورڅخه نه وي، ناغوښتل سوي پایلي منځته راوړي، خو دا پیښې تصادفي او موقتي وي.
۴ – د کالخوزونو او صنعتي موسساتو ترمنځ راکړه – ورکړه په توکو – نقدو پیسو سره ده. سوسیالیزم د توکو د مناسباتو لمن تنګوي. د بېلګي په ډول، په سوسیالیستي ټولني کي ځمکي، صنعتي موسسې،

---

سمیټ هیله یوازي په سوسیالیستي ټولني کي پوره کېدلای سي. دا چي څه ډول، د فرد او ټولني ګټي په جوړجاړي کي سره راځي؛ د کتاب په همدغه پاراګراف کي یې عیني میکانیزم تر ټولو ښه تشریح سوی دی. په دې اړه، د لا زیاتو معلوماتو لپاره ولولئ: «د انقلابي انسان څېره» (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودانی، کرنیز فارمونه او نور رانیولای او خرخېدلای نه سي. په سوسیالیستي ټولنه کي توکي د «استهلاکي ارزښت»[۷] له مخي منځته راځي او ګټه ورڅخه اخیستل کیږي.

۵ – د استهلاکي ارزښتونو په ډول د توکو په مبادله کي، د توکو بل اړخ، چي ارزښت دی، څرګندېږي. د توکي ارزښت، د عام کار ترسره سوی لګښت په ځان کي نغاړلی وي. توکي، د استهلاکي ارزښتونو له مخي، یو له بل سره کیفي توپیرونه لري، خو د ارزښتونو له حسابه بیا یو ډول دي، ځکه د پیسو په وسیله اندازه او یو له بل سره پرتله کیږي.

۶ – توکي، د استهلاکي ارزښت په توګه، د استهلاک لپاره دي، خو د ارزښت په توګه بیا خرڅلاو ته ځانګړي سوي وي. د توکو دا دوه اړخیز ماهیت، د رانیونکي او خرڅونکي ترمنځ د ګټو د ټکر رامنځته کیدلو لامل کیږي. خرڅونکی د توکي مبادلوي ارزښت او رانیونکی د هغه استهلاکي ارزښت په پام کي نیسي. په دې ځای کي، په سوسیالیستي او پانګوالي ټولني کي د توکو اړوند جلا - جلا چلند کیږي.

**۷ – سوسیالیستي ټولنه، یوازي د توکي ارزښت (چي پانګوال ورته لېواله دي) ته نه بلکې، د هغه استهلاکي ارزښت ته، چي د انسان د بیلابیلو اړتیاوو د پوره کولو وس ولري؛ لېواله ده.**

خو د توکي ارزښت هم د سوسیالیستي ټولني لپاره اړین دی، ځکه د هغه له مخي د انسان کار ارزول کیږي او د هغه د تولید لپاره د اړین ټولنیز کار کچه ښیي. پر دې اساس نو په سوسیالیستي ټولني کي، د پانګوالي ټولني برعکس، د توکي دوه اړخونه (یعنې د هغه مبادلوي ارزښت او استهلاکي ارزښت دواړه) یو د بل پر وړاندي نه سره درېږي، بلکې یوې واحدي موخي ته، چي هغه د زیار ایستونکو او ټولني د ټولو وګړو د اړتیاوو پوره کول دي؛ خدمت کوي.

[۷] - استهلاکي ارزښت، د توکو مصرفي او لګښتیز ارزښت ته وایي. د استهلاکي ارزښت له مخي عرضه کیدل، په دې مانا چي تولیدات نه د مبادلې او هغه څخه پیدا کېدونکي ګټي – وټي په موخه، بلکې د ټولني د اړتیاوو د پوره کولو لپاره وړاندي کیږي. په دې اړه لا زیات توضیحات د سیاسي اقتصاد علم په نورو کتابونو کي سته. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۷ – د علم او ټکنالوجۍ د پرمختګ له اغېزو سره، د کارکونکو په ځانګړتیاوو کې کوم بدلونونه راځي؟

په دې مطلب باندې پوهېدل ځکه اړین دي، چې پوه سو، په ټولنه کې د عامو تولیداتو د کارکونکو د ورتیاوو د کچې لوړېدل څه ونډه لري؟

۱ – موږ د کتاب په پیل کې یادونه کړې وه، چې د هر ټولنیز نظام تولیدي ځواکونه دوې اړینې برخې لري، چې وګړي او د تولید وسایل یعنې د کار اوزار دي، چې هغه توکي یا خلګ خپلوي او یا یې مزدوران وي.

**په سوسیالیستي نظام کې وګړي هم د تولید د وسایلو مالکین دي او هم یې کارکونکي.**

۲ – څه ډول، چې تاسي خپله پوهیږئ، د تولیدي ځواکونو وده د دوه ګونو عناصرو د ودې په واسطه ټاکل کیږي. د بېلګې په ډول، ټولنه کولای سي، د بریښنایي لوکوموټیفونو او اکسکواټرونو چلونکي په دې شرط وروزي او له هغوی څخه په سم ډول ګټه واخلي، چې په هیواد کې یې د بریښنایي اورګاډي کرښې، بریښنایي لوکوموټیفونه او اکسکواټرونه وي. دا خبره د نورو توکو او وسایلو په اړه هم کره ده. هرکله چې اړوند تخنیک په لاس کې نه وي؛ تر ټولو تکړه کادرونه، د باالقوه تولیدي ځواکونو په ډول بیکاره پاته کیږي.

۳ – د دوی ترمنځ سرچپه تړاو هم سته. د بېلګې په ډول د یو نوي ماشین رامنځته کېدل، د روزل سویو کارکونکو شتون غواړي تر څو وکولای سي، هغه ماشین په اغیزناکه ډول وکاروي. نوي تخنیکي وسایل، د روزل سویو کادرونو پرته بېکاره توکي دي. څه ډول چې وینو، تخنیک او بشري ځواکونه یو له بل سره نه شلېدونکي اړیکي لري. د هیواد د تولیدي ځواکونو د ودې کچه، نه د پرمختللي عناصرو له مخې، بلکې د وروسته پاته عناصرو له مخې ټاکل کیږي، چې کومو وروسته پاته عناصرو د بلې برخې وده کراره کړې ده او د ټولو تولیدي ځواکونو د ودې پر وړاندې یې خنډ جوړ کړی دی.

۴ – تخنیکي پرمختګ، په بشري ځواکونو کې د ژورو بدلونونو د راتللو پرته نه سي راتللای. د نویو موسساتو جوړول، د زړو ماشینونو پر ځای د نویو ماشینونو ځای پر ځای کول او د نویو صنعتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګو رامنځته کول، د نويو او ښو تخصصاتو او وړتياوو درلودونکي کارکونکي غواړي او پخواني کارونه له منځه وړي. د علم او ټکنالوجۍ د ودي په شرايطو کي، هر کار کونکی نه يوازي دا چي بايد خپلي وړتياوي زياتي کړي، بلکي د زړي حرفې او دندي له منځه تلو سره نوې دنده هم ونيولای سي. د بېلګي په ډول، که په يوې خاصي صنعتي ځانګي کي ماشينونه په هرو ۷ – ۱۰ کلونو کي نوي کيږي؛ نو يو کارګر بايد په ۳۰ کلونو کار کي، درې يا څلور ځله بيا وروزل سي.

۵ – د تخنيکي پرمختګونو تر اغيزې لاندي، د انجينرانو او تخنيککارانو کلتوري کچه هم لوړه ځي او د کارګرانو په منځ کي، د منځنيو زده کړو درلودونکي کچي خلګ هم زياتيږي. د بېلګي په ډول، په شوروي اتحاد کي، په ۱۹۸۰ کال کي، د کارپوهو کارګرانو شمېر د ټول هيواد د کارګرانو نيمايي ته رسيدی، په داسي حال کي، چي په ۱۹۲۵ کال کي دا کچه د هرو شپږو کارګرانو څخه يو کارګر ته رسيدل.

۶ – د کارګرانو د بيلابيلو برخو ترمنځ د کار تناسب هم بدلېږي. د ماشيني کارګرانو کچه او سلنه وده کوي او درانه لاسي کارونه کمېږي، خو لاسي کار په يوه پلا هم له منځه نه ځي. دا مهال داسي کارګران زيات پکارېږي، چي ښه تخنيکي پوهه ولري.

**۷ – د ملي اقتصاد بيلابيلي ځانګي په يو شان ډول وده نه کوي. درانه صنايع، چي نوري ټولي برخي د هغه پر اساس وده کوي؛ بايد په ډيري چټکۍ سره وده وکړي او د درانو صنايعو په منځ کي، د کيمياوي صنايعو، بريښنايي انرژۍ او ماشين جوړوني برخي ډيري اړيني دي. د دې کار لپاره تکړه او وړ کارکونکي پکار دي.**

۸ – د بشري ځواکونو د ځانګو په بدلونونو کي، د هغو خلګو مطلق او نسبي شمېر کموالی، چي په کرنه کي کار کوي؛ ډېر اړين دي. د تخنيک پرمختګ، چي د کرنيز کار مولديت ډېر چټکوي؛ په کرني او مالدارۍ کي، د کارکونکو د شمېر د کموالي او د ملي اقتصاد په نورو ځانګو کي د هغوی د بوختيا لامل ګرځي. د بېلګي په ډول، د کرني او ځنګل ساتني کارکونکي، چي په ۱۹۴۰ کال کي يې د شوروي اتحاد ۵۴٪ کارکونکي جوړول، په ۱۹۸۱ کي يې شمېر ٪۲۰ ته کښته سو.

۹ – د سوسياليزم د ودانۍ په جوړولو کي له پرمختګونو سره، د هغو کسانو شمېر چي په خدماتي کارونو باندي لګيا وي؛ زياتېږي. د زيار ايستونکو د کلتوري او تخنيکي کچي لوړول، عامه روغتيا، د علومو چټکه وده، فرهنګ، هنرونه او د ژوندانه د هوسايني لپاره د نورو خدماتو برخي نوي او لا زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارکونکي غواړي. د بېلګې په ډول، په شوروي اتحاد کې، د هغو کسانو شمېر چې په ۱۹۴۰ کې یې د مادي تولیداتو په ځانګو کې کار کوئ؛ ٪۸۷ وو، خو دا شمېر په ۱۹۸۱ کې ٪۷۳ ته را کښته سو، په داسې حال کې چې د تولیداتو په برخه کې د کارکونکو شمېر څو برابره زیات سوی هم دی.

## ۸ –ټوله ائیز عام محصول له څه شي څخه جوړ دی او څه ډول منځته راځي؟

۱ – د تولیداتو په بهیر کې، داسې محصولات منځته راځي، چې د ټولني اړتیاوې پوره کوي. له هغه ځایه چې مادي او معنوي نعمتونه په دوامداره ډول لګول کیږي؛ د هغوی تولید هم باید په نه دربېدونکي توګه دوام وکړي او بیا –بیا تولید سي.
۲ – ټوله ائیز عام محصول، په یوې ټاکلې مودې کې د تولیداتو کڅه ده. دا محصول د مادي تولیداتو په ساحه کې، تر ډېره په عامو موسساتو (دولتي او کوپراتیفي) کې رامنځته کیږي. ددا محصول ځیني برخې په کوچنیو کورنۍ اقتصادونو کې هم تولید کیږي. د مادي تولیداتو په برخه کې، صنایع، کرنه، ځنګل ساتنه، ودانۍ، مادي –تخنیکي تدارکات، باروړونکی ټرانسپورټ، اړیکې او ډېرې نورې برخې راځي.
۳ –په خدماتي برخو (د عامي روغتیا بنسټونه، ښوونه او روزنه او کلتوري چوپړونه) کې عام محصول نه تولید کیږي. د خدماتي برخو لپاره دولتي لګښتونه، په مادي تولید کې د رامنځته سوي ګټې -وټې څخه جلا او ځانګړي کیږي. د خدماتي برخې کارکونکي، که څه هم په مستقیم ډول په تولید کې برخه نه اخلي، خو د ټولنیزې هوساینې د کچې په لوړولو کې کار کوي او د هوساینې د کچې لوړېدل خپله د عام ټولنیز تولید برخه ښه کولای سي. له دې اړخه، ټولنه د ملي اقتصاد د ټولو برخو ودې ته اړتیا لري، خو د مادي تولیداتو برخه تر ټولو اړینه ده.
۴ – د تولیداتو وده او د زیار ایستونکو خلګو د مادي هوساینې د کچې لوړېدل تر ډېره پورې د عامو محصولاتو په زیاتوالي پورې تړلې ده. نه یوازې د هغه ډېروالی، بلکې د هغه د جوړښت تکامل د ډېر اهمیت وړ دی، ځکه هر مهال چې ښه جوړښت ولري، په پراخه کچه د اړتیاوو پوره کول شوني کیږي. د عامو محصولاتو په ترکیب کې، د تولید وسایل او استهلاکي توکي راځي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ – د تولید وسایل عام ملکیت او شتمني ده. دا وسایل لکه (ټراکټورونه، سیسټمونه، کمباینونه...) د تولیداتو په ساحه کي پاتیږي او د انسان د لاس په واسطه، د ټولني د غړو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره پر کار لوېږي. استهلاکي توکي (لکه پوښاک، خوراکي توکي او نور) د تولیداتو له ساحې څخه وځي او د شخصي استهلاک برخه ګرځي او د زیار ایستونکو د مادي او فرهنګي ژوندانه د کچي د لوړولو په چوپړ کي وي.

٦ – د ټوله ائیز عام محصول هغه برخه، چي د تولید له وسایلو څخه جوړه ده، د اقتصاد په علم کي لومړنی سکټور یا لومړنۍ برخه ورته وایي او د عام محصول هغه برخه، چي په استهلاکي توکو کي رامنځته کیږي، دوهمي سکټور، یا دوهمه برخه نومېږي. ټول عام تولیدات هم دا دوو برخو ته ځانګړي کیږي، څه ډول چي د هغه اوله برخه د عام تولید وسایل او دوهمه برخه یې بیا د شخصي استهلاک یا ډله ائیز استهلاک (د کورونو، ښوونځیو، تیاترونو، کتابتونونو، کلوپونو، سټډیومونو او نورو) توکي تولیدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - شکل




۷ – لکه څرنگه چي په سوسیالیستي نظام کي، د توکو – پیسو مناسبات بیاهم ساتل کیږي؛ ټوله ائیز محصول باید یوازي د هغه د ظاهري او طبیعي شکل له مخي نه، بلکې د هغه د ارزښت له اړخه هم وارزول سي. دا چاره د دې لامل کیږي، چي اقتصادي چارواکي د محصول ټولي برخي د نقدي واحد په ډول څان ته معلوم کړي. عام محصولات، چي هر مهال د دې لیدلوري له مخي وارزول سي، د ټولو مادي تولیداتو او محصولاتو ټوله ائیز نقدي ارقام او شمیرې په لاس راکوي. دا محصول درې برخي په څان کي رانغاړي. اوله برخه یې، د جبران برخه ده. دا برخه د تولید د وسایلو د استهلاک له مخي حسابیږي، چي د کار په بهیر کي تولید کېدونکي محصول ته ځي، خو ټوله ائیز عام محصول بیا هغه ارزښت په بر کي نیسي، چي په یوهب ټاکل سوې موده کي، د انساني کار په وسیله رامنځته سوې وي. دا ارزښت، په خپل نوبت سره، په دوو برخو باندي ویشل کیږي. دا برخي عبارت دي له، د استهلاک حساب (چي د اړین محصول ارزښت ښیي او د عامو ځانگو کارکونکي د دغه ارزښت له مخي خپل معاش اخلي) او د ذیرمي حساب (چي د تولیداتو د ودي اضافي او کارآمده محصول جوړوي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ – باید یادونه وکړو، چي ټوله ائیز عام محصول نه سو کولای عمومي عاید وشمېرو، ځکه هغه د تولید لګول سوي وسایل حسابوي، چي په تېره زمانه کي رامنځته سوي دي. د عام محصول د ارزښت دا برخه، په لومړي او دوهمه برخه کي د استهلاک سویو تولیدي وسایلو بیا ځایولو ته لیږل کیږي. د عام محصول دا برخه، د جبران برخه جوړوي. د ټوله ائیز محصول پاته برخه، چي نوی لګول سوی کار ښیي؛ د ټولني ملي عاید جوړوي.
۹ – که په پانګوالي اقتصاد کي د ملي محصول یوازي یوه برخه زیار ایستونکو ته ورکول کیږي، خو په سوسیالیستي نظام کي د ملي محصول او ملي عاید ټوله برخه په زیار ایستونکو پوري اړه لري.

## ۹ – د پانګونو اغیزمنتوب په څه کي دی؟

۱ – د پانګوني اقتصادي اغیزمنتوب په دې کي دی، چي د تولیداتو او عام استهلاک کچه په ثابت او چټک ډول سره وده وکړي. د نوي تخنیک رامنځته کول هغه مهال ګټور دي، چي د کار مولدیت زیات کړي او د کار او پیسو له ډېر کم لګښت سره، د مادي نعمتونو تولید زیات کړي. د ټولي پانګوني په نسبت، په یوې موسسې یا یوې څانګي کي، د خالص عاید زیاتوالی د تولید اقتصادي اغیزمنتوب ښیي. هر څومره چي د یوې موسسې د خالص عاید کچه زیاته وي او پانګوني ته یې اړتیا لږ وي؛ هماغومره یې اقتصادي اغیزمنتوب زیات دی.
۲ – د پانګوني اقتصادي اغیزمنتوب، په عمل کي د تر ټولو ګټوري –اقتصادي لاري ټاکل دي. په دې شرط چي د تولیداتو حجم ثابت وي؛ مناسبه پانګونه ښه ده، خو لږه پانګونه شاید په راتلونکي کي ډېر جاري لګښتونه وغواړي. د بېلګي په ډول، د اوبو برېښنا د یوې فابریکې د جوړولو لپاره، نسبت د حرارتي بریښنا یوې فابریکې ته، زیاته پانګونه غواړي، په داسي حال کي چي د حرارتي بریښنا جاري لګښتونه بیا زیات دي. په دې ځای کي د پانګوني نسبي اغیزمنتوب ټاکل کیږي.
**۳ – د تخنیک او ماشینرۍ وده اړینه ده. په پانګوالي نظام کي، د ماشین څخه ګټه اخیستنه یوازي هغه مهال ګټوره ده، چي پانګوالو ته ډېره ګټه راوړي، خو په سوسیالیستي ټولني کي، له ماشین څخه ګټه اخیستنه پراخه ده. په دې ځای کي ماشینونه، په ټولو هغو ځایونو کي چي د انسان د کار د کموالي او سپکوالي سره مرسته کوي؛ کارول کیږي. ترڅنګ یې په سوسیالیزم**


(c) ketabton.com: The Digital Library

**کي تولنيز عوامل هم اړين دي. د بېلګي په ډول، په سوسياليستي ټولني کي ماشين يوازي د کار او وخت د سپما لپاره نه، بلکې له درنو کارونو څخه د انسانانو د خلاصون لپاره هم کارېږي.**

## ۱۰ – ملي عايد څه ډول ويشل کيږي؟

د بحث له پيل وړاندي بايد په دې پوه سو، چي ملي عايد د ملي اقتصاد له کومو څانګو څخه توليديږي؟ په دې ځای کي به د شوروي اتحاد د ملي عايد برخي وښيو.

۴ - شکل




له پورته شکل څخه معلومېږي، چي د سوسياليستي نظام د واکمنۍ سره په ملي عايد کي د پام وړ اندازه زياتوالی او بدلون راغلی دی.

**۱ – په ۱۹۱۳ کال کي، کارګرانو، بزګرانو او مامورينو د هيواد ۵۳٪ ملي عايد لاس ته راوړی، په داسي حال کي چي پانګوالو، ځمکوالو او نورو ځبيښاکګرو طبقاتو بيا، چي د ټولو اوسيدونکو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږمه سلنه برخه يې جوړول؛ د ټول ملي عايد ۴۷٪ اخيستل. د ۱۹۱۷ کال د سوسياليستي انقلاب څخه وروسته، د عايداتو هغه برخه، چي د نورو له ځبېښاک څخه لاس ته راتلل؛ ډيره کمه سول، خو په ۱۹۲۸ او ۱۹۲۷ کلونو کي لا هم ۸٪ ملي عايد د ځبېښاکگرو لاس ته ورتلی، خو د ۱۹۳۰ کلونو له پيل سره، ملي عايد ټول په زيار ايستونکو پوري اړوند سو.**


۲ – د ملي اقتصاد د پلان سوي ودي له کبله، ملي عايد هم ډيره وده کوي. د بېلگي په ډول، په ۱۹۸۲ کال کي، په شوروي اتحاد کي لاس ته راغلی ملي عايد ۵۲۳,۴ مليارده روبله وو، چي د ۱۹۴۰ کال په پرتله ۱۵,۲ برابره زيات وو، خو پوښتنه داده، چي دا دومره زيات شمېر عايد څه ډول ويشل کيږي؟

۳ – د ملي عايد ويش پر دوه ډوله ده، يعنې لومړنی ويش او بيا ويش. په لومړني ويش کي، حکومت، دولتي او کوپراتيفي موسسې او د ټولني ټول غړي چي د مادي توليداتو په برخه کي کار کوي؛ برخه اخلي. پر دې بنسټ ملي عايد پر درو برخو ويشل کيږي: ۱) د حکومت او حکومتي موسساتو عايد ۲) د کوپراتيفي موسساتو عايد ۳) د مادي توليد د کارکونکو شخصي عايد.

خو د ملي عايد ويش دلته پای ته نه رسيږي، بلکې ياد عوايد بياځلي هم ويشل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ - شکل




۴ – ملي عايد د دولتي بودجې، خدماتو د کچي او په پای کي، د ټولنيزو سازمانونو لخوا بياځلي ويشل کيږي. علت يې دادی، چي د ملي عايد د ويش په اول پړاو کي، د ټولني هغه غړي، چي له مادي توليداتو څخه بهر کار کوي، لکه د ټولنيزو سازمانونو کارکونکي، دولتي کارکونکي، د خدماتو څانګي، د وسله والو ځواکونو غړي، تقاعد سوي کارکونکي، محصلين او نور هغه زده کونکي، چي معاش اخلي په لومړني ويش کي برخه نه لري.

۵ – د خدماتي برخو کارکونکي، د خپل ملي عايد برخه د دولتي بودجې يا ټولنيزو سازمانونو له حساب څخه، يعني د عايد د بيا ويش له بهير څخه اخلي.


٦ – لکه مخکي چي مو يادونه وکړل، د عايد يوه زياته برخه، د هغو ضايعاتو د جبران لپاره، چي د توکو په توليد، انتقال او ساتني باندي لګيږي؛ حواله کيږي. پر دې بنسټ، عمومي لاسته راغلی عايد، د استهلاک او ذيرمي د لګښتونو څخه د وتلو پيسو له مخي محاسبه کيږي.

۷ – په سوسياليستي ټولني کي، ډير خدمات په وړيا ډول د عامي څانګړي سوي بودجې لخوا وړاندي کيږي، لکه وړيا زده کړي او روغتيايي خدمات او د کتابتونونو، تفريح ځايونو او نورو څخه وړيا ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اخیستنه. هغه پیسې، چې د خدماتي چوپړونو څخه لاسته راځي؛ یوه برخه یې د کارکوونکو معاشونو او بله برخه یې د خدماتي سازمانونو په ګټي او دولتي فنډونو پوري تړاو پیدا کوي.

٦ - شکل




۸ – د پلان له مخې، د ملي عاید لومړنی او دوهمي ویش، د ذیرمي او استهلاک د وجي ترمنځ د تناسب له مخي تنظیم کیږي. سوسیالیستي ټولنه ټول ملي عاید د استهلاک حساب ته نه استوي، بلکې د هغه ډیره برخه د استهلاک وجي ته لېږي. پاته شتمني، د خلګو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د تولیداتو د ودي او پراختیا لپاره لګېږي. پر دې بنسټ، د شوروي اتحاد د ملي عاید ۷۵٪ د استهلاک او ۲۵٪ نور د ذیرمي لپاره کارول کیږي. تجربو ښودلې ده، چې دا ډول تناسب رامنځ ته کول، د خلګو د مادي هوساینې د کچې د لوړوالي او تولیداتو د ودي لامل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۹ –له ذيرمي څخه موخه، د توليداتو د بهير، يا نورو نااټکل سويو پيښو رامنځته کيدلو پر مهال د زيار ايستونکو خلګو د اړتياوو د پوره کولو لپاره د امکاناتو شتون دی. سوسياليستي ټولنه، د بشري ټولنيز ژوندانه ټولي خواوي په پام کي نيسي.

## ۱۱ – د کار له مخي ويش په څه مانا دی؟

۱ - څه ډول چي پوهيږئ، په سوسياليستي نظام کي مادي او کلتوري نعمتونه د ټولني د غړو ترمنځ، د هغوی د کار له مخي ويشل کيږي؟ د توليدي ځواکونو د ودي اوسنۍ کچه نه سي کولای، دومره زيات مادي او معنوي نعمتونه توليد کړي، چي د اړتيا وړ ويش ته ورسيږي. د دې سربېره، د پېچلي او اسانه کار، دروند او سپک کار او لاسي او ماشيني کار ترمنځ ډېر توپيرونه هم سته. د خلګو پوهه هم هغه کچي ته نه ده رسيدلې، تر څو مادي نعمتونه د دوی د اړتيا له مخي ورته وويشل سي. پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساس، ټولنه باید پرته له دې، چې د کار د کچې او د استهلاک معیار په پام کې ونیسي؛ مادي او معنوي نعمتونه د لګول سوي کار له مخې وویشي. یا په بله مانا، د هغه محصولاتو شمېر، چې یو کارکونکي ته د هغه د شخصي استهلاک لپاره ورکول کیږي؛ په سیده ډول سره له هغې ونډې سره تړلې ده، چې د عامو تولیداتو څخه یې د خپل کار او زحمت له مخې اخیستي دي.
۲ – سوسیالیزم د تولیداتو د ودې اغیزناکي انګیزې منځ ته راوړي او د مادي انګیزې ترڅنګ یې اخلاقي انګېزه هم ټولو ته ورپېژندلې ده، خو اخلاقي انګېزه بسنه نه کوي او د کارکونکو مادي انګیزې په پام کې نیول هم ډېر اړین دي.
د کار له مخې ویش، ټول خلګ په عام تولید کې، د برخې اخیستلو لپاره هڅوي.
**۳ – په سوسیالیستي ټولني کي د ویش قانون له مخې: الف) د مساوي کار په ترڅ کي باید د هر ډول، جنسي، قومي او نورو توپیرونو پرته مساوي مزد ورکول سي. ب) پېچلو او درنو کارونو ته، د سپکو او اسانه کارونو په نسبت ډېر مزد ورکول سي.**
**۴ – ځیني داسي وایي، چي د کار له مخي ویش ټولنیزه نابرابري رامنځته کوي او د مخنیوي لپاره یې باید ټولو ته مساوي مزد ورکول سي. اوس به وګورو، چي آیا دا حلاره معقوله ده؟ مساوي ویش نه یوازي دا چي عادلانه نه دی، بلکې ټولني ته زیان هم لري. دا ډول ویش، د سوسیالیزم د دندي، چي هغه د زیار ایستوکو د هوسایني د کچي لوړوالی دی؛ سره په ټکر کي دی، ځکه د تولیداتو د کرار والي لامل ګرځي.**
۵ – د سوسیالیزم د ودانۍ جوړولو پر مهال، ځیني هیوادونو هڅه کړې وه، چي ویش نه د کار له مخي، بلکې د کورنیو د غړو د شمېر له مخي ترسره سي. تجربو وښودل، چي د کار له مخي د ویش نه ترسره کول، تولیداتو ته زیان رسوي. مساوي او ورته مزد ورکول، د کارکونکو د کار او مولدیت سره مرسته نه کوي، بلکې د دوی انګیزه له منځه وړي، نوښتونه لړوي، د کار سره لیوالتیا کموي او له کار څخه تښتېدونکو لټانو او خواریکښو دواړو ته یو ډول عاید ورکوي.
٦ – په استهلاک کي رامنځته سوې نابرابري د وخت په تېریدو سره له منځه ځي. لومړی، د تولیداتو د ودي او زیار ایستونکو د فرهنګي کچي د لوړیدلو او ذهني او جسمي کار ترمنځ د توپیرونو د کمولو سره دا چاره آسانه کیږي. دا چاره د دوی مزدونو ترمنځ د سته توپیر د کموالي او عمومي معاشونو د لوړوالي لامل ګرځي. دوهم، دا د عام استهلاکي حساب له زیاتوالي سره، د استهلاکي نعمتونو د کچي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړېدل د دې لامل کيږي، چې په عوايدو کي نسبي يو شان والی راسي. **مارکسيزم – لنينزم برابري، د ټولو يو شان شخصي اړتياوي او د ټولو يو شان جسمي او ذهني استعداد ورته والی نه بولي، بلکې برابري د توليد د وسايلو پر وړاندي د ټولو خلګو د حقوقو مساوي والي، د ځبېښاک له منځه وړل، د خپل استعداد سره سم، هر چاته د دندي ترسره کولو حق ورکول او د کار په نظر کي نيولو سره د مزد لاسته راوړل برابري بولي.** [٨]

## ۱۲ – د کاري ورځي اوږدوالی څومره دی؟

١ – په کاري وخت کي زياتوالی يا کموالی د فراغت د وختونو د زياتوالي يا کموالي لامل کيږي. د کار وخت، د فراغت د وخت سره نه شليدونکي اړيکه لري. د انساني کار مولديت او د انفرادي استعدادونو وده بيا تر ډېره بريده د کار او فراغت د وختونو له تناسب سره تړاو لري.
هر زيار ايستونکی انسان او ټوله ټولنه، په عمومي ډول سره د کاري وخت څخه د اغيزمني ګټي اخيستني او د کار د اوږدوالي، مولديت او چټکتيا ترمنځ د معقولانه تړاو سره ليوالتيا لري.
٢ – د کاري ورځي اوږدوالی د هيواد د مادي او تخنيکي بنسټونو د ودي د کچي له مخي ټاکل کيږي. که څه هم ټولنه په ټوله کي، د کاري ورځي د کموالي او فراغت د وخت د زياتوالي غوښتونکې ده، خو دا هيله يوازي هغه وخت پوره کيدلای سي، چي د کاري ساعتونو د کموالي سره هم مهاله توليدات وده وکړي.
٣ – سوسياليستي ټولنه د خلګو د هوسايني د کچي د لوړېدلو لپاره، د اضافي وخت کار هم رامنځ ته کوي، تر څو په هغه کي اضافي محصول رامنځ ته سي او د زيار ايستونکو د زياتيدونکو اړتياوو په موخه ولګول سي.

---

[٨]ـ له برابری څخه د مارکسيستي پوهاوي په اړه، تر ډيره دا ناسم باور تبليغ سوی، چي ګواکي په مارکسيستي – لنينستي فلسفې کي ټولو خلګو ته د يو شان عايد ورکول برابري ګڼل کيږي، چي دا باور له بنسټه ناسم او په دې ځای کي يې ښه سپيناوی سوی دی. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – د کاري ورځي اوږدوالی، نه يوازي دا چي د ضروري او اضافي وخت ترمنځ تناسب رامنځته کوي، بلکې د کار او فراغت د وخت ترمنځ هم جوړجاړی رامنځته کوي. د فراغت وخت، د انساني شخصيت د هر اړخيز تکامل لپاره ډير اړين دی.[۹]

۵ – سوسياليستي ټولنه د قانون جوړوني په وسيله، کاري وختونه ټاکي. په قانون کي د کاري ورځي اوږدوالی، کاري اوونۍ او د رخصتۍ ورځي د معاش د ورکولو له حقوقو سره يو ځای راغلي وي.

**د دغه دولتي قوانينو ترپښو لاندي کولو ته، د کارکونکي او د موسسې د مشر تر منځ د خپلواک جوړجاړي سره لا هم اجازه نسته.**

اضافه کار، يوازي په استثنايي ځايونو کي د کار له قوانينو سره سم کېدلای سي. د اضافه کارۍ مزد، د لوړي تعرفې له مخي ورکول کيږي. دغه راز، د هري توليدي موسسې رئيس، بايد د صنفي اتحاديو د سيمه ائيزو کميټو سره په جوړ جاړي کي د کار د پيل او پای، تفريح او غرمې وختونه وټاکي.

٦ – د حکومت له لوري، د کاري ورځو او رخصتيو تنظيم په کالخوزونو کي نه مراعات کيږي. په کرنيزو موسمونو کي د کالخوزچيانو او کروندګرو کار د دولتي مامورينو په نسبت هم د ورځي د اوږدوالي او هم د اوونۍ د کاري ورځو له مخي زيات وي، خو د کروندګرو د کاري ورځي اوسط بيا تر دولتي مامورينو لږ دی.

۷ – د کاري ورځي د ساعتونو ټاکل، په بيلابيلو څانګو کي په پام کي نيول کيږي. په هغو برخو کي چي کارونه درانه وي؛ کاري ورځ لنډه وي. د بېلګي په ډول، په شوروي اتحاد کي د توليدي صنايعو کار په اوونۍ کي ۴۰,٦ ساعته دی، خو د سکرو په کانونو کي کار بيا ۳۵,۵ ساعته وي.

۸ – په سوسياليستي ټولنه کي ډيره هڅه کيږي، چي د کاري ورځي ساعتونه د معاشونو له کښته والي پرته لږ سي. په دې مانا چي د کاري ورځي د ساعتونو له کموالي سره، د مولديت چټکتيا بايد ډيره سي. شمېرني ښيي، که د ورځني کار ساعتونه ۷ يا ۸ ته کښته سي، د کار مولديت ٪۱۲,۵ ډيريږي، که کاري ورځ ٦ – ۷ ساعتونو ته کمه سي، د کار مولديت بايد ٪۱۷ لوړ سي او که ٦ – ۵ ساعتونو ته را لنډه

[۹]- سوسياليستي ټولنه، د انساني شخصيت د هر اړخيز تکامل لپاره د فراغت لا زيات وخت رامنځته کوي، تر څو انسان هغه وختونه، په بيلابيلو سپورټي، فرهنګي، کلتوري، هنري، علمي او نورو برخو کي ولګوي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سي، بیا باید ٪۲۰ مولدیت زیات سي. د دې څخه ښکاري، چې د تولیداتو زیاتیدل د کاري وختونو د کمولو سره تړلي دي.[۱۰]

## ۱۳ - په سوسیالیستي ټولني کي د فراغت له وختونو څخه څه ډول ګټه اخیستل کیږي؟

۱ - د فراغت وختونه هغه مهال کېدلای سي، عامه شتمني وګڼل سي، چي د انساني استعدادونو له هر اړخیزي ودي سره مرسته وکړي او د ټولي ټولني لپاره د مادي او معنوي نعمتونو د لا زیاتوالي سبب وګرځي.
د کاري وخت کمول او د فراغت د وختونو زیاتول، د انسان د فرهنګي او تخنیکي کچي د لوړیدلو سره مرسته کوي او همدا چاره بیا په خپل وار سره، د کار د مولدیت د زیاتوالي او کاري وختونو د کموالي سبب کیږي. په دې ډول سره، د فراغت وختونه، نه یوازي دا چي ښه پایله لري، بلکې د تولیداتو د زیاتیدلو عامل هم ګڼل کیږي.
۲ - د فراغت وختونه، د کاري ځواک د بیا جوړولو لپاره کېدلای سي پر دوو برخو وویشو. یوه برخه یې باید د هغه ځواک د بیا جوړولو سره مرسته وکړي، چي د کاري وخت پر مهال لګول سوي وي، په داسي حال کي چي بله برخه یې بیا باید کاري ځواکونو ته وده ورکړي. د فراغت وختونه هم باید د انسانانو ترمنځ د ملګرتیا اړیکو د زیاتیدلو، علمي، تخنیکي، ادبي، هنري او فرهنګي پوهي د لوړولو او په علمي، تخنیکي او هنري ډګرونو کي د نوښتونو د رامنځ ته کېدلو لامل سي.
۳ - د ښارونو او کلیو ترمنځ د توپیرونو له منځه وړل، د کلي خلګو ته هم د ښار د خلګو په ډول، د فراغت وختونو د ښه تېرولو سره مرسته کوي. د کلیوالي زیار ایستونکو د مادي او تحصیلي کچي لوړوالی او په کلیوالي سیمو کي د ډیرو ښوونځیو، سینماګانو او فرهنګي مرکزونو جوړول او د ټلویزیون، ټکنالوجۍ او ټرانسپورټ را منځته کیدل، د ښار او کلي ترمنځ د پراویزي یو کېدلو لامل کیږي.

---

[۱۰]- په پخوانیو سوسیالیستي هیوادونو، لکه سوسیالیستي چکسلواکیا کي کاري ورځي په اونۍ کي ۴ او کاري ساعتونه په ورځ کي ٦ ته ټیټ سوي ول. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – دلته باید د ښځو او نارینه وو ترمنځ د فراغت د وختونو څخه د ګټې اخیستنې د تناسب د نشتوالي په اړه هم بحث وکړو. د کور ډیر کارونه، لکه د خواړو برابرول، د ماشومانو چارو ته رسیدګي او د هستوګنیز ځای پاکول د ښځو تر غاړې دي. د کور د کارونو د لږ ماشیني کېدلو له امله د ښځو فارغه وخت لږ وي، خو د ټولنیزو موسساتو لکه د جامو مینځل ځایونو، وړکتونو، ماشومانو ته د شیدو ورکولو مرکزونو او کور د کارونو د لا ډیر ماشیني کېدلو، لکه د برقي جاروګانو، جامو مینځلو د عصري ماشینونو او خواړو پخولو د نوي ماشینونو سره د ښځو لپاره هم د فراغت وختونه زیاتیږي، د کور د چارو مخته وړل آسانه کیږي او ښځې د فراغت د وختونو څخه د معقولې ګټې اخیستنې موکې پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی،
# د سوسیالیستي ټولني اقتصادي سیستم او د هغه د تکامل تګلاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شوروي اتحاد د اساسي قانون پنځلسمه ماده:

«د اقتصادي پلانونو پر بنسټ، د اقتصادي او ټولنیزو چارو مخته وړل، د ځانګو او سیمو د اصولو په نظر کي نیول سره، د مرکزي اداري په لاربښوونه، د تولیدي بنسټونو د اقتصادي ځانواکۍ سره په همغږۍ چاري مخته وړل کیږي. په دې لړ کي، د اقتصادي حسابونو، عاید، وروستۍ بیي او نورو اقتصادي وسایلو او انګیزو څخه ګټه اخیستل کیږي.»

د اساسي قانون ځیني یاد سوي حکمونه، هغو خلګو ته، چي د سوسیالیستي اقتصاد د اصولو سره پېژندګلوي نه لري، ځیني توضیحات غواړي. موږ دلته هڅه کوو، چي د سوسیالیستي ټولني د اقتصادي سیسټم اړوند تر ټولو مهمو پوښتنو ته ځوابونه ورکړو.

## ۱ – د اقتصاد مرکزي پلان جوړونه، څه ډول د اقتصادي بنسټونو د ځانواکۍ سره یو ځای ده؟

څه ډول چي په تېر څپرکي کي مو یادونه وکړل، د تولید پر وسایلو عام مالکیت د دې شونتیا رامنځ ته کوي، چي اقتصادي وده د یو واحد مرکزیت له لوري، په پلان سوي ډول، د ټولي ټولني په ګټه سمبال سي.

۱ – مرکزي پلان جوړونه، د اقتصادي پراختیا ددغو اساسي دندو لپاره ترسره کیږي:

- د سوسیالیستي اقتصاد د جلا ځانګو ترمنځ، د تناسب رامنځ ته کول
- د هیواد د ټولنیزي او اقتصادي ودي لپاره د دولتي پلان د اړینو شاخصونو رامنځ ته کول
- د علم، ټکنالوجۍ، پانګوني، تولیدي ځواکونو د ځای پر ځای کولو، د کاري مزد د ورکولو، بیو د ټاکلو او مالي چارو اړوند د واحدو سیاستونو مخته وړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ملي اقتصاد مرکزي اداره کول يوازي د مرکزي مقاماتو د لاربنوونو سره مخته نه ځي. د هيواد اقتصاد د بيلابيلو څانګو، موسساتو او توليدي برخو ترمنځ له تړاوونو څخه جوړ دی، ځکه خو اقتصاد بايد هم د ټول هيواد په کچه او هم د جلا – جلا کړيو ترمنځ همغږی سي.

۳ – په سوسياليستي نظام کي، د پلان سوي اقتصاد موخي او شکلونه خپله د زيار ايستونکو لخوا ټاکل کيږي او د مستقيمي او ټوله ائيزي ډموکراسۍ څخه ګټه پکښي اخيستل کيږي.

۴ – د زيار ايستونکو حق، تر پلان مخکي د خلګو لخوا په ټولپوښتنو کي، د دولتي پراختيايي پلان په مسودو کي پر ځای کيږي. دا کار په عمل کي څه ډول ترسره کيږي؟

**د پلان جوړولو چارواکي، د تېرو دورو د شمېرنو د تحليل له مخي، د هيواد د اقتصادي پراختيا ترمنځ مهم تناسبونه پيدا کوي او د هغه له مخي راتلونکی پلان جوړوي. هغوی د صنايعو او کرني، د توليد د وسايلو او استهلاکي وسايلو او نورو ترمنځ اړين تناسبونه مومي او ټاکي. د پلان بيلانسونه، د توکو، بشري ځواکونو او مالي ذيرمو د بيلابيلو اړخونو په پام کي نيولو سره محاسبه کيږي او د اوسنيو اړتياوو، تمو او شونتياوو سره يو ځای ارزول کيږي. مرکزي چارواکي دا ټول لومړني اټکلونه، د ملي اقتصاد په واحد بيلانس کي لنډوي او د هغه مسودو له مخي، د اقتصادي پراختيا اصلي اړخونه ټاکي. دا مسوده، د تصويب کېدلو څخه څو مياشتي وړاندي د رسنيو له لاري خپريږي. د خپريدلو وروسته، کارګران، مامورين، د کولکتيفونو کارکونکي او نور په رسنيو کي پر هغه باندي بحثونه کوي. د بېلګې په ډول، په شوروي اتحاد کي د ۱۹۸۱ – ۱۹۸۵ پنځه کلن پلان په اړه بحثونو کي، ۱۲۱ مليونه کسانو برخه واخيستل او د پلان په اړه يې خپل نظرونه ورکړل. ورسره د شوروي اتحاد خلګو، د پلان د دقيقوالي او سمون لپاره مرکزي چارواکو ته يو مليون ليکلي وړانديزونه ولېږل.**

۵ – د خلګو له لوري تر ارزوني وروسته، پلان د مخصوصو کارپوهانو د کميسيون له لوري ارزول کيږي، لازم سمونونه پکښي راځي او بيا د شوروي اتحاد د خلګو عالي شورا ته، چي د دولتي ځواک تر ټولو عالي مقام دی، د تصويب لپاره استول کيږي.

د تصويب وروسته، ياد پلان، د يو قانون په ډول، چي مخکي د ټولو موسساتو د کارکونکو لخوا ارزول سوی وو؛ هغوی ته د اجراآتو لپاره استول کيږي. په دې بهير کي ډموکراتيک مرکزيت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه ډول سره ځان ښيي، چي په لړ کي يې د هيواد هر وګړى کولاى سي، د ټول هيواد د اقتصاد په چارو کي ګډون وکړي.[۱۱]

٦ – توليدي بنسټونه، د واحد دولتي پلان سره په جوړجاړي کي، خپل اوږدمهاله پلانونه له ډېرو شاخصونو سره، لکه د توليداتو وروستۍ بيه، د پرسونل شمېر، د اقتصادي توليداتو د اغيزمنتوب د کچي د لوړېدلو، د کارکونکو مادي هڅوني، د کار د نويو ميتودونو د ودي او ورته نورو په اړه، خپلواکه ډول سره پلان جوړوي.

۷ – د هغو تناسباتو ترڅنګ، چي بايد په ټول هيواد کي رعايت سي؛ فرعي تناسبونه هم سته، چي يوازي ځينو ځانګو، موسساتو او توليدي ساحو پوري اړوند کيږي. په اول مورد کي، مرکزي پلان سوې اداره او په دوهم مورد کي، يوازي يوه توليدي کړۍ د ملي اقتصاد د واحد پلان په نظر کي نيولو سره يو ځاى په پام کي نيول کيږي.

۸ – د پلان جوړوني په چارو کي، د ډموکراټيک مرکزيت اصل، په زيار ايستونکو کي د اختيار درلودلو احساس روزي او د ملګرتيا د سياليو د ودي، يعنې سالمي سوسياليستي سيالۍ کچه زياتوي.

## ۲ - په سوسياليستي توليدي موسساتو کي د کار مزد په څه ډول ورکول کيږي؟

۱ – د دوهم څپرکي په پيل کي مو، په يو پانګوال توليدي بنسټ کي د يوې جوړې جامو د توليد په اړه بحث کړى وو. هغه مهال مو وويل، چي د فابريکې خاوند له هغو جامو څخه، چي بيه يې ۳۰ ډالره ده، ۱۰ ډالره ځانته اخلي. د هر هغه توکي ارزښت، چي په يوه پانګواله توليدي موسسې کي توليديږي، د همدې اصل له مخي ويشل کيږي. کارګرانو ته هغه څه، چي د توليد د وسايلو خاوند، د ځمکي د

---

[۱۱]ـ پانګوالي رسنۍ او پروپاګندهکونکي دا دعوه کوي، چي ګواکي په سوسياليستي نظام کي، يوازي د مرکزي دولت لوړ پوړي چارواکي اقتصادي پلان جوړوي او هماغه پلان له لوړ څخه کښته تطبيقوي، چي په واقعيت کي د دې خلاف په اقتصادي پلان جوړولو کي د ډموکراټيک سنټرياليزم د زرينو اصولو سره سم، د ټولني د فرد – فرد څخه نظر اخيستل کيږي او وروسته د علمي شاخصونو او تناسبونو په پام کي نيولو سره ټول غونډيږي او د خلګو د شوراګانو او ولسي واکمنۍ د بنسټونو تر رايي اخيستني او تائيد وروسته عملي کيږي. دا تګلاره، د پانګوالۍ تر بې بند و باره اقتصاد او سياسي جوړښتونو، په مراتبو ډېره علمي، منطقي، عقلاني او ډموکراټيکه ده. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجارې او خامو موادو د لګښتونو، تخنیک د زورړوالي، بریښنا د لګښت، ټرانسپورټ او نورو څخه پاتیږي؛ ورکوي.

۲ – په پانګوالي نظام کې مزد، د پانګوالو له ځیښناک وروسته یو محدوده پاته برخه ده، خو د سوسیالیستي ټولني وضعیت له پانګوالي ټولني سره توپیر کوي. په سوسیالیستي ټولني کي د کار مزد، چي تولیدي سوسیالیستي مناسبات بیانوي؛ د ټولني په ګټه د کار معیار او د ټولني لپاره د توکو د استهلاک معیار په پام کي نیول کیږي. د مزد اندازه، په عامو تولیداتو کي د یو کارکونکي د کار له اندازې سره تړاو لري. د تولیداتو د ودي او تکامل او تولیدي بنسټونو د ګټي له زیاتوالي سره، د کارګرانو او مامورینو معاشات هم لوړیږي او په هغو نعمتونو، کي چي د عام استهلاک په حساب کي ټولني ته وړاندي کیږي؛ هم زیاتوالی راځي.

**په سوسیالیستي ټولني کي د کار مزد، د کار د مودې یا د کار د حاصل له مخي ورکول کیږي. مزد ځکه په دوه ډوله ورکول کیږي، چي د کار کچه او کیفیت د کاري وختونو او یا تولید سویو محصولاتو له مخي ټاکل کیږي.**

۳ – دا چي د کار عمومي معیار وخت دی؛ له دې مخي څخه د مزد ورکولو اساسي شکل زماني دی. دا مزد د کار کونکو د کاري مودې او وړتیا له مخي ورکول کیږي. زماني مزد بیا پر دوه ډوله دی، ساده زماني مزد او د انعام ورکولو زماني مزد.

۴ – باید یادونه وکړو، چي ساده زماني مزد، د کار کیفیت او پایلي سره چندان اړیکه نه لري. د دې نیمګړتیا د له منځه وړلو لپاره زماني او انعامي مزد ټاکل کیږي، چي د هغه له مخي د ثابت معاش سربېره، په ښه کړل سویو شاخصونو ته د رسیدلو سره، کارکونکو ته انعامونه هم ورکول کیږي. دا شاخصونه بیا د ملي اقتصاد په بیلابیلو څانګو کي جلا - جلا دي. انعامونه ډېر مهال، تر پلان د ډیرو لاسته راوړنو، کیفي شاخصونو د ښه والي، د سون توکو، بریښنا او خامو موادو د سپما او نوي تخنیک د رامنځته کولو سره ورکول کیږي.

۵ – زماني مزد هغه وخت ورکول کیږي، چي د کار پایلي په ښه ډول سره نه سنجول کیږي، خو په هغو کارونو کي بیا چي نه کاري موده، بلکې کاري کیفیت اړین دی؛ بیا مزد د کار د کیفیت له مخي ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦ – په پای کی ویلای سو، زماني مزد هغه مهال ورکول کیږي، چې د کار چټکتیا نه د کارگر په لاس، بلکې د ماشین په واسطه ټاکل کیږي. د بېلگي په ډول، د اتوماتو لینونو په تولید کي ماشین په خپله اندازه تولید کوي او کارگر د تولید د کچې په زیاتوالي کي کومه ونډه نه لري، نو په دې مورد کي د کار د حاصل له مخي نه، باید د کاري مودې له اړخه مزد ورکول سي.

٧ – په سوسیالیستي صنایعو کي د کار د محصول له مخي، مزد تر ټولو زیات وي. د کار د حاصل او ثمر له مخي، مزد ورکول کارکونکي خورا زیات هڅوي او د کار مولدیت کي لوړوالی راولي. د دې شکل بله گټه داده، چې د کارگر مزد، دده له لوري د تولید سویو محصولاتو سره تړلي دي. هغه کارگر چې ثمري مزد اخلي؛ ډېره هڅه کوي، چې په خپلو مهارتونو کي زیاتوالی راولي، د کار اوزارو ته تکامل ورکړي او له هغه څخه په ښه ډول گټه واخلي، تر څو د خپل انفرادي کار په گټه کي زیاتوالی راولي.

٨ – مهالنی او د محصول له مخي مزد هم په فردي او هم په ډله ائیز ډول ویشل کیدلای سي. د میخانیزه کارونو د ښه مخته وړلو لپاره، ډلي رامنځته کیږي، چې هر غړی یې په څو مسلکونو کي بلد وي او ټول د یو بل سره همکاري کوي. په دې ځای کي د تولیداتو بریالیتوب، نه یوازي د یوه کارگر، بلکې د څو کارگرانو لپاره گټه رامنځ ته کوي.

٩ – مهالنی او د محصول له مخي مزد دواړه خپلي گټي او زیانونه لري. د مزدونو د ورکولو شکل، د تولیداتو د تخنیکي کچې او کار له شکل سره تړاو لري. د بېلگي په ډول، د محصول له مخي مزد، تر مهالني مزد کارکونکی ښه هڅوي، خو د زیات او چټک تولید ترسره کول بیا د کار په کیفیت او دقیق والي کي پوښتني پیدا کوي.

**١٠ – په ځینو سوسیالیستي هیوادونو لکه هنگري، جرمني او چکسواکیا کي بیا د مزد مختلط او گډ شکل خورا زیات دی او پر یوه وخت باندي هم مهالنی او هم د محصول له مخي مزد ورکول کیږي. په دې سره، د کار د کمیت ترڅنگ، کیفیت، دقیق والی او نور اړخونه ټول په پام کي نیول کېدلای سي.**

١١ – سوسیالیستي تولیدي بنسټونه، کولای سي په خپلواکه ډول، د معاشونو ویش ترتیب کړي، خو دا کار ښه اقتصادي تحلیل او د چارو د اغیزمنتوب ارزونه ورڅخه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳ – په مادي هڅوني کي انعامونه څه ونډه درلودلای سي؟

۱ – په هري توليدي موسسې کي د ځانګړو شاخصونو له مخي توليد ترسره کيږي او هره موسسه ځانته جلا شاخصونه لري. دغو شاخصونو ته د رسيدلو لپاره په کارکونکو کي بايد انګيزه رامنځته سي. يوازي د مهالني مزد ورکول، بيلابيل شرايط او غوښتني په پام کي نه سي نيولای. په همدې خاطر، د انعامونو د ورکړي له سيستم څخه ډيره ګټه اخيستل کيږي. د انعامونو لپاره په هره سوسياليستي توليدي موسسې کي ځانته جلا حساب وي.
۲ – د انعامونو سيستم خپله د اړوند توليدي بنسټ له لوري رامنځته کيږي، تر څو د توليداتو ځانګړني او شرايط په ښه ډول سره په نظر کي پکښي ونيول سي.
۳ – توليدي لړی د ماهيت له اړخه څخه يو ډول نه دي. په دې برخه کي ځيني کارونه لکه کان کيندنه ډير سخت دي. په هره توليدي موسسه کي ځانته جلا اړخونه، شاخصونه او اړتياوي وي. د انعامونو ورکولو څخه موخه داده، چي ځيني کارکونکي د خامو موادو او انرژۍ لږ لګښت، خو مناسب توليد ته لېواله کړي.
۴ – د انعامونو ورکولو په سيستم کي، هغه موده، چي له مخي يې جايزه ورکول کيږي، ډير اهميت لري. انعامونه د مياشتني، درې مياشتني او کلني کار په نظر کي نيولو سره ورکول کيږي.

## ۴ – عام استهلاک حساب څه دی او څه ډول ګټه ورڅخه اخيستل کيږي؟

**۱ – په سوسياليستي نظام کي، د دې ترڅنګ چي د کار له مخي ويش ترسره کيږي، ځيني نور نعمتونه خلګو ته د عام استهلاکي حساب څخه هم ورکول کيږي. دا حساب، د ټولو خلګو د ټولنيزو او فرهنګي اړتياوي په پام کي نيولو سره تنظيم او خلګو ته د دوی د ژوندانه د لا ښې هوسايني لپاره ورکول کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – د عام استهلاکي حساب ډېره برخه له دولتي بودجې څخه برابرېږي. دولتي موسسې او سازمانونه له خپلو لاسته راغلو عوایدو څخه د اقتصادي هڅوني فنډونه لکه د کور جوړوني فنډ او نور رامنځته کوي. په کالخوزونو کي بیا فرهنگي، خدماتي او مادي مرستو فنډونه وي.
۳ – له عام استهلاکي حساب څخه د ټولني ټولو اوسیدونکو ته په تحصیلي مرکزونو او روغتونونو کي مکمل وړیا خدمات برابرېږي. د ډېرو اولادونو لرونکو میندو، معیوبینو، متقاعدینو او زده کونکو ته د هغوی تنظیم سوي معاشات ورکول کیږي او وړکتونونه، کتابتونونه، کلوپونه، سپورټي تاسیسات او نور اړین ځایونه د هغه حساب په مرسته جوړیږي.
۴ – سوسیالیستي ټولنه، د ډېرو لگښتونو سربېره، عام استهلاکي حساب په دې برابروي، چي د زیار ایستونکو خلگو د ژوند کچه لوړه سي. د بېلگي په ډول، د هستوگنځی د پیسو درېمه برخه زیار ایستونکي ورکوي، په داسي حال کي چي دوې برخي یې د دولت له بودجې څخه ورکول کیږي.
۵ – له عام استهلاکي حساب څخه، د ټولو اوسیدونکو لپاره وړیا روغتیایي خدمات رامنځته کیږي. د ناروغ بستر ته، د ډاکټر په ورتللو سره ۳۰ روبله [د ۱۹۸۲ کال په ارزښت، چي د هماغه کال ۱۹۳۵ افغانی کیدلې] لگښت راځي، دغه راز په روغتون کي د ناروغ ساتلو ورځنی لگښت هم ۲۰ روبله راځي. د ماشومانو د شیدو ورکولو په مرکزونو کي د یوه ماشوم د ساتلو کلنی لگښت ۶۰۰ روبله [۳۸۷۰۰ افغانی د ۱۹۸۲ کال په ارزښت] او په وړکتون کي ۵۰۰ روبله [۳۲۲۶۹ افغانی د ۱۹۸۲ کال په ارزښت] راځي، میندي او پلرونه د دې لگښتونو یوازي پنځمه برخه ورکوي او پاته نور ټول لگښتونه یې حکومت پر غاړه اخلي.
۶ – د ښوونځی د یوه زده کونکي لپاره، د شوروي حکومت کلني لگښتونه تر ۲۰۰ روبله [۱۲۹۰۰ افغانیو] ډېر دي، خو د شوروي اتحاد خلگ د زده کړو لپاره هیڅ پیسې ورکولو ته اړ نه دي.[۱۲]
په ۱۹۸۲کال کي د هیواد په عمومي ښوونځیو کي ۴۴٫۲ ملیونه زده کونکي، په مسلکي منځنیو ښوونځیو کي ۸٫۵ ملیونه او په عالي تحصیلاتو کي ۸٫۵ ملیونه محصلینو زده کړي کولې، چي ټولو نه

[۱۲]ـ په سوسیالیستي نظامونو کي، عام روغتیایي خدمات، د ډاکټر له لومړنی کتني څخه نیولې، تر عملیاتونو او اوږدمهالي درملني پوري ټول وړیا دي. همدغسي د وړکتون څخه نیولې، د دوکتورا تر کچي پوري زده کړو کي، زده کونکي او زده کړیالان پیسو ورکولو ته هیڅ اړ نه دي، بلکې د حکومت له لوري خپل معاشونه هم لري. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازي دا چې د خپلو زده کړو لپاره يې لګښتونه نه کول؛ بلکې د دولت له لوري ورته معاشونه هم ورکول کيدل.

۷ – په سوسياليستي ټولني کي معلولينو، زړو او هغو کسانو ته، چې د کار کولو وړتيا نه لري؛ ته په ډير ارزښت کتل کيږي او له عام استهلاکي حساب څخه هغوی ته د هوسا ژوندانه ښه امکانات برابريږي.

۸ – د عام استهلاکي حساب ډيره برخه، د خلګو کار ته له پام پرته ويشل کيږي. له دې وجې څخه عام کتابتونونه، سټوډيمونه، جمنازيمونه، پارکونه، روغتونونه او نور تاسيسات هم جوړيږي. عام استهلاکي حساب بيا د ټولني ټولو غړو ته، په يو شان ډول، د مهارتونو د تکامل، روغتيايي خدمتونو او په وړکتونونو کي د ماشومانو د روزلو زمينه برابروي.

۹ – د عام استهلاکي حساب او کار له نظره ويش، له يو بل سره نه شلېدونکي اړيکي لري، ځکه په عام استهلاکي حساب کي، د ډيرو تادياتو کچه، په عامو توليداتو کي له کار سره تړلي دي. د بېلګې په ډول، د تقاعدئ معاش کچه او د ټولنيزي بيمي د معاشونو مرسته، د انسان د مزد د منځنۍ کچي، کاري سابقې او د رخصتئ سره د مزد ورکول د زيار ايستونکو له کاري شرايطو او وړتياوو سره تړلي دي.

۱۰ – عام استهلاکي حساب، چې د مادي نعمتونو د ويش نسبتاً پرمختللی شکل دی، په ډيري چټکئ سره وده کوي. د بېلګي په ډول، په شوروي اتحاد کي، د ۱۹۷۱ – ۱۹۷۵ کلونو ترمنځ د خلګو سړي سر عايد ٪۲۴ او عام حساب ٪۴۰ زياته سول. د اويايمي لسيزي په دوهمه نيمايي کي، د خلګو سړي سر عايد ٪۱۸ او عام استهلاکي حساب ٪۳۰ لوړ سو.

۱۱ – د عام استهلاکي حساب، چټک زياتوالی په دې معنا نه دی، چې د کار له مخي د ويش اهميت لږ کيږي، خو د عام استهلاکي حساب شتون، د ټولنيز عدالت او برابرئ د رامنځته کيدلو لامل ګرځي او ټولو خلګو ته يو شان موکې برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵ – په کرنه کې، د کاري مزد ورکول څه ډول وي؟

۱ – اوس تاسو پوهېږئ، چې په سوسیالیستي ټولني کي هر څوک د خپل توان په اندزاه کار کوي او هرچاته بیا د کار په اندازه مزد ورکول کیږي. په کرنیزو کوپراتیفونو کي هم همداسي ده او هر کولکتیف خپل فنډ لري او د هغه فنډ څخه د کار په اندازه مزد ویشي.
۲ – په کرنیزو کالخوزونو کي هڅه کیږي، د کلني محصول پر ځای، چي د محصول کچه هم پکښې نامالومه وي؛ د کالخوز کروندگرو ته گرانټي سوي منظم میاشتني معاشونه ورکول سي.[13]
۳ – د گرانټي سوي معاش سرچینه، د کالخوز خرڅ سوي مواد دي. کالخوزونه خپلو کارکونکو ته په نقدي او جنسي ډول (کرنیزو توکو په ورکولو سره) معاش ورکوي. که چیري یو کالخوز په یوه موده کي گرانټي سوی معاش ورنه سي کړای؛ اړ دی، چي د کرنیز بانک څخه اوږدمهاله پور واخلي.
۴ – هر کالخوزچي ته د ټاکل سویو چارو د مخته وړلو سره، معاش ورکول کیږي او د کار د کمیت او کیفیت د ډیروالي سره، یې په معاش کي هم ښه والی راځي.
۵ – په کالخوزونو کي د نقدي مزد ورکول، کروندگر، کارگرانو او روښانفکرانو ته نژدې کوي او د بزگرانو، کارگرانو او روښانفکرانو ترمنځ په ټولنیزو توپیرونو کي کموالی راولي. د ۱۹۴۰ کال راهیسي، د کارگرانو او بزگرانو په سړي سر عاید کي ۴,۱ پلا ډیروالی راغلی دی، په داسي حال کي چي په همدې موده کي د کالخوزچیانو عواید ۷,۳ برابره زیات سوي دي. د تقاعدي معاشاتو ورکول او بیمه هم، د کالخوزچیانو د ژوندانه شرایط آسانه او روښانفکرانو او کارگرانو ته د دوی ژوند ور نژدې کوي.
٦ – په کالخوزونو کي، هم د صنعتي موسساتو په ډول کاري مزد، د کار د وروستیو پایلو په نظر کي نیولو سره ورکول کیږي. میخانیکي ډلو، د مالدارۍ فارمونو او نورو ته په ورته ډول معاش ورکول کیږي.
۷ – هري ټاکلي کرنیزي ډلي ته، اړین تخنیکي توکي، کیمیاوي کوډونه او نور ورکول کیږي، تر څو خپله پلان سوې دنده ترسره کړي. دا چي د دوی د کار پایله، د کال په پای کي ښکاره کیږي؛ نو د

---

[13]ـ د یوه کالخوز حدود، تر ۲۰۰۰ جریبه متر مربع ځمکي پوري رسیږي. هر کالخوز ځان ته یوه مدیریتي اداره، مامورین، محاسبین، دفتري توکي او نور کارکونکي لري او اړوند چاري د هغو له مخي مخته وړل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکول سویو معاشونو او کار پایله په پای کي ارزول کیږي او حسابونه يې چاڼوي. د وروستیو پایلو له مخي، د مزد ورکړه، کارکونکي د کیفیت لوړولو ته هڅوي، متقابل او ځاني کنټرول رامنځته کوي او دا چاره په وروستي تحلیل کي، د کار د مولدیت د ودي، تولیداتو د اغیزمنتوب او خلګو د هوساینې د کچې د لوړیدلو لامل کیږي.

## ٦ - اقتصادي حسابونه څه ته وايي؟

١ - هره دولتي موسسه، د خپل تاسیس پر مهال، خپل اړین توکي ترلاسه کوي. تولیدي موسسې باید خپل ټول لګښتونه، د عوایدو څخه پوره او جبران کړي. د دې سربېره باید هره صنعتي موسسه ګټه ولري، تر څو د هغه په واسطه وکولای سي تولیداتو ته وده ورکړي.

اقتصادي حسابونه همدې ته وايي. د تولید د لګښتونو جبرانول، د محصولاتو د پلورلو او ګټې راوړلو څخه دا شونتیا رامنځته کوي، چې حکومت د اقتصادي انګیزو وسایل په اغیزمنه توګه وکاروي. هر څومره چې یوه صنعتي موسسه، خپل وسایل په ښه ډول سره کاروي؛ په هماغه اندازه يې د عوایدو د لوړیدلو او اقتصادي وضعیت د ښه والي او کارکونکو د مزدونو د لوړوالي لامل کیږي.

٢ - د یوې موسسې اقتصادي حسابونه د یو لړ اصولو له مخي، لکه عملي اقتصادي ځانواکي او نورو باندي ولاړ دي. هره موسسه له حکومت څخه د لازم مبلغ د ترلاسه کولو سره، په خپلواکه ډول تولیدات سمبالوي او په دولتي بانک کي جاري حساب پرانیزي، د لګښتونو لپاره اړین مبلغ له هغه څخه اخلي او پاته نور عواید هغه ته ور زیاتوي.

٣ - اقتصادي موسسې، د اقتصادي هڅوني له فنډونو څخه خپلو کارکونکو ته انعامونه ورکوي او هغو ته کورونه، کلوپونه، سپورټي ځایونه او وړکتونونه باندي جوړوي.[14]

٤ - اقتصادي موسسې مادي مسئولیتونه هم لري. دا مسئولیتونه هغه مهال راجع کیږي کله چې یوه موسسه د تړون له مخي خپلي کړي ژمني پر ځای نه کړي. په هغه صورت کي به اړونده موسسه تاوان

---

[14] ـ په پخوانیو سوسیالیستي هیوادونو کي دا دود وو، چې هره فابریکه به خپلو کارکونکو ته کورونه، وړکتونونه، ښوونځی، کلوپونه، ورزشي ځایونه او نور د ژوندانه د هوسایني بنسټونه له خپلو عوایدو څخه جوړوي. (ژباړن)


(c) ketabton.com: The Digital Library

او جريمه ورکوي، يا به د ورکول سوي کريډيټ په بدل کي ډېره ربحه ورکوي. دا ډول کنټرول په چارو کي د دقيق والي لامل کيږي.

## ۷ - د يوې موسسې عايد څه ډول کارېږي؟

**۱ – ګټه، يعنې تر لګښتونو د عوايدو ډېروالی، د سوسياليستي توليدي موسساتو تر رامنځ ته کيدلو ډېر مخته هم وه، خو د ګټې ماهيت بيا په دې کي دی، چي څه ډول ترلاسه سوې ده او د چا په ګټه بايد وکارول سي.** په سوسياليستي ټولني کي، د پانګوالي ټولني خلاف ګټه نه يوازي پر انفرادي وګړو، بلکې په ټولي ټولني پوري اړه لري. نو ګټه څه ډول ويشل کيږي او د کومو موخو لپاره کارېږي؟

۷ - شکل



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – د گټې یوه برخه مرکزي دولت ته لېږل کیږي. دا گټه بیا سوسیالیستي دولت د عامي روغتیا، پوهني، علومو، ټکنالوجي، فرهنگ، چاپېريال ساتني، سټاډیمونو، پارکونو او تفریحي ځایونو په جوړولو لگوي. یا په بله مانا د ټولي ټولني په گټه کاریږي.

۳ – د گټې بله برخه (چې په اوسط ډول د صنعتي موسستو ۴۱٪ گټه جوړوي) هماغو موسساتو ته پاتیږي، تر څو هغوی یې په دریو برخو کې ولگوي:

- د تولیداتو د ودي برخه
- مادي هڅوني برخه
- د ټولنیزو او فرهنگي کارونو برخه او هستوگنځایونو جوړول


۴ – د تولیداتو د ودي بودجه هم د گټې او هم د استهلاک لپاره د ځانگړو سویو پیسو څخه جوړیږي. دا فنډ، د نوي تخنیک لپاره د پانگي اچوني، د اوزارو د عصري کولو، ټکنالوجي د تکامل او کاري شرایطو د ښه والي لپاره لگیږي.

۵ – د مادي هڅوني او ټولنیزو او فرهنگي کارونو بودجه د دولتي پلان سره په همغږۍ لگول کیږي. که چیري د موسسې کارکونکي تولیدي پلان په ښه ډول سره سمبال کړای سي، په دې فنډ کي د حکومت لخوا هم غوښینه مرسته ورسره کیږي. حکومت هري موسسې ته په دې برخه کي د فنډ کچه ټاکي او هره موسسه باید خامخا د دې برخي لپاره ټاکل سوې کچه پوره کړي.

۶ – د ټولنیزو او فرهنگي چارو لپاره ټاکل سوی فنډ او بودجه د کارکونکو د روغتیایي او ژوندانه حالت د ښه والي، فرهنگي او علمي تکامل، استراحت ځایونو او سناټوریمونو په جوړولو، کانټینونو په سمبالولو، سپورټي مرکزونو او نورو د جوړولو لپاره لگول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ - شکل




دا ټول فنډونه، کارکونکي د توليداتو ښه والي ته هڅوي.

۷ – د شوروي اتحاد د صنايعو ګټه په ۱۹۸۲ کال کي، د ۱۹۸۱ کال په نسبت، ۱۲,۷ ملیارډه روبله زياته سوې او ۸۷,۸ ملیارډه روبله ته رسيدلې وه. دا کچه د تېر کال په پرتله ۱۴٪ زياته وه. د هغې جملې څخه ۳۶ میلیارډه روبله يعنې ۴۱٪ بيرته موسساتو ته ورکول سوې، ۱۸,۵ ملیارډه روبله یا ۲۱٪ يې د اقتصادي هڅوني فنډ ته وليږل سوې. يعنې د هرو پنځو روبلو ګټې څخه يو روبل بيرته اقتصادي هڅوني فنډ ته ليږل سوی. په دې لړ کي، ۷,۲ میلیارډه روبله د مادي هڅوني بودجې، ۷,۲ میلیارډه ټولنيزو او فرهنګي چارو بودجې او ۲,۴ ملیارډه روبله د توليداتو د ودي بودجې ته ځانګړي سوي وې.

۸ – په دې ډول سره موږ پوه سولو، چي د هري اقتصادي موسسې فنډونه، د هغوی په ګټې پوري اړه لري او ګټه بيا د عوايدو او لګښتونو ترمنځ د توپير څخه منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸ – وروستۍ بیه څه ته وايي او د توکو بیه په سوسیالیستي ټولني کي څه ډول ټاکل کیږي؟

۱ – وروستۍ بیه، د یو محصول د تولید او خرڅلاو اړوند د یوې موسسې لګښتونو ته وايي. په وروستۍ بیي کي، د خامو او دوهمي توکو وروستي لګښتونه، نفتو، انرژۍ، برېښنا او د کار نورو توکو، همداسي د موسسې استهلاکي ځانګړي سوې پیسو، د پرسونل معاشاتو او نورو لګښتونو مجموعې ته وايي.

۲ – د دغو لګښتونو سربېره، تولیدي موسسه د کارکونکو د روزني، ټولنیزي بیمې او نوري برخي هم په پام کي نیسي او د هغه له مخي د محصول لګښتونه معلوموي.

۳ – ښکاره خبره ده، چي توکي یوازي په وروستي بیه باندي نه خرڅېږي، پر دې اساس نو حکومت د هر محصول لپاره د عمده پلورني بیه ټاکي، چي د وروستۍ بیې سربېره، د پلان مطابق اجازه لرونکې ګټه هم پکښي حسابېږي. صنعتي موسسې خپل محصولات په همدې بیه بیا خرڅوي.

۴ – د تولید د وسایلو بیه، د صنعتي عمده پلورني په بیه وي او هڅه کیږي، بیه یې ټیټه وساتل سي.[۱۵]

۵ – سوسیالیستي ټولنه په ټینګه سره په دې هڅه کي ده، چي د بیو ټاکل، د عام کار د منځني حد لګښتونه پوره کړي. دا موخه څه ډول ترلاسه کیږي؟

**دولت دا ټاکي، چي د هري موسسې ځانته محصول باید تر عامو لګښتونو ډېر نه سي، ځکه د هغه پرته اړونده موسسه د محصولاتو له خرڅلاو سره نه سي کولای خپل هغه لګښتونه ترلاسه کړي، چي د بیا تولید د دوران او خپلو کارکونکو لپاره اړتیا ورته لري. حکومت د اجازه ورکول سوي ګټي او دوراني مالیاتو هغه کچي ټاکي، چي د نورو موسساتو سره ورته وي.**

۶ – د بیلابیلو صنعتي محصولاتو بیي یو له بل سره تړاو لري. د بېلګي په ډول، د یوه موټر بیه، د هغه د ماشین، اوسپیني، هنداري او نورو برخو په بیو پوري تړلی دی، چي د نورو موسساتو لخوا د موټر جوړوني فابریکو ته ورکول کیږي. د تولید په ټکنالوجۍ او تولیدي بهیر کي د تویو توکو د کاروني

---

[۱۵]ـ تولیدي وسایل، چي د بیا تولید د پروسې لپاره کاربړي؛ په سوسیالیستي ټولني کي د تولیداتو د هڅوني او مادي هوساینې د زیاتوالي په خاطر په ټیټه بیه عرضه کیږي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره، بيي هم بدلېږي. په دې ډول سره، د عمده پلورني د بيو د تکامل سره، هم د عام کار اړين لګښتونه او هم د محصولاتو د توليد او خرڅلاو د شرايطو بدليدل په پام کې نيول کيږي.
۷ – د عمده پلورني بيه، د بيلابيلو څانګو ترمنځ د تناسب سره تړاو لري. د بېلګې په ډول، د تودوخې انرژۍ لپاره اړتيا کېدلای سي، د سکرو، نفتو، طبيعي ګازو، انرژۍ او لرګيو د سوځلو له لاري پوره سي. د اوښتونکو محصولاتو بيي داسي ټاکل کيږي، تر څو د مادي سرچينو د ګټې اخيستني تر ټولو معقول شکل وهڅول سي. د بيو د ټاکني سره د بدلېدونکو توکو، اقتصادي اغيزمنتوب هم په پام کې نيول کيږي. د لږ موندل کېدونکو محصولاتو د عمده پلورني بيه داسي ټاکل کيږي، تر څو د هغوی د ګټې اخيستني اعظمي ګټورتوب په لاس راوړل سي.

**۸ – د بيو د ټاکني څخه موخه داده، تر څو د علم او ټکنالوجۍ پرمختګ وهڅوي. بيي په داسي ډول ټاکل کيږي، چې د نويو ماشينونو توليد هم د توليدونکو او هم د مستهلکينو لپاره ګټور تمام سي. توليدونکي هغه مهال نويو محصولاتو ته لېواله کيږي، چې د هغوی د خرڅلاو پيسې، اضافي لګښتونه جبران او ښه ګټه لاسته راوړل تامين کړي.**

۹ – د بېلګې په ډول، د ماشين جوړوني فابريکې توليد، يو زاړه ماشين بيه ۴ زره افغانۍ ده. فابريکه هغه په ۴,۵ زره افغانۍ خرڅوي. ۴ زره يې لګښتونه او ۵۰۰ د فابريکې ګټه ده. څه وخت وروسته فابريکه داسي يو بل ماشين جوړوي، چې د استهلاک او کاري دوام موده يې تر پخواني ماشين دوه چنده زياته ده، خو د هغه ماشين د جوړولو لپاره فابريکه ٦ زره افغانۍ لګښت کوي. فابريکه اړ ده، چې د هغه بيه هم ٦ زره او اووه سوه افغانيو ته پورته کړي، تر څو ٦ زره لګښتونه او ۷۵۰ د ګټې لپاره ورته پاته سي. په دې ځای کې مستهلک هم د نوي ماشين د رانيول سره ۲۲۵۰ افغانۍ ګټه کوي.

**په دې ډول سره، په سوسياليستي ټولني کې د توليدونکي او لګښت کونکي، دواړو ګټې په عادلانه ډول خوندي او په پام کې نيول کيږي.**

## ۹ – د پرچون پلورني بيه څه ډول ټاکل کيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – د پرچون پلورني بیه، هغه وروستۍ بیه ده، چي حکومت یې د خلگو د شخصي استهلاک لپاره ټاکي او پر هغوی یې خرڅوي.
۲ – د پرچون پلورني بیه د توکو د وروستۍ بیې، مالیاتو، لګښتونو او مجوزي ګټې له وروستۍ بیې څخه ټاکل کیږي.
۳ – په حکومتي او کوپراتیفي سوداګرۍ کي، د پرچون پلورني څو ډوله بیې کارول کیږي. په شوروي اتحاد کي، په ټول هیواد کي د ډیرو توکو بیې یو شان دي. د بیو دا یو شان والی په هغو توکو کي دی، چي د تولید لپاره یې په ټول هیواد کي تر ډیره یو شان لګښتونه راځي او د خلگو اساسي ضرورتونه جوړوي.
۴ – هغه توکي چي د یوه هیواد له یوه سر څخه یې بل سر ته انتقال ګران پریوځي، د سیمه ائیزي پرچون پلورني په بیه باندي عرضه کیږي. دا بیې تر ډیره پوري د خوراکي توکو او ځیني نورو هغو صنعتي توکو اړوند دي، چي له یوه ځای څخه بل ته یې انتقال شونی نه وي.
۵ – د ځینو سبزیجاتو او میوه جاتو ته بیا موسمي بیې ټاکل کیږي، چي د یوه موسم په نسبت بل موسم ته توپیر کوي.
٦ – په سوسیالیستي ټولني کي هڅه کیږي، د خلگو په ګټه باندي، د پرچون پلورني د بیو ثبات وټاکل سي، خو د توکو په تولید کي د لږ و ډیر بدلونونو له راتللو سره دا بیې هم اوړي، خو هیڅکله هغې کچې ته نه رسیږي، چي د خلگو د رانیولو، لګښت او استهلاک وس دي را ټیټ سي. د بېلګې په ډول په شوروي اتحاد کي د نانوایي د ډوډۍ بیه هماغه د ۱۹۵۴ کال بیه ده، دغه راز د لبنیاتو او غوښي اوسنۍ بیه هم د ۱۹٦۲ کال بیه ده. په وروستیو ۲۸ کلونو کي، که د ځینو توکو بیه ۹٪ لوړه سوې ده، خو په څنګ کي یې بیا د خلگو عاید د تېرو اته ویشتو کالو راهیسي ۲,۵ برابره (۲۵۰٪) زیات سوی، دغسي د کالخوزچیانو مزد بیا په وروستیو دیارلسو کلونو کي ۱,۷ برابره (۱۷۰٪) ډیر سوی دی.
**۷ – سوسیالیستي حکومت د توکو د بیو د آګاهانه ټاکلو او اړولو سره، نه یوازي د توکو بیې، بلکې د مشخصو توکو اهمیت د انسان په ژوندانه کي په نظر کي نیسي. په همدې موخه، د توکي قیمت کېدلای سي د هغه تر ارزښت کښته یا پورته وټاکل سي او په دې ډول سره خپله دنده د نعمتونو د بیا ویش په برخه کي ترسره کړي. د بېلګې په ډول، د قصابۍ غوښي، شیدې او د لبنیاتو نور ډولونه، کبان او نور، تر وروستۍ تمام سوي بیې کښته خرڅېږي. دغه راز، د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماشومانو جامې، د ماشومانو اړوند کتابونه، د لوبو وسایل، کتابچې او د قرطاسیې نور توکي، درمل، نخي ټوکران او نور توکي تر خپل ارزښت په ټیټه بیه خرڅیږي، خو په بله خوا کي بیا ځیني توکي، تر تمام سوي بیې په مراتبو گران خرڅیږي، لکه زر، د حیواناتو طبیعي پوستونه، الکولي مشروبات او نور تجملي توکي.**

۸ – د عام استهلاک د قیمتونو کچه د هیواد د اوسیدونکو د هوساینې کچه ټاکي، خو دا هوساینه تر ډیره له عاید سره هم تړلې ده.

## ۱۰ ـ د خلگو اصلي عایدات له څه څخه وي؟

۱ – د خلگو عاید له هغو پیسو څخه جوړیږي، چي د کار د مزد، تادیاتو او عام استهلاکي حساب له محصولاتو څخه لاسته راغلی وي. که چیري د لومړنیو توکو او هستوگنځۍ بیې لوړې وي، د لگښت کچه کمیږي او د لگښت د کچي له کمېدو سره سم د هوساینې کچه هم زیانمنه کیږي. په سیاسي اقتصاد کي د واقعي عایداتو مفهوم، د مادي او معنوي نعمتونو هغه شمېر ته کاریږي، چي د ټولني غړي کولای سي، د کار د مزد او عام استهلاکي حساب څخه د لاسته راغلي محصول له مخي هغه لاس ته راوړي.

۲ – د مادي او فرهنگي نعمتونو دا شمېر، نه یوازي د خلگو په عوایدو بلکې د استهلاکي توکو په بیو، د خدماتو په تعرفو (لکه طبیعي گاز، بریښنا، ټیلیفون، عام ټرانسپورټ او نور) د زده کړو او روغتیایي خدمتونو لگښتونه، هستوگنځۍ کرایې، د بیمې تادیاتو، د بیکارۍ د مهال مرستي معاش او نورو سره هم تړلي دي. د یادوني وړ ده، چي په سوسیالیستي هیوادونو کي بیکاري نسته او زده کړي او روغتیایي خدمتونه وړیا دي.

۳ – د گرانو لوستونکو به خامخا پیاد وي، چي په کتاب کي، د عام استهلاکي حساب د بحث پر مهال موږ یادونه وکړل، چي د هستوگنځۍ د ساتني او ترمیم د لگښتونو دریمه برخه د حکومت له لوري ورکول کیږي او له درو برخو څخه یوازي یوه برخه یې حکومت ورکوي. ستاسي به دا هم خامخا پیاد وي، چي د هستوگنځۍ کرایه، په اوسط ډول د کارگرانو او مامورینو د کورنۍ بودجې درې سلنه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴ – سوسیالیستي ټولنه، په بیلابیلو تاریخي پړاوونو کي، د زیار ایستونکو د واقعي عوایدو د لوړولو لپاره بیلابیل شکلونه او میتودونه لکه د استهلاکي توکو د پرچون پلورني د بیو ټیټول، د معاشونو لوړول، د هستوګنځۍ د شرایطو ښه کول، د رخصتۍ ورځي زیاتول، د ثابت مزد سره د کاري ورځي کمول او د وړیا چوپړونو برابرول پر کار اچولي دي او ورځ تر بلې لا زیاته پراختیا ورکوي. دا شکلونه، د ټولنیز تکامل په بیلابیلو پړاوونو کي بدلیږي.**

۵ – د واقعي عوایدو دوامداره زیاتوالی زیار ایستونکو سره مرسته کوي، تر څو خپلې زیاتېدونکي مادي او معنوي اړتیاوي پوره کړي او خپل ځان ته په هر اړخیز جسمي او عقلي ډول تکامل ورکړي.


**ځیني «ځان انقلابي ښودونکي» د خلګو د ژوندانه د سطحي ښه کېدل د «بورژوازي کېدلو» سره ورته او د هغوی ځانغوښتنه یې بولي، خو دا کسان په واقعیت کي د خلګو اساسي غوښتنو په اړه بې پروا دي. کارګره طبقه، له کروندګرو سره په یووالي کي، د هیواد چاري د دې لپاره په لاس کي اخلي، تر څو لوږي، ناروغیو، بیسوادۍ او جهالت ته د پای ټکی کښیږدي. د سوسیالیزم لوی انساني مفهوم په همدې ټکي کي دی.**

٦ – د خلګو د هوسایني کچه پر کوم لور ځي؟ په اوسني پړاو کي به کوم شکل تر ټولو زیات اغیزمن وي؟ دا مسایل بیا د کمونیزم د ودانۍ جوړولو تیورۍ او پراټیک لپاره ډیر اهمیت لري.

۷ – په اوسني پړاو کي، د خلګو د عوایدو د زیاتوالي لپاره ښه لار، د کاري مزد ډیرول دي. د دې میتود څخه ځکه ګټه اخیستل کیږي، چي مادي نعمتونه خپله نه رامنځته کیږي بلکې د خلګو د کار او زیار په واسطه منځته راځي. په همدې موخه، سوسیالیستي دولت هڅه کوي د کار له مخي ویش وهڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ - شکل




۸ – تر دوهمي نړيوالي جگړې وروسته موده کي، د زيار ايستونکو د مادي هوسايني د لوړولو لپاره د استهلاکي توکو د پرچون پلورني د بيو د ټيټوالي څخه گټه اخيستل کيدل، خو له دې تګلاري څخه د لوړ مزد درلودونکو کارکونکو ډيره گټه اخيستل. د بېلگي په ډول، که د يو شمېر توکو بيه ۱۲٪ ټيټه سوې وای، نو د ۱۰۰ روبله معاش اخيستونکي ته يې ۱۲ روبله گټه رسول، خو د ۳۰۰۰ روبله اخيستونکي ته يې بيا ۳٦ روبله گټه وررسول. د همدې لپاره حکومت هڅه وکړل، د پرچون پلورني بيې ثابتي وساتي او د لږ مزد کارکونکو معاشات لوړ کړي.

۹ – د مادي هوسايني د کچي لوړيدل د توليداتو له پراختيا سره تړلي دي. د مادي توليداتو ساحه، چي ټول استهلاکي توکي په هغه کي توليد کيږي، په داسي ډول سره وده کوي، تر څو د زيار ايستونکو د ژوندانه شرايط په ښه ډول سره سمبال سي. د ښووني او روزني، عامي روغتيا، علومو، فرهنگ او ټکنالوجی برخي په ښه ډول سره وده وکړي. دلته داسي اړيکه موندل کيږي، چي د خلگو د هوسايني د کچي لوړيدل يوازي پايله نه، بلکې د توليداتو د ډيريدلو لامل هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۱ – پیسې څه ونډه لري او کومې دندې ترسره کولای سي؟

۱ – پیسې په واقعیت کې د متاعي تولیداتو د ودې پایله ده. له پیسو پرته، متاعي مناسبات هم ناشوني وه. په سوسیالیستي نظام کې، د متاعي مناسباتو ځانګړی ماهیت، د پیسو په خاصو ځانګړتیاوو او دندو کې دي، چې دلته به ځیني هغه عوامل وڅیړو.

**۲ – په سوسیالیزم کې پیسې دا کارونه کوي: د ارزښت معیار ټاکل، د دوران وسیله ګرځیدل، د تادیاتو وسیله ګرځیدل، سوسیالیستي ذیرمه او پس انداز رامنځته کول او نړیوالي پیسې.**

۳ – پیسې د ارزښت د معیار په توګه، د زرو د خیالي مقدار په ډول ښکاره کیږي. ټول توکي د پیسو په شکل کې، خپل ارزښت ښيي. دا دنده د بیي په ټاکنه کې ترسره کیږي او د هغه په وسیله د ټولو توکو د مبادلې تناسبات تثبیتیږي او د یوې جلا موسسې او ټولې ټولني لپاره د یوه توکي د تولید لګښتونه ټاکل کیږي. د پیسو دا دنده د بیو د اندازه په واسطه ترسره کیږي. د بیو د اندازې کولو بنسټونه بیا د زرو د هغه شمېر، چې د دولت په واسطه د هیواد په پولي واحد کې تثبیت سوي دي، رامنځته کیږي. مانا دا چې هر هیواد د هغه زرو د شمېر له مخې، چې په خپلو اسعارو کې یې تثبیت کړي دي، خپل ځان ته د بیو مقیاسونه لري.

۴ – پیسې، د ارزښت د معیار په توګه، د زرو د ټاکل سوي شمېر سره د خیالي مطابقت له مخې، د زرو د ټاکل سوي شمېر په ډول ښکاره کیږي. پیسې په خپلې دې ځانګړني کې، تر ډیره پوري د پرچون پلورني توکو د دوران په ډول کار او د توکو په مبادله کې د منځګړي دنده ترسره کوي.

**پیسې د دوران د وسیلې په توګه دا شونې کوي، چې د توکو د دوران پلانونه تر کنټرول لاندې ونیول سي، د توکو پر تولید او دوران باندې اغېزه کوي، د پیسو دوران تنظیم سي او عرضه او تقاضا یو د بل سره په جوړجاړي کې راسي.**

۵ – دا چې پیسې، له دوران څخه د توکي تر وتلو وروسته هغه ته داخلیږي، له دې مخې څخه د تادیې وسیله هم ده. توکي، د خرڅونکي څخه د اخیستونکي لاس ته ورځي او پیسې سرچپه لار وهي. که دا سرچپه حرکت، د یوې ټاکل سوي مودې وروسته سره ترسره سي، هغه مهال بیا پیسې د پور د مسئولیتونو د ادا کولو دنده ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسې، په بیلابیلو شکلونو او ځایونو کې په بیلابیل ډول، د تادیې د وسیلې په توګه دنده ترسره کوي، د بېلګې په ډول: د هغو توکو او خدمتونو د پیسو تادیه کول، چې اوسیدونکو د پور په ډول اخیستي دي، د یوې موسسې په واسطه د بانکي کریډیټ اخیستلو او ورکولو پر مهال، یا د زیار ایستونکو د مزد د ورکولو، د تقاعدي معاشونو او محصلینو د معاشونو ورکولو او مالیاتو، تادیاتو، بیمې او نورو برخو کې د حسابونو د چاڼولو پر مهال. د دې دندې پر اساس، د سوسیالیزم د مالي او کریډیټي سیستم دندې وده کوي. پیسې، د تادیې د وسیلې په ډول، په واقعیت کې د ملي اقتصاد د ودې مهمه برخه ده. پیسې، چې د هغه په واسطه، مالي او کریډیټي مناسبات عمل کوي، د تولیدي پلان د تطبیق د څارنې او د موسسو او ځانګو ترمنځ د مادي ارزښتونو د بیا ویش لپاره، تر څو تولیدات د ټولنې په ګټه لا ښه وده وکړي؛ کارېږي. سوسیالیستي دولت، چې د بېلګې په ډول، د یوې موسسې د کارکونکو کاري مزد کنټرولوي، هممهاله د موسسې نور اړخونه او تر ټولو زیات د تولیدي پلان په تطبیق باندي هم پام کوي.

٦ – پیسې د ذیرمې د وسیلې په ډول، عامه او انفرادي شتمنې ښیي، خو د پیسو دا دنده په سوسیالیستي ټولنې کې د نورو ټولنو سره توپیر کوي. دوه ډوله سوسیالیستي ذیرمې سته، عامه او انفرادي. ټولنه د دولت په شتون کې، د پانګونو، عام استهلاکي حساب د ذیرمو ډیرولو او خدماتي برخو د کارکونکو د مزد ورکولو لپاره ذیرمه کوي.

**ځانته جلا موسسې هم خپلې پیسې ذیرمه کوي، خو نه د نقدو پیسو په ډول، بلکې د دولتي بانک د حسابونو په ډول. هغوی خپل ټول پولي عواید په بانک کې ایږدي او دا چاره د دې شونتیا رامنځته کوي، چې هغه عواید د ټولي ټولنې په ګټه وکارېږي. په دې ډول سره، ټولي سوي پیسې په خزانې نه بدلیږي، بلکې په دوران کې وي، په تولیداتو کې برخه اخلي او ټولنې ته ګټه رسوي.**

٧ – له هغه ځایه چې پیسې د ځانته جلا هیوادنو له پولو څخه وځي، نړیوال بازار ته رسیږي، د نړیوالو پیسو دنده هم ترسه کوي. پیسې په نړیوالو بازارونو کې خپل ملي شکل له لاسه ورکوي او د زرو په ډول، چې د عمومي مبادلې وسیله ده؛ ځان ښیي. د نړیوالو پیسو دنده، د بهرنۍ سوداګرۍ په دوران کې د سوسیالیستي او پانګوالي هیوادونو ترمنځ توپیر کوي، ځکه په دې برخه کې پیسې د ټولنیزي او اقتصادي محتوا له مخې، بیلابیل مناسبات رامنځته کوي. سوسیالیستي دولتونه، د پانګوالي هیوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د اقتصادي راکړي – ورکړي او عملیاتو پر مهال د زرو او بهرنیو اسعارو څخه ګټه اخلي، خو د سوسیالیستي هیوادونو په منځ کي بیا د زرو دوران ته اړتیا نسته او معاملې په غیر نقدي ډول د هوکړه سویو تدارکاتو له مخي ترسره کیږي.

## ۱۲ – د پیسو دوران څه ډول پلان او تنظیمیږي؟

۱ – د دوران د وسیلې په توګه، د پیسو د دندي سرته رسولو پر مهال، په کاغذي نوټونو، فلزي سکو او زرو باندي د هغوی د اوښتون شونتیا او اړتیا سته. دا ګام له اقتصادي نظره په دې معقول دی، چي د زرو دوران د پیسو په توګه د دوران لګښتونه زیاتوي او د حکومت د زرو د ذیرمو د پاشلتیا لامل نه ګرځي.
په کاغذي نوټونو باندي د زرو اړول، د پیسو پر دوران باندي د حکومت تنظیم او کنټرول آسانه کوي، ځکه کاغذي نوټونه په آسانۍ سره، دوران ته اچول کېدلای او بیرته ایستل کېدلای سي او حرکت یې تر کنټرول لاندي راځي.
**۲ – خو د کاغذي نوټونو او سکو په واسطه د زرو بدلول یوازي هغه مهال د ټولني اقتصاد ته ګټه کوي، چي دا تعویض د پیسو د دوران له قانون سره سم ترسره سي. د یاد قانون محتوا داده، چي هغه شمېر پیسې، چي د دوران لپاره اړیني دي؛ هغه د توکو د قیمتونو د مجموعې او د پولي واحدونو د دورانونو له ویش سره سم وي.**
۳ – دا قانون په هر ټولنیز او اقتصادي نظام کي، په ځانګړي ډول کار کوي. د بېلګي په ډول، په پانګوالي تولیداتو کي، چي خپل په خپله او په غیر منظم ډول وده کوي؛ د پیسو دوران د پلان له مخي نه سي تنظیمېدلای. پانګوالي دولتونه تر اړتیا زیاتي پیسې دوران ته اچوي. په دې کي هیڅ د حیرانتیا خبره نسته، چي له دې کار سره د پیسو ارزښت کمیږي. دا یوازي یو هغه دلیل دی، چي موږ ته وښیي، ولي پانګوالي اقتصاد هر وخت د اسعارو له بحران سره مخ وي.
**یوازي په سوسیالیستي نظام کي، د تولیداتو د بیو تنظیم، له دوران څخه د پیسو ایستل او نور شوني کیږي او د ټولي ټولني په ګټه د پیسو شمېر او د دوران چټکتیا رامنځته کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – د توکو تولید او پلان سوی دوران او د ثابتو بیو ټاکل، چي توکي د هغه سره سم عرضه کیږي، په سوسیالیستي ټولني کي د پیسو ثبات رامنځته کوي. په ثابتي بیي باندي، د توکو عرضه کول زیار ایستونکي په دې ډاډمنوي، چي هم نن او هم سبا له هغه مزد سره چي ترلاسه کړی یې دی؛ هغومره توکي، چي اندازه یې له وړاندي مالومه ده؛ ترلاسه کولای سي.

۵ – سوسیالیستي هیوادونه، چي د خلګو د نقدي عوایدو کچي او خرڅیدونکو توکو ته پلان جوړوي او دواړو د تطبیق زمینه برابروي؛ د توکو د بیو ثبات ساتي. ثابتي بیي، په خپل وار سره د دې شاهدي ورکوي، چي په دوران کي دننه پیسو شمېر، د توکو د نورمال دوران لپاره بسنه کوي.

٦ – په سوسیالیستي نظام کي، د پیسو د دوران بله ګټه د هغه مرکزیت دی، چي د دولتي بانک په واسطه د خزانې د وحدت د اصل له مخي، سمبالیږي. پیسې د ډیرو موسساتو او انفرادي وګړو څخه، واحد دولتي بانک ته ورځي او د هغه له طریقه بیاځلي موسساتو او وګړو ته ویشل کیږي. د دولتي او کوپراتیفي موسساتو او سازمانو ترمنځ غیر نقدي محاسبې ترسره کیږي. په داسي حال کي چي نقدي پیسې تر ډیره پوري د سوسیالیستي موسساتو، خلګو او همدارنګه انفرادي وګړو ترمنځ بدلیږي – را بدلیږي، نقدي پیسې د سوسیالیستي موسساتو تر منځ په حسابونو کي، یوازي په استثنایي توګه، د جزئي تادیاتو د ادا کولو لپاره کارېږي.

۷ – په شوروي اتحاد کي، دولتي بانک نوټونه، د سلو، پنځوسو، شلو، لسو او پنځو معادل، دوران ته اچول سوي دي. دغه راز بانک، تورو پیسو د اړتیاوو د له منځه وړلو لپاره، د پنځو، درو او یوه روبل او یو روبل معادل فلزي سکې او کیپک (۱۰۰ کیپک یو روبل کیږي) عرضه کړي دي. د کاغذي نوټونو او فلزي سکوکو دا ډول بیلابیل والی، محاسبې آسانه کړي او د اتوماتو سیستمونو په واسطه د سوداګرۍ له دودېدلو سره مرسته کوي.[۱٦]

۸ – د پیسو ډیره برخه د مزد له لاري دوران ته اچول کیږي او د پرچون پلورني د سوداګرۍ له لاري بیرته له دوران څخه را ایستل کیږي. د سوداګریزو موسساتو پیسې، دولتي بانکونو ته د ورتلونکو پیسو

[۱٦]- د ختیځي اروپا سوسیالیستي هیوادونو د ښه اقتصادي وضعیت له امله، حتی د سلو او پنځوسو بانک نوټونه هم نه ول چاپ کړي. د بېلګي په ډول، په سوسیالیستي بلغاریا کي تر ټولو لوړ بانکنوټ د ۲۰ په ارزښت وو. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيره برخه جوړوي. د مزدونو او هغو توکو، چي د دولتي سوداګرۍ له لاري عرضه کيږي، ترمنځ تناسب ډير مهال د اضافي پيسو استولو او يا له دوران څخه د مازادو پيسو را ايستل ټاکي.

**۹ – د خلګو د عوايدو او لګښتونو بيلانس، چي د مالي ارګانونو له لوري ترتيب کيږي، د ملي اقتصاد د پلان يو برخه جوړوي. ياد بيلانس د نقدو پيسو کلنۍ حرکت په ټول هيواد او سيمو کي ښيي. د پولي عوايدو او لګښتونو بيلانس د خلګو د تقاضا د ټاکلو او د هغوی د احتمالي سپما، چي دوی يې د پس انداز په حسابونو کي اچوي، ښيي او د پولي دوران د لا دقيق سياست د عملي کولو لپاره زمينه برابروي.**

## ۱۳ – مالي چاري څه ونډه لري؟

۱ – د توکو له توليد سره، د توکو او پيسو د حرکت لپاره بيلابيلو شکلونو ته اړتيا سته، لکه مالي چاري، کريډيټ او نور.

۲ – مالي چاري هغو پولي مناسباتو ته وايي، چي د پيسو حرکت په سيده ډول، د توکو د حرکت سره نه يو ځای کيږي، د بېلګي په ډول ماليات، کريډيټ، بيمې او نور. د توکو او پيسو د خوځښت ترمنځ د مستقيمي اړيکي نه شتون، د مادي ارزښتونو د ويش ځانګړنه ده. له دې مخي څخه، مالي مناسبات تر ټولو وړاندي د توکو او خدماتو ويش او بيا ويش رامنځته کوي او په دې ډول سره د هغه په توليد، مبادلې او استهلاک باندي اغېزه کوي.

۳ – له دې کبله، چي د توليد قاطع وسايل او د توليد سويو محصولاتو ډيره برخه په ټولي ټولني پوري اړه لري، سوسياليستي حکومت د پيسو ډيره برخه په خپل لاس کي متمرکزه ساتي. حکومت، دا پيسې د ملي اقتصاد په بيلابيلو څانګو کي ويشي او د هغه څخه ګټه اخيستنه تر خپل کنټرول لاندي راولي. په دې ډول سره سوسياليستي مالي مناسبات دوې اصلي دندي، چي ويش او کنټرول دي، ترسره کوي. دواړي دندي يو له بل سره، نه شلېدونکي اړيکي لري، ځکه د ګډو اقتصادي بنسټونو يعني عام مالکيت درلودونکي دي.

**۴ – د سوسياليستي مالي چارو يو بله ځانګړنه په پلان سوي ډول د هغو کارونه ده. مالي چارو ته د پلان جوړوني شونتيا په دې کي ده، چي عام توليدات د پلان له مخي، موندل کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حکومت د مالي سیستمونو په واسطه، د پولي مبالغو اخیستل له وړاندي څخه لا ټاکي او په هغه سره کولای سي، د تولیداتو پراختیا او د ملي اقتصاد نوري برخي په فعاله ډول سره تر اغیزې لاندي راولي.**

۵ – مالي سیستم، تر ټاکلي کچي پوري، د ټولني د اقتصادي سیستم جوړښت ښیي. د بېلگي په ډول، د ملي اقتصاد لومړنۍ کړۍ تولیدي موسسې دي. همدا تولیدي موسسه بیا د مالي سیستم لومړنۍ کړۍ هم گڼل کیږي. د پولي لگښتونو او ذیرمو اړوند پولي مناسبات د سوسیالیستي اقتصاد د هر سکټور، په هري تولیدي برخي کي ښکاره کیږي. په دې ځای کي دی، چي د کار د مزد پولي بودجه او د موسسې او ځانگي گټه رامنځته کیږي. دا عوامل، د تولیدي موسسو او ملي اقتصاد د جلا برخو ترمنځ مالي مناسبات جوړوي.

۶ – د تولیداتو د نه دریدونکي نوي کېدلو پر مهال (یعنې د بیا تولید په لړۍ کي) د پولي ذیرمو مرکزي بودجه، چي په ټولو خلگو پوري اړه لري؛ رامنځته کیږي، دا بودجه د تولیداتو د ودي، خدماتي بنسټونو د جوړولو او نورو عامو اړتیاوو د پوره کولو لپاره اړین دي. دا پولي مناسبات د مرکزي دولت مالي چاري مخته وړي.

۷ – د مالي مناسباتو خاص شکل، کریډیټ دی. د مادي ارزښتونو د دوران پر مهال (لکه خام مواد او تیار سوي محصولات) چي په سوسیالیستي موسساتو کي تولید کیږي، په هغه کي پولي شمېري د موقت وخت لپاره پریښودل کیږي. د هغه سره هممهاله، د موقتي اړتیاوو د له منځه وړلو لپاره اضافي پیسو ته اړتیا را منځته کیږي. پر دې بنسټ، د پیسو حرکت رامنځته کیږي، خو په غیر نقدي ډول. دا پولي مناسبات، د کریډیټ بنسټونه جوړوي. ځانگړنه یې په دې کي ده، چي پیسې د هغه لومړني خاوند ته چي پور ورکونکی دی؛ ورگرځي.

۸ – په دې ډول سره مالي چاري دا درې برخي په ځان کي رانغاړي:

الف) د سوسیالیستي ملي اقتصاد د تولیدي موسساتو او ځانگو مالي چاري، چي د مالي سیستم لومړنۍ کړۍ جوړوي

ب) د مرکزي دولت مالي چاري، چي د مالي سیستم رهبري کونکې کړۍ ده

ج) کریډیټ، چي په عامو تولیداتو کي په موقتي ډول ورکول سوي مبالغ ښیي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۴ - کریډیټ ولي اړین دی او ونډه یې څه ده؟

۱ – د پیسو او توکو د مناسباتو څرنګوالی، د کریډیټ څرنګوالی ټاکي. د پانګوالی په شرایطو کي کریډیټ د پور پانګه یا استقراضي پانګه رامنځ ته کوي. په سوسیالیستي ټولني کي پانګه نسته. په دې ډول سره، کریډیټ، په ملي اقتصاد کي په موقتي او پلان سوي ډول د یو شمیر پیسو ورکول دي. دا پیسې سوسیالیستي موسساتو ته د پورونو په ډول ورکول کیږي، تر څو هغوی یې خپلو تولیداتو د زیاتولو فنډونو کي وکاروي. کریډیټ په سوسیالیستي ټولني کي، د ټولي ټولني په ګټه، د پولي شمېر د بیا ویش یو خاص شکل دی.

۲ – په سوسیالیستي ملي اقتصاد کي، آزاد پولي مبلغونه، د تولیدي فنډونو په لړ کي (اساسي او دوراني) منځ ته راځي. د اساسي تولیدي فنډونو ارزښت (د سیستمونو، اوزارو او ودانیو لپاره) په پړاویز ډول، د تولید سوي محصول قسطونو ته ورګرځي، خو د دغو فنډونو بیا ځلي نوي کول، د اوږد مهال وروسته په جنسي ډول ترسره کیږي. پر دې بنسټ، د تولیدي موسسې د فنډونو څخه انتقال سوی ارزښت، په موقت ډول راوځي. استهلاکي په پړاویز ډول غونډیږي او یوازي د یوې ټاکلي مودې وروسته، د ماشینونو او نویو اوزارو د رانیولو او بنسټیزو بیارغونو لپاره کاریږي. په دې ډول سره، د فنډونو د دوران پر مهال یو موسسه کله – کله آزادي پیسې لاس ته راوړي. د بېلګي په ډول، هغه شمیر پیسې، چي د خامو موادو او انرژۍ لپاره ځانګړي سوي دي، ځیني وختونه ذیرمه کیږي، ځکه د دغو مادي ارزښتونو رانیول یوازي، د ټاکلو وختونو د تېریدلو وروسته عملي کیږي. په همدې ډول سره، د مزدونو په فنډ کي، د محصولاتو خرڅلاو ذیرمه کیږي، خو مزدونه یوازي په میاشتني یا په میاشت کي دوه ځله ورکول کیږي.

۳ – آزاد پولي مبالغ دغه راز د ټولني او موسساتو له سوچه عاید څخه هم رامنځته کیږي. زیار ایستونکي هم موقتاً پریښودل سوي پیسې په لاس کي اخیستلای سي. دا پیسې، د پس انداز د صندوقونو له لاري، په بانک کي ځای پر ځای کیږي او د کریډیتي عملیاتو لپاره ګټه ورڅخه اخیستل کیږي، خو آزادي پیسې یوازي هغه مهال د کریډیټ په وسیلې باندي بدلیږي، چي نوري موسسې اړتیا ورته پیدا کړي. موسسې د بېلګي په ډول، د خپلو مبالغو د دوران پر مهال، پورونو ته اړتیا پیدا کوي. د یوې موسسې په واک کي سته پیسې، کله لږي او کله زیاتیږي. پولي ذیرمي کله – کله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسسې د اړتیاوو لپاره لري او کله هم ډیري وي. د بېلګي په ډول، د خوړو جوړولو فابریکې، د لبلبو یا ګني د لاس ته راوړلو پر مهال، ډیرو لګښتونو ته اړتیا لري، خو د محصولاتو د خرڅولو پر وخت بیا لږ پیسې غواړي. په همدې مهال کي بیا شوني ده نوري موسسې، اضافي لګښتونو لپاره پیسو ته اړتیا پیدا کړي. نو دا پیسې د کریډیټ څخه په ګټي اخیستني سره، د ټول ملي اقتصاد د ودي لپاره کارېږي.

۴ – کریډیټ، د موسساتو د بنسټیزو فنډونو په وده کي، د تخنیکي پرمختګ په عملي کولو او د موسساتو د دوراني بنسټونو پر مهال، ډیره ونډه لوبوي. کریډیټ، د تولیداتو لړۍ چټکه کوي، د هغوی خرڅلاو زیاتوي او د تولید او استهلاک ترمنځ زماني توپیر لنډوي. په دې ډول سره کریډیټ، د عامو تولیداتو پر اغیزمنتوب باندي مثبته اغېزه کوي.

۵ – په کریډیټي مناسباتو کي، د ربحي د سمي بیه ټاکل ډیر ارزښت لري. د ربحي کچه خپلي پولي لري. ربح باید د دې لپاره بسنه وکړي، چي په پور اخیستونکو موسساتو کي د سپما لپاره اغیزناکي انګیزې رامنځ ته کړي او په بانکونو او د پس انداز په صندوقونو کي له پیسو د زیاتي ساتني څخه ډډه وکړي. د کریډیت ربحه باید شرایطو ته په کتو او د هغوی اغیزمنتوب په پام کي نیولو سره، د ۱ څخه تر ۱۰٪ پوري وي. د کریدیټ د ربحي دا توپیر د دې لپاره کارېږي، تر څو د ربحي پالیسي، د تولیدي کلکتیفونو او ټولي ټولني ګټي په پام کي ونیولای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستۍ خبري

۱ – که له انقلاب څخه وړاندي روسيې، د نړۍ يوازي ۴٪ توليدي محصولات جوړول، اوس په شوروي اتحاد کي د نړۍ پنځمه برخه صنعتي توليدات توليد کيږي او ټول سوسياليستي هيوادونه بيا د نړيوالو صنعتي محصولاتو ۴۰٪ برخه جوړوي. د نړيوال سوسياليستي سيستم غړي هيوادونه د ګډو اقتصادي بنسټونو (د توليد پر وسايلو عام مالکيت) بنسټونو، ورته سياسي نظامونو (د زيار ايستونکو سياسي واک، د کمونستي او کارګري ګوندونو په وسيله) ګډي ايډيالوژۍ (مارکسيزم – لنينزم) او ګډو بنسټيزو موخو (د ځېښاک څخه د بشريت خلاصون، د ځمکي پر مخ د سولي ساتل او کمونستي ټولني جوړول) دي. دا ټول عوامل د دې لامل سوي دي، چي د سوسياليستي هيوادونو ترمنځ، د مساوي حقوقو، همکارۍ او متقابلو مرستو پر اساس نوي اړيکي رامنځته او زياتي سي.

۲ – د ملي اقتصاد د پلانونو انسجام، د اقتصادي پاليسيو لپاره مشورې، د لېواله هيوادونو له لوري د صنايعو د ځينو برخه د ودي لپاره ګډه پلان جوړونه او د پلان جوړوني او ملي اقتصاد د ادارې اړوند د تجربو شريکول، د وړونو هيوادونو ترمنځ زيات دي. په هغو اقتصادي برخو کي، چي د ګډ کار او پراختيا هوکړه باندي سوې ده، د پلان له مخي ګډ کار کيږي. دا ګډ کار د دې لامل کيږي، چي بيلابيل هيوادونه د خپلو وطني سرچينو څخه د سوسياليستي همکارۍ په چوکاټ کي ښه ګټه واخيستلای سي. د دې سربېره، دا هيوادونه د پانګوالي هيوادونو د اقتصادي کړکېچونو څخه هم خوندي وي. سوسياليستي اقتصاد په ثابت او چټک ډول سره وده کوي.

۳ – سوسياليستي هيوادونه د مخ پر وده هيوادونو سره، د هغوی ټولنيز سيستم ته له کتلو پرته مساويانه مرستي کوي. سوسياليستي هيودونه په پوره قاطعيت سره، د امپرياليزم او استعمار د تبعيضي سياستونو پر خلاف ولاړ دي او په نړيوال اقتصاد کي د نوي او عادلانه نظم غوښتونکي دي.

**۴ – د پانګوالۍ سره په اقتصادي سيالۍ کي، د برياليتوب اصلي شرط د علم او ټکنالوجۍ پراختيا او په ملي اقتصاد کي د هغه څخه ګټه اخيستنه ده. و . ا . لنين ويلي وه: «بريا به د هغه چا وي، چي تر ټولو ښه تخنيک، نظم، ډسپلين او ښه ماشينونه ولري.» «د علم او ټکنالوجۍ ډيره پراختيا دا مهال، د سوسياليزم او پانګوالۍ ترمنځ، د تاريخي سيالۍ اصلي برخه او د سوسياليستي ټولني د ودي اړين شرط دی.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ – په سوسیالیستي هیوادونو کي د علم او تکنالوجۍ لاسته راوړني د صنایعو په ډیرو څانگو، کرنیزو برخو او د تولید په برخه کي د کادرونو پر بنسټونو ولاړ دي. (باید ووایو، چي د نړۍ دریمه برخه علمي کارکونکي د سوسیالیستي هیوادونو غړي دي.)

٦ – سوسیالیزم د ټولني د ټولو غړو، د هوسایني زیاتېدونکې زمینه برابروي. په سوسیالیستي هیوادونو کي، د کاري مزد د ورکولو پر مهال، بیکاري، استثمار، کړکېچونه، نژادي تبعیضونه او نوري ستونزي نسته. د ټولني ملي عاید کال تر بل کال پوري وده کوي. سوسیالیستي هیوادونه د ښووني او روزني، روغتیایي چوپړونو او نورو برخو کي تر پرمختللو پانگوالي هیوادونو مخکي دي.

٧ – له پانگوالۍ سره، د سوسیالیزم په اقتصادي سیالۍ کي، په پانگوالي هیوادونو کي د زیار ایستونکو د ژوند د ښه والي او سوسیالیستي بنسټونو پیاوړي کولو کي انقلابي اغېزه لري. له دې سره – سره، چي د پانگوالۍ دفاع کونکي هڅه کوي، د سوسیالیزم بنسټیز ښه والی پټ کړي او لاسته راوړني یې ور بدنامه کړي، خو خپله په پانگوالي هیوادونو کي د سوسیالیزم لپاره مبارزه د ودي په حال کي ده. دا مهال، د زیار ایستونکو اقتصادي او ټولنیز ایډیالونه، نه د تصور له مخي، بلکې په سوسیالیستي هیوادونو کي د عیني واقعیتونو له مخي شکل اخلي.

٨ – سوسیالیستي هیوادونه، د نړۍ د ولسونو لپاره، د دې بیلگه جوړه کړې ده، چي څه ډول وکولای سي په لنډ وخت کي، یو وروسته پاته کرنیز هیواد په لوی صنعتي هیواد بدل کړي. د و . ا . لنین دا وړاندوینه، چي ویلي یې وه «بریالی سوسیالیزم، په نړیوالو پیښو کي خپل عمده اغېزه، د سوسیالیستي ټولني د ښې پراختیا او تر هر څه وړاندي د خپلي اقتصادي پالیسۍ په واسطه ښیي» رښتیا کیږي.

٩ – ستونزمنه وه، چي په دې لنډ کتاب کي دي، د سوسیالیزم د سیاسي اقتصاد اړوند ټولو پوښتنو ته ځواب ورکول سي. شاید د لوستونکو سره نوري پوښتني هم وي، چي موږ ته په لیک استولو سره یې ځواب ورکولو ته چمتو یو.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب له متن څخه:**

**یوازي سوسیالیزم کولای سي د تولیداتو چټکه او سیده وده را منځته کړي، د زیار ایستونکو ورځ تر بلي زیاتیدونکي مادي او فرهنګي اړتیاوي ورپوره کړي او بشریت د هغو بې حسابه رنځونو څخه، چي پانګوالۍ ور په برخه کړي دي؛ وساتي.**



Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library